خوب وینم!

خوب وینم چې په هیواد مې یوه توره وریځ خپره شوې وي. هر ځای کې ګردجن مخونه او خیرنې جامې نارینه داسې ګرځي لکه لار چې ترینه ورکه شوې وي. له حال او ماضي څخه ناخبره روان یم چې یو ماشوم د لارې څنګ ته ناستو خلکو ته وایي چې دا هفته زمونږ د ځای خوند نشته خو په جلال آباد کې لوی پروګرام دی. له ځان سره فکر کوم چې په دومره غم کې د خوشالۍ پروګرام څنګه کیدای شي؟

په همدې فکرو کې ډوب روان یم چې د یو وران تعمیر چې تور بیرغ پرې رپیږي او لکه ښوونځی غوندې ښکاري مخې ته ورسیږم. تعمیر ته ورننوځم. دننه یو کس لګیا وي وړو ماشومانو ته د جنت د شرابو، شاتو او حورو قیصې کوي. ورته وایي چې جنت ته تر ټولو نژدې لاره د شهادت ده. دوی ته د معوذ او معاذ قیصې کوي چې څنګه واړه ماشومان هم کولای شي جهاد وکړي. بل ټولګی ته چې ور وګورم نو یو بل کس چې توره لونګۍ او اوږده ږیره لري، ماشومانو ته د غسل په اړه خبرې کوي. دریم ټولګي کې یو بل همداسې کس ماشومانو ته عربي ورزده کوي.

ددې ټولګې ښوونکي ته ورشم او پوښتنه ترینه وکړم چې معلم صیب دوی ته حساب، ساینس او پښتو نه ورزده کوئ؟ معلم صیب راته ووایي چې توبه وباسه مونږ په دغسې شیطاني شیانو وخت نه ضایع کوو. دوه ورځې دنیا ده او زمونږ هدف د ماشومانو هغې دنیا ته تیارول دي. زه عربي ورزده کوم. ځکه د قران، د پیغمبر او د جنت ژبه عربي ده. او همدا ژبه ورته تر ساینس او حسابه ګټوره ده.

د دې خبرو اوریدو سره داسې احساس وکړم چې ټولنه مو ۱۴۰۰ کاله شاته تللې وي او په خلکو مو یوه تیاره وریځ خوره شوې وي. داسې فکر کوم چې مونږ خپل ماشومان د ژوند لپاره نه بلکې د قرباني لپاره لویو. په همدې فکرو کې له ښوونځي ووځم او د نامعلوم هدف په لور قدم وهم. په لاره کې د اذانو اواز اورم او همداسې روان یم. لږ وړاندې یو څو کسه یو سپین ږیري ته سخت غصه وي. غالباً په ازبکي ژبه کې ورته څه وایي. سپین ږیری ورته په پښتو کې وایي چې اوس روان یم خو دوی بیا هم ورته غصه وي او په لغتو او سوکانو یې وهي. سپین ږیری د جومات په لور ترینه منډه کړي. پښه یې د جومات په دروازه کې بنده شي. وغورځیږي او له سره یې وینې روانې شي. دا کسان هم ورپسې ورشي او هلته یې هم په وهلو شروع وکړي.

حیران شم چې دا په مونږ څه شوي؟ دا مونږ نه ولې داسې وحشیان جوړ شوي چې خلک مو په یو زخمي سپین ږیري هم رحم نه کوي؟ څه شي مونږ نه داسې وحشیان جوړ کړي؟ هر څه غواړم چې ورشم او له سپین ږیري سره مرسته وکړم خو لاس او پښې مې هغې خوا ته نشي تلای.

په سوچو او پوښتنو کې ډوب لدې ځایه روان شم. لږ وړاندې مې د خلکو شورماشور تر غوږه شي. قدمونه مې چټک کړم تر څو د پیښې ځای ته ژر ورسیږم. هلته چې ورسیږم نو ګورم چې د سلګونو نرانو په مینځ کې یوه ښځه لوڅ سر ناسته وي. په غیږ کې یې یو وړوکی ماشوم وي او دواړه په چیغو ژاړي. تر څنګ یې مسلح کسانو چې اوږدې ږیرې، اوږدې جامې او پټکي یې په سر وي یو د پوخ عمر سړی او یو ځوان

Download from: aghalibrary.com

هلک چې زوی یې ښکاري په زنجیرو تړلي وي. د دوی په سر او ځان وینې رواني وي. څو مسلح ځوانان چې پخپلو کې اردو وایي لدې صحنې څخه دوه انجونې ځان سره موټر ته کشکاږي خو هغوی ژاړي او د دغې ښځې خواته زور کوي. یو مسلح کس له لښتې سره دې انجونو ته ورشي. یو څو لښتې یې ووهي او په پښتو کې ورته ووایي چې د کافر بچیانو پورته شئ موټر ته. دوی موټر کې په زور کښینوي او موټر روان شي. دا کس بیرته راشي او دې ښځې ته لښته ونیسي. یو څو لښتې یې ووهي او بیا ورته کنځا شروع کړي. اخر کې ورته وایي ستاسو د کفارو په وجه په مونږ هم خدایي عذابونه راځي.

شاوخوا یې خلک ولاړ وي او سیل یې کوي. یو کس ته ورنژدې شم او ددې حالت پوښتنه ترینه وکړم. هغه راته ووایي چې دې کورنۍ غوښتل چې دارحرب ته وتښتي. قاضي صیب امر کړی چې نارینه دې یې ووژل شي او ښځې دې یې مجاهدینو ته ورکړل شي. یو دم شوک شم او هغه کس ته ووایم چې دا خو کابل دی دا څه وایې؟ هغه کس وډار شي فکر کوم ځان سره به یې ویلي وي چې زه ترینه خبرې ویستل غواړم. ما ته ووایي چې ځه ښه خبر یې خو هسې ما زوروې. پدې کې رانه روان شي.

زه په فکر کې ډوب شم چې دا په خلکو څه شوي؟ دا په مونږ کوم حالت راغلی. یو پښتون څنګه یو پنجابي ته په خوشالۍ له خپل ناموسه هم تیریږي؟ دا مسلح کسان څوک دي چې هر چیرته په عام محضر کې خلکو ته سزاګانې ورکوي؟ هغه ازبک او پنجابي مسلح کسان په کابل کې څه کوي؟ جلال آباد کې څه قیصه ده؟ هغه سپین ږیری یې ولې وهه؟ دارحرب کوم ځای دی؟...

د دې صحنې نور د لیدلو توان ونلرم او ترینه روان شم. همداسې روان یم چې یو دوکان ته ورسیږم چې خلک یې مخې ته ولاړ وي او پدې بحث کوي چې مسواک څنګه د غاښو لپاره تر برسه ډیر ګټور دی. دوی لا په بحث لګیا وي چې څو مسلح کسان دوکان ته راشي او له دوکانداره تازه میوه واخلي. دوی چې بیرته روان شي نو دوکاندار یو له دغو بحث کوونکو ته وایي چې دغه خلک په قیمت هیڅ بحث ورسره نه کوي او څومره پیسې چې ترینه وغواړي ورکوي یې. او ایله یې له همدوی نه د نن د ټولې ورځې مزدوري وګټله. دغه کس دوکاندار نه پوښتنه وکړي چې آیا سودا دې پرې قیمته خرڅه کړه. دوکاندار ورته وایي چې هو تر نورو مې په دوی لږ قیمته خرڅه کړه ځکه دوی ډیرې پیسې لري. دې کس ته غصه ورشي او دوکاندار ته ووایي: ((ته زما خپل پښتون یې خو دا خلک تر تا ماته نژدې دي. تر تا څه چې ان تر خپل پلار او موره راته محترم دي ځکه دا عرب مجاهدین او د پیغمبر (ص) وطنداران دي. دوی ته خدای هر څه ورکړي او په دوی د خدای خاصه مهرباني ده. تا چې په دوی قیمته شی خرڅ کړی نو ګناه دې وکړه.)) دې سره په دغو عربو مجاهدینو پسې غږ وکړي. هغوی چې راشي نو دا کس ورته ووایي چې دوکاندار په تاسې سودا قیمته خرڅه کړه. مسلح عربو ته غصه ورشي دوکاندار د کلاشنکوف یو څو کنداغه ووهي. بیا دغه ټول عرب یې دوکان ته ننوځي او د خپلې خوښې شیان ترینه راټول کړي. وروسته بیا شته ځایي خلکو ته چې د مسواک په اړه یې بحث کاوه، ووایي: غنیمت غنیمت غنیمت. لدې سره پاتې خلک هم ورننوځي او دوکان یې ورته چور کړي. هغه کس چې عربو ته یې د دوکاندار شیطاني کړې وي د دوکان د پیسو پوره دخل ځانته راواخلي. کله چې له دوکانه ووځي نو د دوکان مخې ته په وینو کې لت پت دوکاندار ته وایي چې بیشکه چې خدای عادل ذات دی. ته یې پخپله سزا ورسولې او ماته خدای د خپل محبوب له رویه د خپل صداقت بدل پدې دنیا هم راکړ او په هغې دنیا به یې هم راکوي.

Download from: aghalibrary.com

دې حالاتو ته په کتو زما نوره حوصله ختمه شي. زړه مې غواړي چې د دوی مشر ته ورشم او ورته ووايم چې تاسې څوک ياستئ او ولې مو په افغانستان کې په يو افغان ظلم وکړ. زړه مې وايي ورته ووايم چې دا خو سعودي نه دی چې په افغانانو هر ډول ظلمونه وکړئ. خو چې ور روان شم نو يو کس چې سپينه لونګۍ او سپينې جامې يې په تن وي مې له لاسه ونيسي او راته وايي چې دا غلطي ونکړې. زه دې ملګری يم ما سره راځه. له ده سره زړه نا زړه روان شم او دواړه يوې ټکسي ته وخیژو. تر څو چې زه لدې کس نه پوښتنه کوم چې ته څوک يې دغه کس په خوله لاس کيږدي او ماته د چوپ کيدو وايي. بيا موټروان ته وايي چې فلاني ځای ته ځه او دا راديو دې ولګوه. موټروان ورته ووايي چې سمه ده قاري صيب.

راديو کې يو ديني عالم د ښځو د حيض، قبرعذاب، استنجا، تهجد او نورو ديني مسايلو په اړه د خلکو پوښتنو ته ځوابونه ورکوي. موټروان او مونږ يې خبرو ته غوږ نيولی وي. د پوښتنو پروګرام خلاص شي او خبرونه شروع شي. په خبرو کې لمړی خبر د يو شمير کفارو د وژلو وي. دوهم خبر خراسان ته د يو زيات شمير مسلمانانو د ورتګ وي. دريم خبر د سعودي د حرمينو د خادم لخوا مجاهدينو ته د خرما او قرباني پسونو د مرستې وي. وروستی خبر په جلال آباد کې د پيښيدونکي پروګرام وي. خو مخکې لدې چې وروستی خبر واورو، زمونږ ځای راورسيږي او مونږ له موټره ښکته شو. يو کورته ننوځو او هلته په يوه کوټه کې کښينو. قاري صيب ماته مخ کړي او راته ووايي چې پوهيږم ډيرې پوښتنې دې په زړه دي. اوس به دې ټولو پوښتنو ته په خلاص زړه ځواب درکړم.

زه ورنه پوښتنه وکړم چې دا څه شوي؟ دولت څه شو؟ دا بهرنيان څوک دي؟ افغانستان خو داسې نه وو. هغه راته قيصه شروع کړي: ((افغان دولت ډير کمزروی شوی وو. فساد پکې اوج ته رسيدلی وو. تر دې چې يو زيات شمير پښتانه نااميده شول او د دولت د اصلاح په ځای لاړل له طالب، داعش او نورو تندلارو ډلو سره ودريدل او دغه ډلې يې قوي کړې. نتيجه دا شوه چې د پښتنو سيمو سقوط وکړ او د دغو ډلو لاس ته ولويدې. خو دوی ونشوای کړای چې د تاجيکو، ازبکو او هزاره ګانو سيمې هم لاندې کړي. ځکه دا مذهبي ډلې پخپلو کې هم سره په جنګ اخته وې.

دغه مهال سعودي هم غوښتل چې په سيمه کې د ايران د نفوذ د له مينځه وړلو لپاره له مختلفو ځايو سني جنګيالي راټول کړي او د شعيه په خلاف يې په يمن، سوريه او د منځني ختيځ په نورو ځايو کې وجنګوي. خو تر ډيره پدې کار کې ناکامه شو. ځکه مالداره سني عربو غوښتل چې ښه ژوند وکړي او خپله کورنۍ له جګړو لرې وساتي. او پاتې ډيری سني عجمو دولتو نه غوښتل چې اتباع دې يې له نورو مسلمانانو سره جګړه وکړي. کله چې سعودي په افغانستان کې د مذهبي ډلو له کامیابي څخه خبر شو نو يې د پاکستان په مرسته د دوی د کنټرولولو په اړه هلې ځلې شروع کړې. لمړی يې غوښتل چې دغه ټولې مذهبي ډلې سره يو ځای کړي او تر يوې قومندې لاندې يې راولي. ځکه يې نو د طالب، داعش او نورو مذهبي ډلو ترمينځ د منيځګړتوب لپاره يو شمير ستر عربي ديني عالمان راوليږل. هغوی د طالب، داعش او نورو ډلو مشران راوغوښتل او ورڅخه پوښتنه يې وکړه چې ټول اسلامي شريعت غواړئ؟ ټولو مشرانو ورته وويل چې هو. بيا يې ورته وويل چې جګړه مو په څه ده؟ دغو مشرانو ورته وويل چې مونږ د يو بل له مشر سره بيعت نه کوو. عربي ديني عالمانو ورنه بيا وپوښتل چې آيا په لويو ديني موضوعاتو کې ټول سره موافق ياستئ؟ دوی بيا ځواب ورکړ چې هو .

Download from: aghalibrary.com

بیا عرب دیني عالمانو ورته وویل چې آیا له یو داسې عالم سره بیعت کوئ چې شجره یې ان زمونږ او ستاسې پیغمبر (ص) ته رسیږي؟ دې خبرې اوریدو سره د طالبې او داعشي مشرانو زړونه نرم شول او سترګو کې اوښکې راغلې. بیا یې په ګډه ځواب ورکړ چې هو. عربې دیني عالمانو له مشورې وروسته په دوی د ابو عبدالرحمان الهاشمي په نوم یو عرب مشر وټاکه. دوی هم ټولو الهاشمي ته بیعت ورکړ.
وروسته له بیعته الهاشمي د طالبانو مشر ته مخ ورواړوه او ورته ویې ویل چې ته د نن نه وروسته ابومسلم خراساني یې. هاغه ابومسلم خراساني چې د اسلامي خلافت د قوت لپاره یې ان د خپل قوم ډیر خلک قربان کړل. بیا یې د داعش مشر ته مخ وراړوه او ورته ویې ویل چې د نن نه وروسته ته طارق بن زیاد یې. هغه طارق بن زیاد چې د اسلامي خلافت لپاره یې هسپانیه ونیوله. (یادونه: ابومسلم خراساني او طارق بن زیات دواړه عجم وو او د عربو د امپراتوریو لپاره یې ډیر ځایونه ونیول. خو وروسته بیا د همدغو عربې مشرانو پواسطه مجازات شول).

الهاشمي وروسته پخپل لمړي فرمان کې اعلان وکړي چې دده تر لاس لاندې سیمو ته باید نور افغانستان نه بلکې د خراسان اسلامي خلافت وویل شي. د دې فرمان په اوریدو په مجلس کې موجود پښتانه له خوشالۍ نه خپل احساسات کنټرول نشي کړای او مجلس د نعره تکبیر او الله اکبر چیغې ونیسي. د ډیرو له سترګو اوښکې بهیږي او یو بل ته د خراسان د جوړیدو مبارکي ورکوي. الهاشمي که څه هم د افغانانو په نظر آزاد وي خو د سعودي د دولت تر مستقیمې قومندې لاندې وي.

الهاشمي پدې کار افغانستان رسماً تجزیه کړي. د پښتنو په سیمو کې د اسلامي خلافت بیرغ پورته شي. یو زیات شمیر خلک چې نه غواړي د دوی تر سیمو ژوند وکړي په همدغه وخت کې ترینه شمال ته وتښتي چیرته چې لا هم د افغانستان د دولت په نوم یو دولت وي خو کنټرول یې د پښتنو په لاس کې نه وي. په عین حال کې یو زیات شمیر پښتانه چې غواړي د اسلامي خلافت لاس لاندې ژوند وکړي له شمال څخه جنوب ته وکوچیږي.

د الهاشمي لښکرې لمړئ حمله په کابل وکړي. سره لدې چې تر نیمایي زیات ځواکونه یې د دولت له نسبتاً منظمې اردو سره په جنګ کې له مینځه لاړ شي خو بیا هم کابل ونیسي ولې وړاندې تګ ونشي کړای. دا کار تاجیک، ازبک او هزاره سره یو ځای کړي ځکه دوی نه غواړي چې سیمې یې بیا لکه د ۹۰یمې لسیزې د وروستیو په شان د مذهبې افراطیانو پواسطه ونیول شي. دغه درې قومونه د افغانستان د پاتې دولت مکمل کنټرول په لاس کې واخلي او د افغانستان نوم په اریانا بدل کړي. پښتو له دولته مکمله وباسي. د آریانا مشران د سعودي له مشرانو سره خبرې وکړي او ډاډ ورکړي چې دوی به د سعودي په خلاف د ایران سره هیڅ ډول مرسته ونکړي او خراسان به هم د یو آزاد هیواد په حیث په رسمیت وپیژني خو که د خراسان لښکرې نور په دوی حمله ونکړي. دوی همدارنګه سعودي ته دا ډاډ هم ورکړي چې له شمال څخه به ټول پښتانه خراسان ته په زور لیږي تر څو د خراسان د ځواکونو صفونه ډک کړي. سعودي ورسره دا ومني. الهاشمي د آریانا دولت په رسمیت وپیژني او اعلان وکړي چې دوی به نور د آریانا دولت په ضد جهاد نه کوي .

Download from: aghalibrary.com

ددې تر څنګ سعودي پاکستان ته خپلې مرستې نورې هم زياتې کړي. او داډ ورکړي چې خراسان به هيڅکله هم د پاکستان د ګټو په ضد اقدام نه کوي او د خراسان اسلامي خلافت به له پاکستان سره په شريکه کنټرولوي. پاکستان هم وزيرستان او يو شمير نورې قبايلي سيمې چې د مذهبي افراطيانو نفوذ پکې ډير وي او پاکستاني دولت ته يې تل درد سر جوړ کړی وي، د خراسان اسلامي خلافت ته وروسپاري. د دې تر څنګ اعلان وکړي چې د پاکستان پښتانه کولای شي خراسان ته کډه وکړي او يا هم د خراسان په لښکرو کې شامل شي .

الهاشمي پخپل بل فرمان کې د ټولې نړۍ له مسلمانانو بالخصوص مجاهدينو وغواړي چې خراسان ته راشي او د خراسان د اسلامي خلافت لاندې ژوند وکړي. د الهاشمي د فرمان په اساس هر مسلمان چې ده ته بيعت ورکړي نو د خراسان د اسلامي خلافت رسمي تبعه دی او د همدې هيواد اسناد ورکول کيږي. ددې اعلان په اوريدو هره مياشت لکونه عرب او عجم مسلمانان خراسان ته کډه وکړي. مالداره عربي هيوادونه خپل ټول د جهادو شوقيان له بندو خوشې کړي او خراسان ته يې راوليږي. تر دې چې په يو شمير ښارو کې د پښتنو په نسبت د نورو نفوس ډير شي او د خلافت ډيری چوکۍ د دوی لاس ته وغورځيږي. پښتانه يوازې د ټيټې سطحې عسکر شي)).

قاري صيب چې دا خبرې راته کوي نو له سترګو يې اوښکې روانې وي. راته ووايي: ((پښتانه پخپل هيواد کې د نورو چوکيداري کوي. خو ماته پدې ډير افسوس راځي چې دوی په همدې چوکيدارۍ کې خوشاله دي او همدا ښه ژوند ګڼي. نور د پښتون قوم پدې نړۍ کې لږ وخت پاتې دی. هغه کم شمير پښتانه چې د الهاشمي له خبرو سره موافق نه وي نو هره جمعه په عام محضر کې ډلې ډلې وژل.

څو وخته مخکې يوه ډله پښتانه د ننګرهار په يوه ولسوالۍ کې د الهاشمي په ضد راپورته شول. له شاوخوا نورو سيمو هم خلک مرستې ته ورغلل او د ننګرهار څو ولسوالۍ يې ونيولې. د دوی شمير نژدې اتو زرو تنو ته رسيده. د دوی د ځپلو لپاره الهاشمي د پښتنو په ځای د بهرنيو مجاهدينو يوه لس زره کسيزه ډله چې له چيچن، ازبک او عربو څخه جوړه شوې وه، ورولیږله. الهاشمي د دې ډلې مشر ته وويل چې د اسلامي خلافت سره د دښمنې په نتيجه کې له دې او شاوخوا ولسواليو سره بايد هماغسې عمل وشي لکه څنګه چې زمونږ خوږ پيغمبر محمد (ص) د بنو قريضه له قبيلې سره کړی وو. دوی د اسلامي خلافت په ضد راپورته شوي او بايد رحم پرې ونشی. له بلې خوا يې له پاکستان څخه وغوښتل چې بمباري پرې وکړي. د پاکستان د ړندې بمبارۍ او د الهاشمي د دې ځانګړې ډلې مجاهدينو د حملو په نتيجه کې زرګونه عام خلک ووژل شول. وروسته له درې ورځو مقاومته نژدې ۷۰۰۰ پاڅونوال هم ووژل شول او پاتې له مجبوريته تسليم شول. اوس د مجاهدينو د دغې ډلې مشر غواړي چې دا هغو کم شمير پښتنو ته چې د پاڅون خوبونه وينې يو درس شي څکه نو غواړي چې دا هفته په جلال آباد کې شاوخوا ۱۰۰۰ کسه ژوندي نيول شي پاڅون کوونکي او د دوی د کورنۍ نارينه غړي په شمول د تې خورو ماشومانو او سپين ږيرو په عام محضر کې په ډليزه توګه ووژني. د دوی مال يې وخته غنيمت کړی او د کورو ښځې يې دغو بهرنيو مجاهدينو پخپلو مينځو کې ويشلې. الهاشمي دوی ته هماغسې سزا ورکړه لکه د يهودو بنو قريضه قبيلې ته چې مسلمانانو سزا ورکړې وه.

Download from: aghalibrary.com

د خراسان په شمال کې د تاجکانو، ازبکانو او هزاره ګانو آریانا په تیزۍ سره پرمختګ کوي. خلک یې په آزاده فضا کې ژوند کوي او له تولې نړۍ سره ډیپلوماتیکي اړیکي لري. ښوونځي او پوهنتونونه لري. روغتونونه او لوبغاړي لري. خو په خراسان تورې وریځې په تیزۍ خپرېږي. د پښتنو کنټرول پکې ورو ورو له مینځه ځي. د خراسان رسمي ژبه عربي شي. هغه لږ پښتانه چې د هیواد احساس لري او پښتنو ته په امت لمړیتوب ورکوي، د الهاشمي د بهرنیو مجاهدینو پواسطه وژل کیږي خو ډیری پښتانه چې د جنت نشي بي حسه کړي او د امت هر څه ته پخپلو پښتنو لمړیتوب ورکوی، هغوی په شته حالت خوشاله دي. دا ډله خلک پښتانه خوش قسمته ګڼي چې د اسلامي خلافت لاندې ژوند یې نصیب شوی.

په لمړیو وختو کې به چې کله بهرني مسلمانان خراسان ته راتلل نو یو زیات شمیر پښتانه به د دوی د ښه راغلاست لپاره سړکو ته وتل. هماغسې چې د مدیني خلکو د مکې خلکو ته ښه راغلاست ویلي. ځینو دیني عالمانو ان ورته د طلع البدرو علینا عربي ترانې هم ویلې. ځینو چې دوه یا ډیرې ښځې درلودې نو یوه به یې ځانته پریښوده او نورې به یې طلاق کړې تر څو نوي مجرد راغلي مسلمانان یې ځانته نکاح کړي.

له آریانا او پاکستان سره د خراسان تړون دا هم وایي چې که غیر پښتانه وغواړي خراسان پریږدي نو اجازه به لري خو که کوم پښتون غواړي له خراسان څخه پاکستان یا اریانا ته وتښتي نو هغه دولتونه به یې نیسي او د خراسان ځواکونو ته به یې تسلیموي. چې هغوی یې بیا نارینه وژني او ښځې یې د وینځو په ډول له ځان سره ساتي. پاکستان د همدې تړون نه په ګټه اخیستلو ډیر هغه ملتپاله پښتانه چې په پاکستان کې د خراسان په ضد غږ پورته کوي او یا هم له پاکستاني دولته خپل حقوق غواړي، د الهاشمي ځواکونو ته د خراساني پښتون په نوم تسلیموي.

په خراسان کې اوس یو زیات شمیر پښتني انجوني او ښځې د عربو، چیچن، ازبکو، پنجابیانو او نورو بهرنیانو سره وینځې دي. همدارنګه د خراسان په اسلامي خلافت کې هم لکه د عثماني خلافت په شان په هر ښار کې د وینځو بازارونه جوړ شوي او د خراسان له شمال، جنوب، ختیځ او لویدیځ نه پکې نیول شوې پښتنې خرڅیږي. ځینې مالداره مذهبي عربان چې نه غواړي لکه د نورو مالداره عربو په شان په غرب کې حرامه عیاشي وکړي، خراسان ته راځي. ځکه دلته کولای شي چې پرته له کومې ګناه له پښتنو وینځو سره په حلال ډول خپل ساعت تیر کړي. ډیری پښتنو ته دا کار ځکه بد نه ښکاري چې په دین کې یې د وینځو ساتل روا دي. ځینې پښتانه پخپله هم دا کاروبار کوي. د خراسان له لرې پرتو سیمو خپلې پښتنې وینځې اخلي او بیا یې په بهرنیانو خرڅوي. نن د پښتون لپاره ښه او بد د ده عقیده ټاکي نه دده مړ وجدان.

پښتانه ځوانان چې یو وخت کې یې په نړیوالو لوبو کې ګډون کاوه نن یې ډیری د سعودي جهادو ته پخپله خوښه منډې وهي خو هغه کم شمیر خلک چې زړه یې نه وي هم له مجبوریته ځي ځکه پرته له جهاده نور دومره کار نشته. سعودي اوس د جنګ لپاره میلونونه پښتانه ځوانان پخپل خدمت کې لري. او له ایران سره پرې سل کاله هم جنګ کولای شي. هغه هم داسې چې خپل یو تبعه به یې هم له مینځه نه ځي. الهاشمي په هر ښار او ولسوالۍ کې د جهاد لپاره د خلکو د جذب او چندو ټولولو مرکزونه جوړ کړي. د دې تر څنګ

Download from: aghalibrary.com

امامانو ته ویل شوي چې د هرې جمعې په خطبه کې خلک جهاد او له دغو مرکزو سره د مرستې کولو لپاره وهڅوي. دوی ته د اصحابانو د جهادو او خیراتو قیصې وکړي.))

قاري صیب دا خبرې راته کوي چې یو وخت خپل ساعت ته وګوري. بیا راته ووایي چې هغه باید یو ځل خپل کار ته لاړ شي. له کوره راووځو او په یو ټکسي کې کښېنو. په لاره کې راته ووایي چې دی هم د یو جلب او جذب د مرکز مسؤل دی. څو دقیقې وروسته د عیدګاه جومات مخې ته ورسېږو. زرګونه پښتانه ځوانان چې د تقریباً ټولو یې لونګۍ په سر وي د عیدګاه جومات نه دباندې په قطارو کې ولاړ وي. په هر ځای کې شعارونه لیکل شوي وي. ((ستاسو حورې ستاسې انتظار کوي))، (( ستا ملګري په جنت کې مزې کوي او ته دلته په دې فاني دنیا کې د یو بندي په حیث ژوند تیروی))، ((جنت ته د تلو تر ټولو لنډه لاره شهادت ده))، ((تر یوې دنیایي ښځې د جنت ۷۲ حورې ډېرې ښې دي))، ((شهید له ځانه سره خپله ټوله کورنۍ جنت ته بیایي))، ((شهید تل ژوندی وي))...

دا جهاد ته د نوم لیکلو او چندې ټولولو مرکز وي. دې مرکز ته زرګونه پښتانه ځوانان په قطارو کې ولاړ وي. هر ځوان چې د جهاد لپاره خپل نوم ولیکي نو په مخ یې د خوشالي آثار له ورایه ښکاري. دوی داسې احساسوي چې جنت ته د تګ سند یې واخیست. د دې مرکز نه بهر ځیني زړې او ځوانې ښځې او زاړه سړي له کوچنیو ماشومانو سره ولاړ وي تر څو خپل زامن جهاد ته له تګه منع کړي او یا ورسره مخه ښه وکړي.

له قطارو لرې یو پښتون ځوان خپلې مور ته په غصه شي او ورته وایي که مې مور نه وای نو وژلې به مې وې ځکه ته ما له جهاد او شهادته منع کوې. زړه مور یې ورته ووایي چې ته مې همدا یو زوی یې، ته مې هم چې یوازې پرېږدې نو زه د چا لپاره ژوند وکړم؟ زوی یې ورته وایي چې که غواړې له ما سره ووینې نو ته هم د ښځو مرکز ته لاړه شه او استشهادي وکړه چې جنت کې دواړه سره ووینو. زړه مور یې ورته ووایي چې زه یوه مور یم او نشم کولای د نورو زامن ووژنم. زوی ته یې نوره هم غصه ورشي او ورته ووایي چې ستا ایمان کمزوری دی. ویرېږم چې ستا د کمزوري ایمان له لاسه به خدای له ما نه هم خفه شي.زوی یې لاحول ولا قوه ووایي او ترینه روان شي. مور یې له شا نه ورپسې په چیغو ژاړي خو دی هیڅ مخ وروانه ړوي.

کله چې په قطار کې ودرېږي نو د جلب او جذب د مرکز یو دیني عالم چې د ده او د مور خبرې یې اوریدلې وي، ورته راشي او ورته ووایي: ((ځوانه! زه په تا ویاړم. اسلام تاسې غوندې ځوانانو چې جهاد ورته تر خپلې موره هم ګران دی، ژوندی ساتلی. تر څو چې تاسې غوندې ځوانان وي نو انشاالله چې جهاد به هم تر قیامته دوام کوي او د ډیرو مسلمانانو د شهادت ارمان به پوره کیږي. نن که ستا مور ته له جهاده منع کړی وای نو قسم مې دې په پاک رب وي چې ته او ستا د مور ځای د جهنم اور وو. خو اوس دې درته مبارک وي ځکه تا جنت وګټلو. ستا مور چې د جهاد مخالفه ده به لکه د ابراهیم خلیل الله د پلار غوندې د لړم په شکل کې دوزخ ته ځي.))

بیا دا ځوان په ملا وتپوي او ترینه روان شي. ځوان له ځان سره موسکی شي او له ځان سره ورو ورو د الله اکبر په ویلو شروع وکړي. دغه دیني عالم بیا یو څو مسلح کسانو ته ورشي او ورته وو‌ايي چې ددې ځوان مور لدې ځایه بوځي او ځان ترینه خلاص کړي ځکه د نورو ځوانانو په مورال منفي اثر غورځوي. مسلح کسان دا زړه بنځه له ځانه سره کش کړي او یو وران کور ته یې بوځي. وروسته له وران کور نه د ټوپک د ډزو اواز راشي او د زوی له خولې یې په زوره د الله اکبر چیغه پورته شي.

یو بل پښتون مخکې له نوم لیکلو خپلو دواړو ښځو ته چې تور عربي نقابونه یې په تن وي، طلاق ورکړي او ورته وو‌ايي چې زه نور ستاسې مسولیت نه اخلم. زه خپل سر قربانوم او خپلو حورو ته ورځم. که تاسې ریښتیا هم ځانته جنت غواړئ لاړې شئ یا استشهادي وکړئ او یا هم د مجاهدینو خدمت وکړئ چې جنت مو ګرنټي شي. د دې خبرې اوریدو سره یې یوه ښځه دغه کس ته وو‌ايي: ((ای ابوحمزه! قسم مې دې په هغه ذات وي چې زما روح یې په لاس کې دی، که نن تا مونږ ته طلاق نه وای راکړی نو د قیامت په ورځ به زمونږ لاس او ستا ګریوان وو. نن مونږ له تا نه آزادې شولو او کولای شو پخپله خوښه د اسلام لپاره قرباني ورکړو. مونږ له تا سره وعده کوو چې همدا اوس د ښځو د جلب او جذب مرکز ته ځو او هلته چې په هره برخه کې ضرورت وي مونږ به ورسره مرسته وکړو.))

دا خبرې وکړي او دواړه ښځې د ښځو د جلب او جذب د مرکز په لور روانې شي. یو بل مولوي چې د دوی دا خبرې واوري نو ابو حمزه ته راشي او ورته وو‌ايي: ((مبارک دې شه ابوحمزه. ستاسې غوندې غیرتي پښتنو په وجه په جنت کې تر هر بل قومه اوس پښتانه ډیر دي. د پښتنو د دا څو لسیزو قربانیو په وجه اوس په جنت کې تر عربو هم پښتانه ډیر دي. دا زمونږ او ستاسې لپاره د ویاړ ځای دی چې د امت مسلمه متې یاستو. هر ځای کې چې جهاد وي هلته خامخا غیرتي پښتانه مجاهدین وي. دښمن چې کله د غیرتي پښتون نوم واوري نو لړزه پرې راشي ځکه پښتانه مجاهدین سر ورکوي خو سنګر نه ورکوي. همدا ستا غوندې پښتانه دي چې په دې نړۍ کې یې د جهاد سنګرونه او په هغې نړۍ کې یې دحورو بسترونه ګرم ساتلي)).

بیا ورته وو‌ايي: ((د سعودي یو ډیر لوی عالم خوب لیدلی وو چې خوږ پیغمبر حضرت محمد (ص) ورته وو‌ايي چې په جنت کې د حورو په پښتنو مجاهدینو جنګ وي . پښتون مجاهد چې شهید شي نو هره حوره وايي چې دا زما دی. که څه هم دا څو کاله تر هر چا ډیر پښتانه شهیدان ورغلي خو د حورو سترګې لا مړې نه دي. لا هم نورې حورې ځانته پښتانه سړي غواړي.)) بیا ورته وو‌ايي: (( تا ښه وکړل چې دا ښځې دې طلاق کړې. که یو ځل د خپلو حورو ښایست ووینې نو دې ښځو ته به بیا وهم نه ګورې. حورې دومره ښایسته دي چې په غاړه کې به یې اوبه ښکاري. اویا جوړه جامې به یې اغوستې وي خو بیا به یې هم ترینه بدن ښکاري. کله چې ورته وګورې نو اویا زره کاله به همداسې ورته ګورې خو بیا به دې هم زړه د دوی په دیدار نه وي موړ.))

ابوحمزه دا خبرې اوري او په زړه کې خوشالیږي. مولوي صیب بیا ورته وو‌ايي چې ځه ولاړ شه چې په قطار کې ودریږه چې ژر دې نوبت راورسیږي.

يو بل پښتون ځوان چې کله له خپلې ښځې نه رخصت اخلي نو ورته وايي چې زما زامن چې لږ غټ شي نو بايد لکه د معوذ او معاذ په شان په جهاد کې شهيدان شي. ښځه يې بله چاره نلري او له مجبوريته يې ورسره ومني. ځوان د قطار خواته روان شي. شاته ورپسې ماشومان په ژړا شي. د ښځې سترګې يې هم له اوښکو ډکې شي خو ځوان د جنت په فکرو کې ډوب هيڅ شاته ونه ګوري او په قطار کې ودرېږي. مولوي صيب چې ابو حمزه قطار ته وليږي نو دې ځوان ته راشي او ورته وايي چې سبحان الله ته يو عظيم پلار يې چې خپل اولاد او ميرمنې ته له اوس نه جنت کې ځای نيسې. بيا ورته وايي ته غم مه کوه زه ستا معلومات ځان سره ساتم او کله دې چې ماشومان لږ لوی شي بيا ورپسې پخپله ورځم چې جهاد ته يې درته تيار کړم.

دا ځوان مولوي صيب ته حيران وګوري او ورته وايي چې زما زامن خو لا درې کلن او پنځه کلن دي. دوی خو اته يا لس کاله وروسته جهاد ته تيارېږي آيا ته دومره وخت پدې دنيا کې تيروې؟ ته جهاد ته نه ځې؟ خپل جنت او خپلو حورو ته نه ورځې؟ مولوي صيب وارخطا شي. بل ځواب ورسره نه وي نو ورته وايي چې ماته لا د خدای حکم نه دی شوی کله چې هغه وشي بيا به زه هم لاړ شم. همدا خبره وکړي او ترينه روان شي. ځوان هم بيرته د خپل جنت په فکرو کې ډوب شي.

لږ وړاندې يو بل کس چې داسې ښکاري د کور ټوله کډه يې رابار کړې وي، د چندې ورکولو د غرفې مخې ته ولاړ وي، له يو سپين ږيری سړي او يوې ښځې سره بحث کوي. دوی سره ولاړ نيم درجن ماشومان ژاړي خو دوی د هغوی ژړا ته نه ګوري او پخپلو خبرو کې مصروف وي. دا ښځه دې کس ته وايي: ((ای اسامه! تا خو د کور هر څّه راوړه. دا سپين ږيری پلار دې، دا شپږ ماشومان دې او زه به څه کوم؟ څّه به خورو؟ په څه به څملو؟ په څه به پټيږو؟ ته هم رانه ځې او د کور ټول سامان او خواړه هم رانه وړې؟ دې کوچني اولاد او دې سپين ږيري پلار ته دې څه پريږده.))

اسامه ځواب ورکړي. (( زه تر حضرت ابوبکر صديق (رض) زيات نه يم. ما هم د کور ټول سامان لکه د حضرت ابوبکر صديق په شان د جهاد په چنده کې ورکړ او خپلو اولادو، پلار او تا ته مې په کور کې يوازې د خدای او د هغه د رسول (ص) مينه پريښې. که ايمان مو قوي وي نو د خدای او د هغه د رسول مينه درته تر دنيا او مافيها ډيره ده. تاسې تر اصحابانو بهتر نه ياستئ. که وږي شوئ نو په خيټو پورې مو تيګې وتړئ. نور خدای رازق دی چې بني اسرايلو ته يې له اسمانه من اوسلوا ورکړل تاسې هم وږي نه پريږدي.))

خو ښځه او سپين ږيری پلار يې ورته بيا هم زاری کوي. اسامه بيا پلار ته مخ ور واړوي او ورته وايي: ((تا هم ټول عمر هسې ضايع کړ. که جهاد دې کړی وو نو اوس به شهيد وې او له مور سره به مې په جنت کې وې. خو تا ته تر جنته خپل وطن ډير ګران دی. پکار خو دا وه چې تا مونږ ته ويلي چې د دنيا ژوند څه کوې خو څه ځان شهيد کړه چې سيده جنت ته لاړ شې. برعکس مونږ تا ته وايو چې جنت ته لاړ شه. پلار به داسې وي نو.)) پلار يې چې دا خبرې واورې نو سرټيټ کړي او ځان سره ورو وايي چې ريښتيا هم ما ستا سمه تربيه نه ده کړې. که مې کړې وای نو نن به دې د ځان او نورو وژلو ته دومره تلوار نه وو.

اسامه خپله خبره وکړي او د چندې ورکولو غرفې ته ورننوځي. هلته په دروازه کې ولاړ ديني عالم ورته وايي چې الله دې راوله اسامه. بيا ورته وايي: (( اولاد او ښځه ريښتيا هم فتنه ده. نن يې ته له دومره لوی نيک کار نه نژدې منع کړی وې. خو نن تا وښودله چې تا ته د خپل خدای او د هغه د رسول مينه تر اولاده او ښځې هم مهمه ده. پدې کار ستا جنت ګرنټي شو. ستاسې غوندې د ځوانانو دې سخا ان زمونږ ګران خليفه الهاشمي حيران کړی. هغه وايي چې پښتانه په دومره غربت کې بيا هم خپل هر څه لکه د اصحابانو د دين لپاره قربانوي. نن پښتون يوازينی قوم دی چې هو به هو د اصحابانو په نقش قدم روان دی. نو خدای به څنګه له پښتنو نه خوشالېږي؟ او نه به پرې مهربانېږي؟))

دې خبرو اوريدو سره د اسامه سترګې راډکې شي او دغه عالم ته وايي چې زه د اصحابانو د پښو خاورو ته هم نشم رسيدلای. هغوی زما د جنت ګټلو لپاره ډېر جهادونه کړي او ډېرې قربانياني يې ورکړي تر څو ما غوندې خلک هم د جنت لايق شي. مولوي صيب ورته په موافقت کې سر وښوروي او ورته وايي چې پدې نيت دې تا ته خدای خامخا جنت درکوي. څه اوس د جهاد لپاره نوم وليکه. اسامه د خپل کور ټول سامان تحويل کړي او بيا د جهاد لپاره د نوم ليکلو قطار کې ودرېږي. تر ده مخکې په قطار کې ولاړ کس له ځانه سره ورو ورو الله اکبر تکراروي. دی ورته وايي چې دا کلمه راباندې ښه لګېږي لږ يې په زوره زوره وايه چې زه يې هم واورم. هغه يې يو څو ځل په زوره زوره وايي. بيا ورته مخ راواړوي او ځان ورته معرفي کړي چې نوم مې ابو حمزه دی. دی هم ورته ځان ورو‌پيژني چې زما نوم هم اسامه دی. دواړه يو څو نورې خبرې وکړي او څو دقيقې وروسته ابوحمزه بيا د الله اکبر په ويلو شروع کړي. لږ وروسته دواړه د نوم ليکلو لپاره ننوځي.

له لږ انتظار وروسته قاري صيب بيرته راشي. په لاس کې يې کاغذونه وي او خفه غوندې معلومېږي. ماته غلی غوندې وايي چې دا هفته مو بيخي زيات پښتانه د جهاد لپاره راجستر کړل. بيا وايي چې يو ځل بايد د خويندو برخه هم وګوري چې هلته څّه حال دی. د ښځو د نوم ليکنې مرکز دې مرکز ته نژدې وي او دواړه پياده ور روان شو. په لاره کې روان يو چې قاري صيب ددې مرکز ليستونه راوښيي. ليستو ته چې وګورم نو حيران شم او قاري صيب ته وايم چې دا خو ټول عرب دي. قاري صيب راته وايي چې نه دا ټول پښتانه دي. الهاشمي ټولو امامانو ته فرمان ليږلی وو چې خلکو ته د عربي نومو د ثواب په اړه وايي او په نوم بدلولو کې ورسره مرسته وکړي. ځينو امامانو د الهاشمي فرمان کې دومره افراط وکړ چې ان پښتو او د نورو ژبو نومونه لرونکي يې ګمراه او دوزخيان وبلل ځکه نو د خراسان ډيری خلکو خپل نومونه عربي ته بدل کړل. د قاري صيب په وينا نن يوازې پښتو د ځينو کورنيو تر مينځ د خبرو ژبه پاتې شوې. د پښتنو کلتور تقريباً له مينځه تللی او د الهاشمي د فرمان په اساس ښځې يوازې تور عربي نقاب اغوستلای شي.

همدارنګه په خراسان کې لکونه پښتنې پيغلې يا غيرپښتنو ته نکاح شوي او يا هم ورسره د وينځو په حيث ژوند تيروي. له خراسانه دباندې لسګونه زره پښتنې په عربو، پنجاب او نورو ځايو کې د مسلمانانو د خدمتګارو او وينځو په حيث ژوند تيروي. په په پښتنو کې د نرې هر نسل ګډ شوی. د پښتونولي ځای مذهبي افراط نيولی. حجره ورانه شوې او ټول اختيار له جومات سره دی.

په همدې خبرو کې یو چې د ښځو د جلب او جذب مرکز ته ورسیږو. د مرکز مخې ته سلګونه ښځې په تورو عربي نقابو کې ولاړې وي او د یو سور ګیری کس خبرو ته یې غوږ نیولی وي. په تور ماحول کې د ملا روښانه مخ او سره ږیره له لرې ښکاري. قاري صیب ما ته وایي چې دا کس مولوي یسیر حقاني نومیږي او په پښتنو دیني عالمانو کې همدا کس الهاشمي ته تر ټولو ډیر نژدې دی.

د قاري صیب له قوله الهاشمي په مولوي یسیر حقاني ډیر اعتبار کوي او اوس دواړه خپلوي هم سره لري ځکه حقاني څو ورځې مخکې خپله لس کلنه لور ۵۲ کلن الهاشمي ته په نکاح کې ورکړه. د دې تر څنګ یې په واده کې لس وینځې هم الهاشمي ته تحفه کړې. قاري صیب وایي د الهاشمي د ښځو او وینځو شمیر هیچا ته هم معلوم نه دی خو مولوي یسیر حقاني څلور ښځې او نژدې ۳۰ وینځې لري .
د حقاني ښځې د ښځو په مرکزو کې ګرځي او د هرې ښځې مخ ګوري. کومه یوه چې ډیره ښایسته وي هغه د الهاشمي خدمت ته بیایي. د قاري صیب په حواله د الهاشمي شنې سترګې او ژیړ ویښتان لرونکې پیغلې چې عمر یې له ۱۲ نه تر ۱۸ کلو پورې وي ډیرې خوښیږي. حقاني ورته هره میاشت څو دغسې انجونې پیدا کوي .

قاري صیب د مرکز دننه لاړ شي او زه دباندې د مولوي یسیر حقاني خبرو ته غوږ ونیسم. مولوي یسیر حقاني مرکز ته راغلیو ښځو ته په تقریر کې وایي: ((په دوزخ کې به تر نرانو ښځې ډیرې وي خو تاسې به دهغوی له جملې نه یاستئ. تاسې به د جنت د حورو سردارانې یاستئ. تاسې ته به ډول ډول میوې او خوراکونه وي. ستاسې په خدمت کې به غلمان به وي او چې څه مو زړه وغواړي هغه به کولای شئ.
ځکه نن تاسې د اسلام لپاره له خپل پلار، مور، میره او اولاد نه تیرې شوې یاستئ او د اعلا کلمت الله لپاره مو په جهاد کې د برخه اخیستو نیت کړی. خدای پاک به تاسې ته ددې په بدل کې خامخا جنت درکوي.))

د مولوي حقاني خبرو له اوریدو سره یوه جینۍ چې له اوازه د ډیر کم عمر ښکاري او په تندي یې په شنه ټوټه کلمه لیکلې وي، په جذباتي انداز په زوره نعره تکبیر ووایي. نورې ټولې ښځې ورپسې په لوړ اواز الله اکبر تکرار کړي. بیا نعره کړي چې زنده باد د خراسان اسلامي خلافت. ټولې ښځې ورپسې په لوړ آواز زنده باد ووایي. بیا نعره کړي چې مرګ په دیموکراسي. ټولې ښځې ورپسې ووایي مرګ. مولوي حقاني خپل تقریر ته ادامه ورکړي: ((تاسې خوش قسمته یاستئ چې پښتنې یاستئ ځکه پښتنانه یوازیني خلک دي چې ښځې او نر یې د اسلام لپاره کفن په غاړه ګرځي. پښتون ته تر کورنۍ، هیواد او ماله اسلام مهم دی. د اسلام لپاره پښتون میړه له خپلې ښځې تیر دی او پښتون زوی له خپلې موره. همدغسې پښتنې ښځې هم له خپلو نرانو کمې نه دي. د اسلام لپاره پښتنه ښځه له خپل میره تیره ده او پښتنه مور له خپل اولاده. دې مرکز ته په راتګ تاسې وښودله چې زمونږ ښځې هم د جهاد همغومره شوقیانې دي لکه څومره چې زمونږ نران دي.

ای پښتنو! تاسې ډیر خوش قسمته خلک یاستئ. په تاسې د خدای پاک خاصه مهرباني ده چې له دنیاوي شیطاني شیانو لرې د الهاشمي په اسلامي خلافت کې ژوند کوئ چیرته چې ستاسې ټوله توجه په هغې دنیا ده. دا به هم خدای پاک ستاسې کومې نیکۍ ته کتلي وي چې په هیواد کې یې درته اسلامي خلافت قایم کړ کنه اوس به مو لکه د نورو هیوادو د خلکو په شان په دنیاوي شیانو کې فکرونه بند وو او آخرت به درنه

پاتې وو. د خدای پاک لدې رحمه د نړۍ ډیری خلک محروم دي. که د الهاشمي خلافت نه وای نو اوس به مو لکه د کفارو په دموکراسي کې ژوند کاوه او جنت ته د تګ هیڅ چانس به مو نه درلود. د ټولې نړۍ خلک ستاسي په شان شرعي نظام غواړي خو مشران يې ورته نه ورکوي. ځکه دغه مشران پوهيږي چې په شريعت کې يې تاوان دی. که شريعت قايم شي نو دوی به بيا د الهاشمي په شان ساده ژوند کوي او ساده ژوند کول د کفارو د وس خبره نه ده. کفار غواړي چې خوشاله ژوند وکړي ځکه دوی يوازې همدا دنيا لري او هغې دنيا کې به د جهنم په اور کې سوځي. مونږ او تاسي بايد ټوله توجه په هغې دنيا وکړو او پدې دنيا کې لکه د بنديانو په شان ژوند تير کړو. بايد هڅه وکړو چې ژر تر ژره لدې بنده ځان خلاص کړو او د ابدي ژوند په لور روان شو. خو ابدي ژوند ته د تګ يوازينی ګرنټي شوې لار شهادت دی. د کفري دموکراسي اوسيدونکي د شهادت په ارمان کې مړه کيږي خو تاسې چې هر وخت وغواړئ ځان شهيدولای شئ. نور نو له خدايه تر دې کوم لوی نعمت غواړئ؟))

بيا له راغليو ښځو پوښتنه وکړي چې آيا تر شهادته لوړ نعمت شته؟ ټولې ښځې ځواب ورکړي چې نه نشته. حقاني بيا ورته وايي: ((چې تر شهادته بل لوی نعمت نشته نو بيا ولې تاسي ځانونه نه شهيدانوئ؟ دا خو کبر دی چې تاسې ته خدای يو لوی نعمت درکوي او تاسې يې نه غواړئ. ځئ لاړې شئ جهاد ته نومونه وليکئ. که عمر مو تر څلويښتو ډير وي نو لاړې شئ استشهادي عمليات وکړئ. خو که عمر مو کم وي نو بيا په خلافت کې دننه د ميلمنو (بهرنيو) مجاهدينو خدمت وکړئ. که تاسې زما دا خبره ومنئ نو زه ستاسې جنت د لوی الله ج له دربار درته ګارنټي کوم.))

زه ځان سره فکر وکړم چې د مجاهدينو په خدمت کې شهادت له کومه شو؟ فکر مې کاوه چې له ښځو نه به اوس څوک له مولوي حقاني همدا پوښتنه وکړي. خو ټولې غلې وې. داسې ښکاريده چې دغو ښځو د مولوي حقاني هره خبره په پټو سترګو پرته لدې چې څه فکر پکې وکړي، منلې وي. زه په همدې فکرو کې يم او مولوي حقاني لګيا وي خپل تقرير کوي. د تقرير په يوه برخه کې تر څلويښتو کم عمر لرونکو ښځو ته وايي: ((مجاهدينو خپل هيواد، خپله کورنۍ، خپل ماشومان، خپل مال او خپل هر څه پريښي او ستاسې هيواد ته د جهاد لپاره راغلي ځکه نو تاسې بايد د مليمنو مجاهدينو خدمت ښه په وياړ وکړئ. د دوی خوشالي ستاسي جنت يقيني کوي.)) د دې خبرو په اوريدو بيا د نعره تکبير او الله اکبر، زنده باد د اسلامي خلافت او مرګ په دموکراسي نعرې شي .

وروسته دغه ښځې په دوه قطارو کې دوه غرفو ته د نوم ليکنو لپاره ودريږي. يو قطار کې ډيری تر ۴۰ لوړې او بلې کې ډيری تر ۴۰ د کم عمر ښځې ودريږي. په غرفو کې له نوم ليکلو وروسته تر ۴۰ پورته ښځې په بسونو کې کښيني او د نامعلوم ځای په لور لاړې شي. تر ۴۰ وړې يې درې يا څلور يا پنځه د بهرنيو مجاهدينو په موټرو کې کښيني او له همغوی سره ځي.

دا حالات چې ګورم نو د خراسان د اسلامي خلافت هر پښتون ديني عالم او مولوي راته د عربو دلال ښکاره شي. چې عربو ته د خپلو پښتنو ښځو دلالي د ثواب لپاره کوي. د هيرامنډۍ دلالان راته انسانان ښکاره شي ځکه د هغوی د دلالي په نتيجه کې هم ښځه او هم يې دلال يو څه مالي ګټه کوي، بل د هيرامنډۍ ښځې يو څه آزادي لري. که زړه يې وي پاتې کيږي، که نه وي نو پخپله مخه ځي. د قاري

صیب خبره ریښتیا هم د پښتون وجدان او غیرت مړ شوی. پښتونولي له مینځه تللې او ځای یې د عربو دلالي نیولی. همدې فکرو کې یم چې قاري صیب هم راشي او په لاس کې ورسره نورې پاڼې وي.

د قاري صیب په مخ خفګان له ورایه ښکاري. پوښتنه ترینه وکړم چې قاري صیب څه خبره ده؟

قاري صیب په لاس کې پاڼو ته چې جهاد ته د ښځو د نوم لیکلو له مرکز څخه یې راخیستي وي وګوري او یو سوړ اسویلی وباسي. بیا راته ووایي: ((تیره میاشت خراسان ته ډیر زیات بهرني مجاهدین راغلل ځکه دا هفته د ښځو تعداد هم چې د جهاد لپاره یې نوم لیکلی، لوړ شوی. الهاشمي ډیر چالاک دی. هغه غواړي چې بهرني مجاهدین ورته وفاداره پاتې شي ځکه نو کوښښ کوي چې په خراسان کې ورته هر سهولت مهیا کړي. د پښتنو د غولولو لپاره یې خلکو ته ویلي چې په خوب کې د اسلام پیغمبر ورته راغلی او ده ته یې ویلي چې د جنت هر ځای ته چې ځم نو پښتانه ځوانان له خپلو حورو سره لوبې کوي خو جنت کې پښتنې ښځې د دوی په نسبت ډیرې کمې دي. دا یې هم ورته ویلي چې که کوم نارینه د ځان تر څنګ د خپل کور ښځې هم جهاد ته ولیږي نو د قیامت په ورځ به له ده سره د عرش عظیم تر سیورې لاندې وي او تر ټولو لوړ جنت ته به ځي. بل یې ورته ویلي چې د خراسان په ځمکه ترینه مسافر مجاهدین خفه نشي.
الهاشمي بیا امامانو ته فرمان لیږلی چې دا خوب یې د جمعې په خطبو کې خلکو ته ووایي او پښتانه دې وهڅوي چې خپلې خویندې او لوڼې هم جهاد ته ولیږي.

د جوماتو امامانو هم د الهاشمي دا خوب په ډیر جوش او اسلامي جذبه تر عامو پښتنو رسولی. ځینو امامانو الهاشمي ته ان د صحابي درجه ورکړه او له خلکو یې وغوښتل چې هره خبره یې پرته له پوښتنې او فکره په پټو سترګو ومني کنه ګناهګاریږي. هماغه وو چې دا هفته د ښځو شمیر بیخي ډیر شوی.

ډیری دغه پښتنو به خپلې لوڼې یا خویندې ښوونځي ته نه وای پرېښې خو نن یې د ثواب لپاره د یو بهرني مجاهد د هوس د سړولو لپاره لیږي. دوی ښه پوهیږي چې لوڼې یا خویندې یې د کوم عربي یا پنجابي یا ازبک یا بل مسلمان سره شپې سبا کوي خو له نالیدلي دوزخه دومره ډاریږي چې دې کار کې ان ثواب ویني. که د همدې پښتنو خور یا لور له کوم پښتون سره مینه وکړي نو دواړه وژني خو دلته یې پخپله هڅوي چې لاړې شي او په اصطلاح جهاد وکړي. پښتون دیني نشې داسې بې خوده کړی چې د جنت لپاره له خپل ناموسه هم تیر دی. مونږ د لاهور په هیرامنډۍ پسې خندل چې یوازې د ښار په یوکونج کې وړوکی ځای دی. خو نن د پښتنو ښځې د نژدې هر اسلامي ملک د مسلمانانو تر تیرې لاندې دي خو پښتون بیا هم پکې خوشاله ګرځي.))

قاري صیب دا خبرې وکړي او چپ شي. د ښځو لدې مرکز سره یو څو کسه نارینه هم ولاړ وي. له قاري صیب نه پوښتنه وکړم چې دا څوک دي. هغه راته ووایي دا نارینه ددغو ښځو ورونه، پلاران او یا هم زامن دي. دوی خپلې د کور ښځې د جهاد ته تګ لپاره راوستلي. د قاري صیب په خبره دا هغه دوسان دي چې ښځې نه پریږدي په کوم کار پسې یوازې له کوره ووځي خو نن یې نامحرمو کسانو ته پخپله ورسپاري. قاري صیب ته ووایم چې غواړم له دوی سره یو څو خبرې وکړم.

دواړه د دغو نرانو خوا ته ورشو. له یو کس څخه چې شاوخوا د ۴۰ کلو ښکاري پوښتنه وکړم چې دلته څنګه راغلی یې؟

په افتخار راته وایي چې خپلې درېواړه لورګانې یې چې عمرونه یې ۱۰، ۱۳ او ۱۷ وو د الله ج د رضا لپاره جهاد ته ولیږلې. بیا یې سترګې راډکې شي او راته ووایې: ((ولې ته خبر نه یې؟ خلیفه الهاشمي ته زمونږ خوږ پیغمبر ص په خوب کې ورغلی او ورته ویلي یې دي چې لورګانې مو هم جهاد ته ولیږئ. زما د خوږ نبي نه دې زما ټوله کورنۍ قربان شي. دا خو درې لورګانې دي که ۳۰ لورګانې مې هم درلودای نو بیا به مې هم د خپل خوږ نبي لپاره قربانولې. ابراهیم علیه سلام چې د خدای د رضا لپاره د خپل زوی په غاړه چاړه کیښوده، زه خو له هغه نه زیات نه یم. ما ته مې له اولاد نه د خدای او د هغه د رسول خوشالي ډېره مهمه ده. اولاد خو فتنه ده او له نیکو کارو سړی منع کوي.))

ترینه وپوښتم چې فتنه ده نو ولې یې بیا راوړې. راته ووایې ((دا خو یې خدای راکوي تر څو امتحان رانه واخلي.)) بیا ورنه وپوښتم چې آیا دوی جنګ ته ځي. ځواب راکړي: (( تا وانه وریدل چې مولوي صیب یسیر حقاني څه وفرمایل. د مجاهدینو په خدمت کې هم لکه د جهاد غوندې ثواب دی. همدا خبره راته د جمعې په ورځ خپل د جومات امام هم کړې وه. دوی به د مجاهدینو په خدمت ځانته جنت ګټي او زه هم ځم له خپل ۱۵ کلن زوی سره د جهاد لپاره نوم لیکم. یوازې ښځه او درې کلن زوی مې پاتې کیږي چې هغه هم له خیره لږ لوی شي نو ښځه به مې هغه مدرسې ته تسلیم کړي او پخپله به جهاد ته لاړه شي. بیا به انشاالله ټول په جنت کې سره یو ځای شو. بس دی دنیا کې مو ډېر ژوند وکړ نو باید د آخرت غم وخورو. دا فاني دنیا په درد نه خوري. خدای پاک به رانه ددې دنیا د یوې یوې ورځې پوښتنه کوي، ځکه نو چې څومره ډېر وخت دلته تیر کړو همغومره دغو پوښتنو ته ځواب ورکول سختیږي.))

بیا ترینه پوښتنه وکړم چې لورګانې دې چیرته لاړې او څه ډول خدمت به کوي. ځواب راکړي: ((دواړه وړې په هغه موټر کې دي. زما په خیال عربي مجاهدین دي ځکه خو یې شکلونه داسې نوراني دي. او مشره لور مې هغه بل ګاډي کې د پنجابي مجاهدینو سره کښیناسته. خدای مې دې له ګناه وساتي ځکه ټول مسلمانان سره ورونه دي خو زما عرب مجاهدین د نورو په نسبت ډېر خوښیږي ځکه دوی زمونږ د خوږ پیغمبر ص د وطن خلک دي. کاشکې مې دا مشرۍ هم له هغوی سره تللې وای. خو څه په همدې کې به مو خیر وي. دوی له ما نورې خلاصې دي او خدای پاک ته مې سپارلې. بس دوه ورځې دنیا ده چې د دین او مجاهدینو په خدمت کې ژر ژر تیره شي. ابدي ژوند خو بیا هلته دی. زمونږ هدف هم باید هغه دنیا وي. که مې نن لورګانې د مجاهدینو خدمت ته ونه لیږم نو سبا خدای مه کړه که کوم هلک یې خوښ شو او له هغه سره وتښتي بیا به هغه شرم چیرته وړم؟))

حیران حیران ورته ګورم چې دا څه وایي؟ یو هلک سره پخپله خوښه ژوند تیرول شرم خو د مجاهدینو پوره ګروپ سره یې لیږل بیا ثواب؟ په ډېر افسوس مې له خولې نه مې ورته ووځي چې د دوی عمر خو د ښوونځي دي.

چې د ښوونځي نوم واوري نو په غصه شي. راته ووايي: ((دا ښه ده چې دا د فحشا مرکزونه الهاشمي له مينځه وړي. دومره بيغيرته نه يم چې خپلې لورګاني به مې ښوونځي ته ليږلې. خدای پاک مو پردې کړي چې مجاهدينو ان له شروع نه ښوونځي له مينځه يوړل. کنه اوس به مو په خلافت کې څومره فحشا وه.)) بيا په ږيره لاس راکش کړي او راته ووايي: ((اوس خو الحمد الله فحشا او بې حيايي نشته. ښځې او لورګاني مو پټې دي. له کوره بهر نه ووځي چې خلک ورته وګوري. که کوم شرعي عذر پسې بهر هم وځي نو له محرم سره او په شرعي نقاب کې داسې پټې وي چې څوک يې ګوته هم نشي ليدلای. په مونږ د خدای خاصه مهرباني ده ځکه داسې شرعي نظام به هيچرته هم پيدا نکړې.))

يو بل ځوان خپلې مور ته ددې لپاره غصه وي چې د جلب مرکز يې د عمر د زياتوالي په وجه نوم ونه ليکي او ورته ووايي چې بيرته کورته لاړه شي. دا ځوان خپلې مور ته وايي: (( که د دنيا ژوند خوند نه درکاوه نو څو کاله مخکې به دې نوم ليکلی وو. اوس خو اسلام ته ستا هيڅ ګټه نه رسيږي. زړه مې غواړي چې بمونه درپسې وتړم او د جهاد لمړۍ کرښې ته دې د خودکش حملې لپاره خپله بوځم چې خدای او د هغه رسول رانه راضي شي. خو د جهاد سنګر لرې دی او خلافت به اجازه رانکړي چې تا بوځم. تا خو خپل ژوند پدې دنيا کې ضايع کړ خو زما دې خدای اخره خاتمه تا غوندې نه کوي. ستا له لاسه خپلو همزولو او خپلوانو ته شرمنده شوم. زمونږ خوږ مشر الهاشمي تا ته د جنت ټګ برابر کړی وو خو تا دغه چانس له لاسه ورکړ. بس څوک چې د دنيا له ژونده خوند اخلي خدای به يې هغه دنيا همداسې خرابوي.)) ځوان دا خبرې وکړي او ترينه روان شي. له شا يې مور ورپسې ورو ورو روانه شي. ژاړي او ورته وايي: ((زويه ما خو تا ته خپل سر سپين کړ. ته مې لويولې. زما جنت خو ته وې. که زه جهاد ته تللې وای نو ته مې چاته پريښی وې)). همدا خبرې کوي چې هلته ولاړ يو بل کس ورته په غصه ووايي: ((کافرې! په خدای عقيده نلرې؟ خو خدای ته به دې پريښی وو. پيدا کړی خدای دی ساته هم خدای. ستاسې د خرابې عقيدې په وجه به د خدای قهر په مونږ هم راشي. ښه ده چې زما مور نه يې کنه ځان مې درباندې همدا اوس غازي کاوه)).

دا حالت مې ډير وځوروي. قاري صيب ته ووايم چې زه يې نور نشم کتلای. لدې ځايه بيرته د قاري صيب کور ته لاړ شو. هلته يو بل کس هم راغلی وي. قاري صيب يې راته معرفي کړي چې دا توريالی نوميږي او زما د سفر ملګری دی. پوښتنه ترينه وکړم چې د کوم سفر؟ راته ووايي دا اوږده قيصه ده بيا به يې درته وکړم. اوس بايد لاړ شو چې مولوي زرقاوي د ماښام ډوډۍ ته غوښتي يو. قاري صيب کاغذونه کور کې کيږدي. له لږ دمې وروسته درېواړه د مولوي زرقاوي د کور په لور روان شو. په لاره کې قاري صيب راته ووايي چې زرقاوي په ځواني کې د طالبانو يو لوی قومندان وو او پخپلو ملګرو کې په قصاب مشهور وو. ده يو تبر درلود چې لکه د حضرت علي د تورې په شان يې پرې ذولفقار نوم ايښی وو. زرقاوي هم پخپل ذولفقارلکه د حضرت علي په شان له سلګونو انسانانو سرونه پرې کړي.

کله چې د زرقاوي ميلمستون ته ورننوځو، قاري صيب ووينې او ورته ووايي الله دې راوله، له خپل ځايه راپاڅيږي او په غيږ ورسره ستړې مه شې وکړي. قاري صيب ورته ووايي چې دا مې ملګري دي. زرقاوي له ما او توريالي سره هم ستړې مه شې وکړي. ورو ورو نور ميلمانه هم راځي. د ميلمستون په يو

خوا دیوال باندې یو تبر راځوړند وي. داسې ښکاري چې وینې پرې وچې شوي او هیڅ مینځل شوی نه وي.

په مجلس کې مولوي زرقاوي د خپلې ځواني قیصه کوي چې څنګه یې یوه ورځ د هلمند په یوه سیمه کې د هغه وخت د افغانستان د ملي اردو یوه قرارګاه فتحه کړه او پکې ژوندي نیول شوي نژدې ۱۲۰ عسکر یې پخپل ذولفقار جهنم ته واستول. ناستو خلکو کې یو بل کس چې سپین پاچ یې په سر وي مولوي زرقاوي ته وایي: ((مولوي صیب ستاسې د دغې غزا قیصه مې څو کاله مخکې د یوه پنجابي مجاهد څخه واوریده. یو ډول د ویاړ احساس مې وکړ چې یو میلمه راته د یو پښتون دغیرت او میړانې قیصه کوله. هغه راته وویل چې پښتانه رېښتیا هم ډیر بهادر قوم دی او انشا الله چې اسلام به له خراسانه د همدې پښتنو پواسطه په ټوله دنیا کې خپریږي.))

مولوي زرقاوي ورته سر ښوروي بیا ورته وایي: ((په دغه جګړه کې راسره د پنجاب مجاهدین هم ډیر وو. د خدای شان ته ګوره یو مشر پنجابي مجاهد چې ډیر پوه او باتقوا ښکاریده په خوب کې کوم ولي الله لیدلی وو. هغه ولي ورته د دغې قرارګاه په اړه ټول معلومات ورکړي وو چې په دغه قرارګاه کې څو کسه دي، کومه وسله ورسره ده، کمزوري ځایونه یې کوم دي او څه ډول حمله باید پرې وشي. په سبا چې کله دغه مجاهد ماته خپل خوب بیاناوه نو له سترګو یې اوښکې روانې وې. د ده په اوښکو کې ماته د ده صداقت معلوم شو او زړه مې راته وویل چې پدې جنګ کې به لکه د بدر د غزا په شان له مونږ سره خامخا ملایکې مرسته کوي. په هماغه ساعت مې له ده نه د حملې پلان وغوښت. هغه راته د جګړې لپاره هماغسې پلان چې په خوب کې ورته ولي ویلی وو، جوړ کړ. د همدې مجاهد په غوښتنه مو د دې حملې نوم د البدر عملیات کېښود. پنجابي مجاهد راته وویل چې ولي ورته دا هم په خوب کې ویلي چې که بندیان ونیسي باید له ټولو نه پخپل ذولفقار سرونه پرې کړي تر څو د خدای شکر ادا کړئ. هماغه وو چې حمله مو وکړه او خدای پاک راته نصرت را په برخه کړ. غالباً ۱۲۰ تنه بندیان مو له ملحدې اردو ونیول چې وروسته مې د خپل ذولفقار پواسطه ترینه سرونه پرې کړل. هغه کوم پنجابي مجاهد چې خوب لیدلی وو هغه ترینه ویډیو هم جوړه کړه تر څو نور مجاهدین پرې تشویق کړي.))

زرقاوي دغه وخت خپل تبر ته وګوري او په ډیر افتخار وایي چې دغه دی اوس هم پرې د اجیري اردو د ملحدینو وینه شته. بیا وایي: (( په دغه جګړه کې مونږ سره ډیری پنجابي مجاهدین وو، خو یو شمیر عرب، چیچن او ازبک هم وو. مونږ وښودله چې د مرتدې اجیري اردو په ضد اسلامي امت یو موټی دی او مونږ ته تر ملته امت مهم دی. وروسته له عملیاتو دغه پنجابي مجاهد راته وویل چې کوم خلک د اسلام لپاره حتا خپل ورور هم ووژني، همغوی د اسلام حقیقي ساتونکي دي.)) بیا مولوي زرقاوي په ډیر ویاړ سره ناستو خلکو ته وایي: ((ګورئ هغه پنجابي مجاهد رېښتیا ویلي وو. دغه دی نن همدا مونږ یو چې په ټوله نړۍ کې اسلام ساتو او په نوم یې سرونه ورکوو. ډیری ملتونه دومره غیرت نلري چې د خدای په لاره کې له یوه سره ټول جهاد ته ووځي. په دوی باندې دا دنیا ګرانه ده ځکه خو پکې بنګلې، سرکونه، پلونه، بندونه او نور جوړښتونه جوړوي. دا شیان د سړي توجه رېښتیا هم له اخرته د دنیا خواته اړوي ځکه خو له دوی سره د اخرت غم نشته. مونږ خو د اسلام لپاره خپل پښتانه څه چې خپل اولاد هم وژنو.

ځکه خو خدای ددې لوی دین ساتلو مسولیت زمونږ په اوږو بار کړی. مونږ باید تر اخري پښتونه اسلام وساتو. ځو چې پاتې یو پښتون وي – خدمتګار به د خپل دین وي))

د خبرو په مینځ کې یو بل کس غږ کړي چې ورونو ایمان مو تازه کړئ. ددې خبرې په اوریدو ټول په لوړ آواز د شهادت کلمه ووایي. وروسته له کلمې بیا مجلس شروع کړي.

مولوي زرقاوي میلمنو ته ووایي چې دا زمونږ خوش قسمتي ده چې زمونږ مجلس ته نن مولانا عبدالصبور هم راغلی. بیا مولانا صبور ته ووایي: ((مولانا صیب دنیا خو هسې هم تیره ده. راځئ زمونږ مجلس په اسلامي معلوماتو راښکلی کړئ.))

مولانا صبور زرقاوي ته وګوري او بیا ورته ووایي: (( زه په همدې طمع وم چې څه وخت به مونږ د اسلام او آخرت خبرې کوو. دنیا خو هسې هم د کفارو لپاره ده. مونږ باید تل د اخرت او مرګ په فکر کې واوسو.))

مولانا صبور د قبر د لمړمانو او مارانو، د قیامت د ورځې د سختیو، د غسل په سنتو او له خپلې کنیزې سره د جماع په طریقه اوږدې خبرې وکړي. بیا نه پوهیږم چې موضوع څنګه د اسلام د پیغمبر د طایف د سفر قیصه شي. خو د قیصې په یوه برخه کې مولانا صیب په ژړا کې وایي: ((د طایف خلکو چې کله زمونږ خوږ پیغمبر ص په تیګو ویشته نو پښې مبارکې یې له وینو ډکې شوې.)) دې خبرې اوریدو سره مجلس کې ډیری خلک په ژړا شي. زه او قاري صیب هم سر ښکته واچوو. خو توریالی همداسې ټولو خلکو ته ګوري.

قیصه چې خلاصه شي نو زرقاوي ناستو میلمنو ته ووایي چې ډوډۍ تیاره ده. دا به وخورو بیا به د ماخستن لمونځونه وکړو. دې سره دسترخانونه هوار کړي. د عربو په شان په غټو غټو غوریو کې وریجې وي او دوریجو په مینځ کې پوخ شوی سلامت پسه اینښی وي. دا غوري دوه دوه کسه راوړي او هر غوري ته ۷ او ۸ کسه کښیني.

توریالی چې دا ووینې نو زرقاوي ته ووایي چې مولوي صیب د عربو د پیښو کولو په ځای، ښه به نه وه که دا وریجې مو په یو لوی غوري کې ایښې وای. هر چا چې هر څومره خوړلې نو ځانو ته یې په قابو کې ترینه اچولای. پاتې وریجې به لاس وهونکې نه کیدې، که مو خپله نه خوړلای نو نورو ته مو هم ورکولای شوای. اوس خو پکې هر څوک پاک او مردار لاسونه وهي دا چې له دوی نه پاتې شي نو هغه خو بیا څوک نه خوري او ایسته لویږي. پدې غربت کې باید داسې ډوډۍ ضایع نشي.

دې خبرې اوریدو سره د مولانا صبور رنګ له غصې سور شي. زرقاوي ته مخ راواړي او په غصه ورته ووایي: ((څوک دی دا کافر چې زمونږ د خوږ نبي ص د خوراک طریقې پسې خاندي. د ده باید سر پرې شي.))

مخکې لدې چې مولانا صبور بله خبره وکړي، قاري صیب مولانا صبور ته اشاره وکړي چې دا عصبي ناروغ دی. مولانا صبور ورته ووایي: ((که ناروغ دی که روغ، زمونږ د ستر پیغمبر د قوم سپکاوی چې کوي باید سر یې قلم شي. دې مرتد ته زما مخکې هم فکر وه. ما چې د طایف قیصه کوله نو ټولو ژړل یو ده راته برګ برګ کتل، فقط دا قیصه دروغ وي.))

د توریالی نور طاقت ونشي. مولانا صبور ته ووایي: ((وحشي ځناور دا ډول خوراک کوي چې ټول ښکار یې مخې ته پروت وي او دوی ترینه یو څه وخوري. ځان موړ کړي او نور بیا پریږدي. ستا عربان په همدې طریقه خوراک کوي او ټول خواړه ضایع کوي. په اسلامي هیوادو کې ماشومان له لوږې مري خو ستا مالداره عرب هر کال زرګونه ټنه غذایي مواد ایسته غورځوي.

انسانان چې څومره خوري همغومره را اخلي. ټول خوراک کې لاسونه نه وهي. پاتې خوراک یا بل وخت ته ساتي او یا یې نورو ته هماغسې پاک ورکوي. اوس خو له تاسي نه ټولې لاسوهونکې وریجې او غوښه پاتې کیږي. مجبور یاستئ لرې یې وغورځوئ.))

مولانا صبور په غصه ورته ووایي: ((مرتده! د مطلق انسان پس خورده روا ده. ته زمونږ له خوږ پیغمبره ښه نه پوهیږې.

کافره! ته اوس په عربو پسې خاندې؟ که دا عرب نه وای اوس به مونږ ته اسلام چا رارساوه. اوس به مو انجونې ژوندۍ ښخولې. اوس به ټول دوزخیان وئ. د همدې عربو برکت دی چې د اسلام مبارک دین یې درته راوړ او تاسې ټول یې وژغورلئ.))

توریالۍ هم احساساتي شي او ځواب ورکړي: ((زه دې په روا او نا روا نه غړیږم زه په پاکخوري او مردارخوري غږیږم. انسانان باید لکه انسانانو غوندې خوراک وکړي نه لکه وحشي ځناورو. ستا یا د بل نسواري پس خورده به زما په شمول هیڅ جوړ انسان ونه خوري. دغه له تاسي پاتې وریجې به اوس ایسته غورځول کیږي.

بل پښتنو خپلې لونې نه ښخولې. مونږ پدې خاوره ۵۰۰۰ کاله ژوند کړی. ۴۰۰۰ کاله ژوند مو مخکې له اسلامه وو. دغو ۴۰۰۰ کلو کې مونږ نه انجونې ښخولې او نه مو په جګړو کې لکه عربو له چا نه ښځې بوولې. بل داسې هم نه وه چې ټولو عربو ښځې ښخولې. کیدای شي کوم چا یا کومې ډلې کوم وخت دا کار کړی وي خو دا دومره عام نه وو لکه څنګه یې چې زمونږ ملایان وایي. که عربو ښځې ښخولای نو دا دومره عرب بیا له کومه شول؟ بل له اسلامه مخکې عربو د څلورو په ځای بې شمیره ښځې کولای شوای، هغه له کومه شوې وې؟ له اسلامه مخکې ښځو ان امپراتوریانې چلولې، تجارتونه او جنګونه خو پریږده. د انجونو ښخول نه د عجمو دود وو او نه هم په عربو کې دومره عام وو لکه څنګه یې چې ته نن وایې.

له اسلامه مخکې مونږ ۴۰۰۰ کاله د انسانیت ژوند درلود. زمونږ عقیده ښه فکر، ښه خبره او ښه عمل کول وو. که عرب نه وای راغلي نو نن به مو هم کیدای شي انساني ژوند درلود. ملیاردونه انسانان له اسلامه ناخبره مړه شوي. که خدای هغوی ښنل نو مونږ به یې هم ښنلي وو. خو اوس چې د پښتنو دې

حالت ته ګورم، که جنت او دوزخ وي نو د کايناتو خالق به هيڅکله هم داسې بيعقل، جاهل او وحشي خلک جنت ته پرېنږدي. دوی په يوه قيصه اوريدو چې خدای خبر څومره حقيقت به ولري، ژاړي خو پخپل حالت چې هره ورځ د نورو لپاره قرباني کيږي، بيا خوشاله دي.))

مولانا صبور ته د توريالي خبرې لا زور ورکړي. نور هم غصه شي. لاحول ولاقوه وايي او بيا له توريالي پوښتنه وکړي: ((آيا ته زمونږ خوږ پيغمبر ته احترام نلرې؟ زه خو ځان څه چې خپل پلار، مور او اولاد هم د خپل پيغمبر له يوې خبرې قربانوم. دا ټول هيواد هم د محمد ص په نامه قربانوم.))

دې خبرې اوريدو سره توريالي هم سخت په غصه شي. مولانا صبور ته وايي: ((د محمد په نامه خو مو دا ټول هيواد قربان کړ نور څه غواړئ وکړئ؟ د محمد په نامه خو خپل راتلونکی نسل تباه کړ. د محمد په نامه مو ميلونونه پښتانه قربان کړل. د محمد په نامه مو خپل ناموس قربان کړ. د محمد په نامه مو له خلکو سرونه پرې کړل. دنيا تر ټولو ذليل او خوار خلک ياستئ. د ټولې نړۍ نه مسلمانان ارزانه عياشي ته ستاسې هيواد ته راځي. ستا پښتنې د نړۍ له هر قوم سره کنيزې دي. د محمد په نامه مو هيواد په قاب کې کيښود او د محمد وطندارانو ته مو ورکړ. نور څه غواړئ د محمد په نوم وکړئ؟

ما ته مې خپل مور، پلار، خپل اولاد، خپل خپلوان او خپل ملګري تر محمد او بل انسانه ډېر ګران دي. د محمد، ابراهيم، موسا، بودا، کرشنا او نورو په نوم به د خپل هيواد څه چې د پردي هيواد يوې مرغۍ ته هم ضرر ونه رسوم انسان خو لا لويه خبره ده. او نه به يې په نوم حتا د ختو يو ديوال وران کړم پوره هيواد خو پريږده.

د توريالي د خبرو په مينځ کې مولانا صبور له غصې نه چيغې کړي: ((الله توبه! الله توبه! دا څه کفر اورم. اوس دا کوټه راباندې راونه غورځيږي. ستا مرګ روا دی. دا ذولفقار راکئ چې اوس ترينه سر پريکړم)). همدې چيغې سره په ديوال کې د زوړند تبر خواته منډه کړي، خو پښه يې د وريجو په غوري کې ننوځي او ښوييږي. ځای په ځای د وريجو په غوري کې وغورځيږي.

توريالی دې وخت کې مولوي زرقاوي ته مخ ورواړوي او ورته وايي: ((که هر چا ځانته په وړو قابو کې لږ لږ وريجې اچولې وای اوس به دا غټ غوری وريجې ايسته نه غورځيدل کيدې)).

زرقاوي مولانا صبور د وريجو له غوري راپورته کړي او په غصه وايي ويسې دا وريجې او چرګانو ته يې واچوئ. مولانا صبور ټول په وريجو ککړ وي او داسې ښکاري چې پښه يې ماته شوې وي ځکه ګوډ ګوډ کيږي. دا حالت چې قاري صيب وګوري نو زرقاوي ته وايي چې زه به توريالی او دا بل ميلمه بوځم. زرقاوي ورته په موافقت کې سر وښوروي. درېواړه د مولوي زرقاوي له کوره راووځو.

په لاره کې قاري صيب په خندا توريالي ته وايي چې دا صبورک خو دې ښه ده چې سم برابر کړ. بيا قاري صيب ماته وګوري او راته وايي: ((مولانا صبور ريښتيا هم خپله ټوله کورنۍ د اسلام د پيغمبر له وطندارانو قربان کړې. دواړه زامن يې جهاد ته ليږلي. درې لورګانې يې يو ځل عربو ته په نکاح کړې.

هغوی چې یو څو وخته ورسره تیر کړل نو بیا یې په هوایي ډګر کې طلاق ورکړ او دوی ترینه لاړل. دوه ورځې هلته ګاردانو وساتلې تر څو مولانا صبور خبر شو او هغوی یې بیرته کورته راوستلې.

مولانا صبور د الهاشمي خوب په پټو سترګو منلی او وایي که په خراسان کې میلمانه مجاهدین خفه شي نو د اسلام پیغمبر ترینه خفه کیږي. ځکه نو کله یې چې عربو لورګانې پریښودې، دی خپلو لورګانو ته سخت په غصه وو او ورته ویل به یې چې که دوی سمې وای میړونو به یې نه طلاقولې. بیا یې څو میاشتې خدای ته همدا زاری کولې چې خدای او د هغه رسول یې د لورګانو په وجه له ده خفه نشي. څو وخته مخکې یې دریواړه بیا نویو راغلیو عربو مجاهدینو ته ورنکاح کړې.

مولانا صبو همدارنګه څو کاله مخکې فتوا ورکړې وه چې که د کوم پښتون څنګ ته کوم بې واده میلمه مجاهد وي او دا پښتون دوه ښځې او یا کور کې یې تر ۹ کلو د ډیر عمر لرونکې لورګانې او یا هم وینځې ولري نو د جنت بوی پرې تر هغه حرام دی ترڅو خپله یوه ښځه طلاق نکړي او دغه میلمه مجاهد ته یې ورنکړي او یا هم خپله لور یا وینځه ورنکړي.))

زه حیران شم او قاري صیب نه پوښتنه وکړم چې آیا داسې کوم پښتون اسلامي عالم یا ملا هم شته چې د عربو او پنجابیانو دلال نه وي؟ او د پردیو په ځای ورسره د خپلو پښتنو غم وي؟

قاري صیب ځواب راکړي: ((که وي هم له ډاره غږ نشي کولای. د زرقاوي په شمول پښتنو جنګي قومندانانو او دیني عالمانو د الهاشمي تر خلافته مخکې ډیر زور درلود. خو الهاشمي دوی ورو ورو داسې کمزوري کړل چې اوس یې د الهاشمي دربار ته هم څوک نه پریږدي.))

بیا راته وایي: ((د زرقاوي په دې غټو غټو خبرو مه غلطیږه. دوی اوس د یو عادي پنجابي یا عرب هومره اختیار هم نلري. هسې لویې لویې خبرې کوي. الهاشمي په اولو وختو کې دا خلک حج او وینځو باندې خوشاله کړل. او میاشتنی تنخوا یې ورته وټاکله. خو اوس یې هاغه تنخوا هم ورته ډیره کمه کړې او وینځې خو یې لا پخوا پرې بندې کړې. اوس د دوی برخه وینځې هم بهرنیو مجاهدینو ته ورکوي. دوی چې کله زور درلود نو د اسلامي نظام لپاره یې ځان د الهاشمي پښو ته وغورځاوه. اوس پرې الهاشمي پښې ایښې او دوی ترینه پاخیدای نشي.

الهاشمي په هماغه شروع کې د طالبانو، داعشیانو، حزبیانو او نورو مذهبي افراطي ډلو مهم مشران په مرموز ډول ووژل خو خلکو ته یې داسې وښوده چې د ناجوړې له کبله مړه شوي وي. زرقاوي او ډیری نور قومندانان وروسته په حقیقت پوه شول خو څه لاس ته نه ورتلل.

زرقاوي اوس پخپلو کړو سخت پښیمانه دی خو اوس اوبه تر ورخه تیرې دي. په نن شپه مجلس کې یې هم له ډاره داسې خبرې کولې ځکه د الهاشمي جاسوسان ډیر فعاله دي. څوک چې ورپسې بده خبره وکړي نو په هماغه ورځ پرې بهرني مجاهدین د مرتد ټاپه لګوي. دی وژني. مال یې د غنیمت په نوم چور کوي او ښځې یې ترینه د وینځو په نوم بیایي.))

قاري صيب ويل چې مولوي زرقاوي وسره کله کله د زړه راز کوي. یوه ورځ ورته په ژړا شوی او ورته ویلي یي وو: ((جنت او حورو مې د سترګي سترګي ړندې کړې وې. کاشکي مې د هلمند په عملیاتو کې د هغو خپلو افغان ځواکونو په ځای دغه بهرنیان وژلي وای. زمونږ د لاسه افغانستان تجزیه شو. زمونږ د لاسه بهرنیان راباندې حاکم شول. زمونږ د لاسه د پښتنو ناموس لیلام شو. زمونږ د لاسه پښتانه د نورو په جنګو کې وژل کیږي. بس هغه وخت مونږ یوه نشولو ځکه د دین نشې داسې بیخوده کړي وو چې د خپل او پردي توپیر مو نشو کولای. او اوس چې هوښیار شولو څه نشو کولای. الهاشمي داسې کنټرول کړي یو چې په وړه خبره مو وژني او ښځې مو رانه بیایي. بس دا ټول زمونږ د خپله لاسه. همدا حالت مو د جهادو برکت دی. که مونږ له خپل ملت سره ولاړ وای نو نن به یو آزاد هیواد وو. مونږ د خدای لپاره هر څه قربان کړل خو خدای هم له الهاشمي سره ولاړ وو. که له اوله خبر وای نو له خیالي جنته یې هم تیر وم.))

همدې قیصو کې یو چې قاري صیب داسې خبره راته وکړې چې شوک وخورم. راته ووایي: ((د سعودي د ګټو لپاره په یمن، سوریه او نورو ځایو کې له ایران پلوه ډلو سره یوازې پښتانه جهاد کوي. بهرني مجاهدین خراسان ته راځي تر څو دلته د الهاشمي خلافت ټینګ کړي او د سعودي او په ځیني ځایو کې د پاکستان جهادو ته په دوامداره ډول خام مواد (مفت پښتانه عسکر) ورولیږي. په خراسان کې تر پښتنو مجاهدینو اوس بهرني مجاهدین ډیر دي. ډیری دغه مجاهدین تر خپلو هیوادو دلته زیات خوشاله وي ځکه دوی ته په خراسان کې مفت کور، معاش او پښتنې وینځې ورکول کیږي او هر څه یې چې زړه وغواړي کولای یې شي.))

د قاري صیب په وینا بهرني مجاهدین چې کله هم خراسان ته راځي نو دوی ته ویل کیږي چې افغانان ډیر ډارن خلک دي. څومره چې په ډار کې وساتل شي هغومره مو خبره مني. خو که کومه ورځ دې رحم پرې وکړ نو ستا رحم او ښه رویه ورته ستا کمزوري ښکاري او مخالفت دې شروع کوي. همدا دلیل دی چې بهرني مجاهدین دومره بې رحمه دي چې په تې خورو ماشومانو هم رحم نه کوي. ډیر بیګناه پښتانه یې ووژل. همدا د دوی بې رحمي ده چې له کوچني نه تر زاړه پورې ترینه پښتانه ډاریږي او له ډاره یې احترام کوي.

که د دغو بهرنیو مجاهدینو د چا لور یا خور خوښه شي نو څوک ورته انکار نشي کولای. په خراسان کې د دوی حقوق تر پښتنو ډیر زیات دي. دوی ډیر منظم او په جنګ کې تر پښتنو ښه تربیه شوي او ښې سلاوې لري. همدې بهرنیو مجاهدینو پښتانه طالبان، داعشیان، حزبیان او نورې د پښتنو مذهبي افراطي ډلې کمزورې کړې او الهاشمي یې قوي کړ. همدا خلک د خلافت په حساسو ځایو کې مرکزونه لري او هغو ځایو ته پښتانه نه پریږدي.

د خبرو په مینځ کې توریالی هم داسې خبره وکړې چې حیران ورته پاتې شم. هغه ووایې: ((دا کومې پښتنې ښځې چې تر ۴۰ پورته دي او د جهاد به نامه له خراسانه لیږل کیږي، ډیرې کمې یې جګړې او یا هم ځانوژونکو حملو ته لیږل کیږي. هغه هم کومې چې ډیرې بدرنګه وي او یا یې هیڅ کار نه وي زده. پاتې ښځو باندې د الهاشمي ورور (ابو عبیده) تجارت کوي. د مالداره عربو چې د کور د کار لپاره ښځې پکار وي نو ابو عبیده همدا پښتنې ورلیږي او په بدل کې یې ده ته هره میاشت د هغوی تنخوا راځي. د کور

مالک حق لري چې لدې ښځو څخه هر ډول یې چې زړه وي ګټه واخلي. ان تر دې چې د وژلو حق یې هم لري خو په دغه صورت کې به ابو عبیده ته د دغې ښځې قیمت یعنې د یو کال تنخوا ورکوي. ځیني خلک د یو کال د تنخوا په بدل کې دا ښځې اخلي او د بدن غړي یې لکه ګرده، جګر، سترګه، زړه او نور په روغتونو قیمته خرڅوي. ابوعبیده د دغو پښتنو ښځو په وجه ډیر لوی کاروبار جوړ کړی او د مالداره عربي هیوادو په هر ښار کې دفتر لري.

اوس د مالداره عربو په ډیری کورو کې څو څو کسه پښتنې کار کوي. عربو ته هم پښتنې ښځې تر فلیپیني او نورو ښځو ارزانه او تر هغوی ډیرې خواري کښې دي. همدارنګه که عرب له فلیپیني ښځو سره زیاتی وکړي نو د فلیپین هیواد یې پوښتنه کوي خو د پښتنو ښځو د پوښتنې څوک نشته. یو شمیر دغه ښځې وروسته له څه وخته له ډیر فشار یا شرمه ځان وژني.))

توریالي بیا وویل: ((څو کاله مخکې چې د مالداره عربي هیوادو نرانو له خراسان نه پښتنې وینځې بوتلې نو ځینو غوښتل چې آزادې یې کړي او ودونه ورسره وکړي. خو سعودي، عرب اماراتو او یو شمیر نورو مالداره عربي دولتو فرمان صادر کړ چې د دوی هیڅ تبعه حق نلري چې له پښتنو ښځو سره واده وکړي او د عربو نسل خراب کړي. فرمان کې دا هم راغلي چې هیڅ پښتنې وینځې ته باید د عربي ښځو هومره درجه او یا هم آزادي ورنکړل شي. دغو دولتو له پښتنو ښځو سره واده جرم وګرځاوه او یوازې له دوی نه د وینځو او خدمې په حیث کار اخیستلو ته یې اجازه ورکړه. د دغو هیوادو په قانون کې اوس پښتانه تر عربو ټیټه درجه انسانان بلل کیږي.))

توریالی په غصه کې وویل: ((عرب ورته د انسان په سترګه هم نه ګوري خو دا بیغیرته پښتانه ترینه خپل ځان، ناموس او مال قربانوي. عرب نه غواړي چې نسل یې په پښتنو خراب شي. یعنې تر عربو زمونږ نسل ټیټ دی.)) بیا یو سوړ اسویلی وباسي او وایي: ((بس نو خپل دین یې دی خود به خپل ځانته پکې برتري ورکوي. که مونږ دین جوړ کړی وو اوس به مو پکې د پښتنو هر څه محترم کړي وو. خو اوس دوی جوړ کړی ځکه خو له ژبې نه نیولې تر میوو او حیواناتو پورې د دوی هر څه پکې په نورو مقدم او محترم دي. زمونږ انګور د دوی تر خرما ښه او ډیره ګټوره میوه ده. خو خرما د دوی میوه ده ځکه تر انګوره معتبره ده او خوراک یې ثواب لري. د همدې ثواب په وجه یې د خرماوو تجارت ښه په درز کې روان دی. د اوښ خو یې ان متیازې محترمې دي او د دین له نظره یې پکې شفا ده. عربي خو ان د قبر د سوال او ځواب، د آخرت د ورځې او د جنت ژبه ده. په حج خو هر کال ملیاردونه ډالره ګټي. د دین له نظره یې حتا هغه خدای یې هم په سعودي تر نورو ډیر مهربان دی. لنډه دا چې عربو دین داسې جوړ کړی چې په هره برخه کې یې خپله ګټه په نظر کې نیولې. همدا دلیل دی چې نن د دین په وجه سعودیان تر نورو مسلمانانو ښه ژوند لري. خو زمونږ ډارن پښتانه د نالیدلي دوزخه دومره ویریږي چې خپل هر څه په عربو قربانوي؟ عرب یې د برابری او ورورولۍ په هوایي خبرو غلطوي خو په عمل کې ځان په پښتنو پورته ګڼي. بس نو تر څو چې لکه پښتنو غوندې احمقان وي، عرب به ترینه هر ډول ګټې اخلي)).

په همدې خبرو کې د قاري صیب ځای ته ورسیږو. توریالی ووایي د زرقاوي ډوډۍ خو مو ونه خوړه راځئ تر هغې دربانډې ښه ډوډۍ وخورم. اشپزخانې ته ننوځي او د ډوډۍ په پخولو شروع وکړي. ما او قاري صیب خپلو خبرو ته دوام ورکړو.

قاري صیب ته ووایم د دې توریالي قیصه خو راته وکړه. دا څوک دی او څنګه یې پیژنې؟

قاري صیب راته شروع شي: ((توریالی یو وخت زمونږ ګاونډي وو. دی د پلار همدا یو زوی دی. څلور خویندې یې درلودې. تر ۲۵ کلنۍ پورې دی دومره مذهبي نه وو که څه هم دغه عمر پورې له ډیری نویو ځوانانو نه سرسخته مذهبیان جوړیږي. وروسته یې ورو ورو دین ته میلان زیات شو. بیا به ۵ وخته جمعي ته تلو او له جمعې وروسته به یې وعظ ته غوږ نیوه. څرنګه چې ټول وعظ د جهاد او شهادت په اړه وو نو ده ته هم د جهاد او شهادت شوق پیدا شو. څو وخته وروسته داسې کلک مذهبي شو چې بیخي یې لدې دنیا نه زړه تور شو او خپل نوم یې د ثواب لپاره له توریالي نه حذیفه ته بدل کړ.

دغه وخت به یې له پلار سره هر وخت پدې بحث وو چې ولې د اخرت غم نه خوري چې پدې دنیا کې وخت تیروي. پلار به یې ورته ویل چې دا دی مونځ کوم، روژه نیسم، حلاله مزدوري کوم نور نو څنګه د اخرت غم وخورم. ده به ورته ویل چې نه باید له یو سره ټول د خدای په لاره کې وځو. پلار به یې ورسره نه منله. خو ده به بیا بیا په همدې خبرو ورسره جنګ کاوه چې څه کوو چې پدې مرداره دنیا کې د غربت ژوند تیروو. جنت کې مو باغونه او بنګلې همداسې خالي پرتې دي. باید ښځې او نر جهاد ته لاړ شو او ژر تر ژره خپل جنت ته ځان ورسوو. اصلي ژوند خو هلته شروع کیږي. دلته خو چې څومره ډیر ژوند کوو همغومره مو د ګناه کولو چانسونه هم ډیریږي. خو پلار به یې ورسره مخالفت کاوه او ورته به یې ویل چې غواړم ژوند وکړم.

کله چې په کور کې ډیر تنګ شو نو په ۲۷ کلنۍ کې جهاد ته لاړ. که څه هم پلار او مور یې ډیر منع کړ خو ده د هغوی خبره ونه منله. د ده له تګ نه یو څو میاشتې وروسته یې مور د خپل زوی د خفګان له امله مړه شوه. تیر کال یې پلار هم د ناروغي په وجه مړ شو.

توریالي چې کله د جهاد لپاره نوم ولیکه نو یمن ته یې جګړې ته ولیږه. هلته یې ۵ کاله جنګ وکړ. د جګړې په جریان کې یې ماغزه سر ته راغلل او پوهه شو چې دا جهاد د نورو د ګټو لپاره دی او پښتانه پکې لکه د سون توکي استعمالیږي. د جګړو په ټولو لیکو کې به قومنده د بې تجربې عربو په لاس کې وه او پیاده عسکر به یې پښتانه وو. د دوی د نااهلۍ په وجه به په هره حمله کې سلګونه پښتانه ځوانان وژل کیدل. داسې هم ډیر شوي چې په یو ځل به یې څو زره پښتانه لکه پسونه په ماینو فرش شوې سیمه باندې ورخوشې کړل او په یو څو دقیقو کې به ټول ووژل شول. د توریالي له قوله عرب قومندانان پښتنو ته پسونه او د جګړې مقابل لوری پښتنو ته حشرات وایي. ځکه پښتانه مجاهدین دومره ډیر دي چې هر څومره یې وژنې لکه حشرات نور پیدا کیږي.

توریالي په دغو ۵ کلو کې زرګونه پښتانه چې ډیری یې تنکي ځوانان وو، ولیدل چې د پردیو د ګټو په جنګو کې د جنتو او حورو په ارمان ووژل شول. په لمړي سر کې به عربو د دوی مړي نه ښخول ځکه یو

خو دومره زیات مړي وو چې هر یو ته قبر کیندل ډیر کار غوښت بل ځینو سعودي قومندانانو نه غوښتل چې د یمن خاوره چې هغه هم یوه عربي هیواد دی د عجمو خراسانیانو په مړو مرداره کړي. خو کله چې د مړو شمیره زیاته شوه او سیمه د خرابو شویو مړو بویونو ونیوله نو سعودیان مجبور شول چې څه غم یې وخوري. دې بدو بویو د ډیرو پښتنو جنګیالیو په زړونو کې د سعودي د جهادو په اړه شکونه پیدا کړل. ځکه دوی ته یې ملایانو ویلي وو چې له شهیدانو خوشبویي ځي او مړي یې نه خرابیږي. خو د دغو پښتنو مړو نه هم بویونه تلل او هم خراب شوي وو. عربي قومندانانو ددې لپاره چې په راتلونکي کې د دغسې شکو د پیدا کیدو مخنیوی وکړي، د پښتنو د مړو د خښولو امر وکړ. هغه هم داسې چې چیرته به پښتانه مجاهدین مړه شول د هغوی مړي به یې راټول کړل، یوه کنده به یې ورته وکیندله او ټول به یې پکې واچول. بیا به یې پرې خاورې واچولې. نه به د دوی جنازه کیده او نه به ورته کومه دعا کیده. د دوی د ښخولو ځای هم په نښه کیده تر څو د جنګونو د ختمیدو نه پس ترینه دا ځای پاک کړي.))

د قاري صیب په غږ کې غصه او پښیماني ښکاریده. راته ویې ویل: ((ژوندي خو پریږده عرب د پښتنو مړو ته هم احترام نه لري خو پښتانه بیا په عربو د خپل سر، ناموس او مال قربانولو لپاره په قطارو کې ولاړ وي. عرب دوی ته د ماتحت الانسان په سترګه ګوري او د عربو په نزد د پښتنو د ژوند هدف یوازې د عربو خدمت دی او بس. ډیری پښتانه پدې افتخار کوي چې د عربو خادمان دي ځکه د همدې خدمت په مټ کولای شي د عربو جنت ته لاړ شي.))

بیا یې وویل: ((د توریالي زړه هم لکه د ډیرو نورو پښتنو مجاهدینو له جنګه موړ شوی وو او غوښتل یې بیرته خپل هیواد ته راشي. خو دوی پرته له جنګه بله لاره نه درلوده. ځکه سعودي چې یو ځل کوم پښتانه نارینه او ښځې له خراسانه د جهاد په نوم بوځي بیا دوی ته اجازه نه ورکوي چې بیرته خراسان ته لاړشي. سعودي ډاریږي چې که دوی بیرته لاړ شي نو کیدای شي نورو ته د دې جهاد اصلیت ووایي. چې دغه کار به لږ تر لږه د سعودي جهادو ته د تلونکو شمیره کمه کړي او یا به هم خلک د بهر دنیا له پرمختګو خبر کړي او د خلافت په ضد به راپورته شي. سعودي همدارنګه خپلو پولیسو ته ویلي چې که خراسانیان د سعودي په خاوره چیرته یوازې ویني نو ودې یې نیسي او د سعودي پوځ ته دې یې تسلیم کړي. هغوی یې بیا بیرته جهاد ته لیږي. کوم خراسانیان چې بیا جهاد ته نه ځي نو د جهاد څخه د تیښتې په ګناه ترینه سر پرې کول کیږي.

وروسته له ۵ کلو جګړو نور د توریالی طاقت ونشي او د جنګ له میدانه وتښتي. څو ورځو کې ایله له یمن نه سعودي ته واوړي. د لوږې په وجه مجبور شي چې له سرحد سره نژدې د یو سعودي کور ته ورشي تر څو که د خوراک لپاره لږ څه ورکړي. د کور خاوند چې ده ته وګوري نو ورته ووایي خراساني؟ دی ورته ووایي نعم (هو). د کور خاوند چې دا واوري نو په غصه شي او په عربي کې څه ووایي. بیا دی له لاسه ونیسي او کورته یې کش کړي. هلته یې په یوه کوټه کې بندي کړي.))

قاري صیب دا خبرې کوي چې توریالی راغږ کړي چې ډوډ دی تیاره ده لاس مو ومینځئ. دواړه جګ شو لاسونه پریمنځو. بیرته چې دسترخوان ته راشو نو توریالي په یو غوري کې کطغ اچولی وي او په

دسترخوان يې له قابو سره ايښی وي. مونږ ته قابونه راکړي او راته ووايي: ((چې څومره ترينه خورئ همغومره درته قابو کې واچوئ ټول کطغ کې به لاس نه وهو. د انسانانو په شان به ډوډۍ وخورو.))

د ډوډۍ په سر قاري صيب توريالي ته ووايي چې ماته خپله د تيښتې قيصه وکړي. توريالی شروع شي: ((کله چې د جهادو په اصليت پوه شوم نو ځان راته ډير سپک او کمعقل ښکاره شو. له دين او ديندارۍ مې زړه تور شو او پوهه شوم چې دين يو دام دی چې عربو زمونږ لپاره ايښی. هماغه وو چې د جګړې له لمړۍ کرښې وتښتيدم. کله چې له سرحده واوښتم نو د ډيرې لوږې په وجه د يو عرب کور ته ورغلم. خو هغه د پوليسو افسر راوخوت. پوليسو ته ويل شوي وو چې خراسانيان نيسئ او پوځيانو ته يې ورکوي. دې افسر زه ونيولم او په يوه کوټه کې بندي کړم.

د ده له تلو لږ وروسته د کور يوې ښځې پټه دروازه راخلاصه کړه او دننه راغله. له ما يې په وپوښتل چې پښتون يې؟ ما ورته ځواب ورکړ چې هو. هغې بيا راته وويل چې زمونږ مالک د پوليسو افسر دی. څو ورځې مخکې يې هم ۲ کسه پښتانه ونيول. يوه ورځ يې په همدې کوټه کې بندي وساتل او بيا يې د سعودي پوځ ته تسليم کړل. بيا يې وويل چې له دې سره درې نورې پښتنې هم پدې کور کې خادمانې دي خو مالک يې ډيرظالم سړی دی او هر وخت يې وهي. د وهلو اثار يې ان په مخ ښکاريدل. د خبرو په مينځ کې هغه درې نورې ښځې هم راشي.

په دوی کې يوه راته په ژړا شي او راته ووايي چې څلور کاله مخکې مې زلمی زوی او ميړه جهاد ته لاړل، پيغلې لورګانې مې هم جهاد ته وليږلې او کوچنی زوی مې مدرسې ته ورکړ. زه څه خبره وم چې له مونږ سره به د جهاد په نوم داسې چل کيږي او ټوله کورنۍ به مې قرباني کيږي. ما خو فکر کاوه چې څو ورځې وروسته به ټول په جنت کې يو. د دې ښځې په ژړا کې نااميدي له ورايه ښکاريده. بيا يې وويل چې آيا خدای مو نهويني چې په مونږ څومره ظلم روان دی؟ که مو ويني بيا ولې چپ دی؟ يا خو يې په داسې ظالمانو زور نه رسيږي او يا هم داسې ظالمان ورته تر مونږ نژدې دي. ما مې خپله ټوله کورنۍ د خدای د رضا لپاره قربان کړه خو خدای راباندې بيا هم داسې وحشي مقرر کړ.

پدې وخت کې يوه ښځه جګه شوه او ما ته يې ډوډۍ راوړه. بلې راته د خپل مالک د ظلمو قيصه شروع کړه چې مالک يې يوه دوره لري او هروخت پرې دوی وهي. هغې وويل چې پخوا ورسره دوه نورې پښتنې هم خادمانې وې. خو هغوی د دې کس د ظلم نه په تنګ شوې او وتښتيدې. خو ده بيرته پيدا کړې او زمونږ په مخکې يې له دواړو سترګې وويستې. بيا يې لمر ته وتړلې تر هغه چې دواړه د ګرمې له وجهې مړې شوې. دې خبرو سره زما وينه په جوش راغله. مونږ په خبرو کې لګيا وو چې د دروازې اواز شو. څلور واړه په منډه له کوټې ووتې او د کوټې دروازه يې خلاصه پريښوده. خو مالک يې دوی وليدې چې دې کوټې ته راغلې وې ځکه نو په دوی پسې له خپلې دورې سره ورغی او په اشپزخانه کې يې د دوی په وهلو شروع وکړه. ما چې د دوی د چيغو غږ واوريد نو زه هم ورپسې اشپزخانې ته ورغلم. هلته دغه عربی لګيا وو او خپلې پښتنې خادمانې يې په دورو وهلې. الماري ته چې مې وکتل نو له شيشې نه غټه چاړه راته ښکاره شو. ژر مې راواخيسته او تر څو چې عرب راکتل ما په غاړه په چاړه ووهه. هغه چې پخپلو لاسو غاړه ونيوله ما په خيټه کې څو چړې وواهه تر څو عرب راوغورځيد او ځای په ځای مړ شو.

په دغو ښځو کې چې کومه مشره وه هغې ما ته وویل چې دوی ټولې په یوه کوټه کې بندي کړم او له ځان سره یو څه خوراک واخلم او وتښتم. هغوی وویل که پولیس ترینه پوښتنه وکړي نو مونږ به ورته ووایو چې مونږ خبرې نه یو میړه مو مونږ په کوټه کې بندي کړي وو. دا چې بهر څه کیدل او مونږ نشو کولای له کوټې ووځو. هماغسې مې وکړل. په ۵ کاله جنګ کې مې ډیر خلک ووژل خو دا لمړنی ځل وو چې د یو کس په وژلو پښیمانه نشوم.

لدې ځایه د سعودي د ربع الخالي دشتي په لور وتښتیدم. وروسته له څو هفتو سفره د الشیبه په سیمه کې له یو پاکستاني پښتون سره مخ شوم. هغه ډیر مهربانه انسان وو چې نږدې ۳۰ کاله یې دغه سیمه کې د یو عرب سره کار کاوه. د ده مالک امریکایي ښځه درلوده او ډیری وخت به دی او ماشومان یې په امریکا کې وو. یوازې په درې میاشتو رخصتیو کې به راتلل. نور به ټول وخت دی په دغه لوی کور کې تنها وو.

د دغه پښتون نوم عجب ګل وو او ډیر غیرتي سړی وو. عجب ګل ته مې ټوله قیصه وکړه. هغه ځان سره د خپل مالک کور ته بوتلم او راته ویې ویل چې ته زما پښتون ورور یې او زه به دې دلته تر څو چې کولای شم له ځان سره وساتم.))

توریالي وویل: ((عجب ګل په ځوانی کې کلک نیشنلی او د لر او بر افغان د یووالي غوښتونکی وو. خو کله چې پښتنو خراسان جوړ کړ نو د پاکستان حکومت د نیشنل او نورو پښتونپاله ګوند ملا ورماته کړه. یو شمیر یې خراسان ته وشړل او یو شمیر نور یې ووژل. د ده هم له پښتنو زړه تور شو. هماغه وو چې له خپل تره زوی سره د سعودي مزدوري ته راغی.

عجب ګل به راته ویل چې په کومه ورځ بر پښتنوخپله پښتونولي او افغانیت په اسلام قربان کړل هماغه ورځ د پښتون قوم زوال شروع شو. هغه به راته ویل چې تاسې د مذهبي افراط په وجه تباه شوی او ستاسې له لاسه په مونږ هم ډیر ظلمونه وشول. د هغه په وینا لکه د څو سوه کاله مخکې په شان پښتانه بیا د دین په نوم د پردیو خادمان شوي او پردي پرې حکومت کوي. خو دا ځل به د پردیو د ګټو په جګړو کې د پښتون نوم او نشان ورکیږي.))

توریالي بیا وویل: ((یو څو وخته مې چې له عجب ګل سره تیر کړل نو د تلویزون او انټرنیټ له لارې له دنیا خبر شوم. پخپل جهالت او کمعقلی افسوس راغی. مونږ ریښتیا هم له دنیا ناخبره په وحشت کې ژوند کوو. عربو ځانو ته په دښتو کې مانۍ جوړې کړي او په همدې دښتو کې یې د ژوند هر سهولت ځانو ته برابر کړی. دوی پدې دنیا ښه ژوند کوي خو مونږ ته وایي چې ژر تر ژره هغې دنیا ته لاړ شو. د جنت او دوزخ په قیصو دوی تر مونږ ښه پوهیږي ځکه همدوی مونږ ته دا قیصې راورسولې، خو دوی بیا هم د دې دنیا ژوند ته اهمیت ورکوي. که دا جنتونه، حورې، بنګلې او میوې حقیقت وي نو بیا دوی ولې ژر ژر نه ورځي چې مونږ ورلیږي؟))

توریالی مسکی شي او وایي: ((یوه ورځ له عجب ګل سره د هغه د تره د زوی لیدو لپاره بل ښار ته تلم چې په لاره کې یو کس وینم چې بل کس یې په شا کړی وي او د سرک خواته راروان وي. چې ورنږدې

شو نو وګورو چې د دواړو جامې به وینو ککړې دي. موټر ودروو او دواړه راوخېژوو.)) توریالی بیا قاري صیب ته مخ وروااړوي او ورته ووايي چې په هماغه وخت کې مې وپېژندې چې پښتون یې.

قاري صیب په ځواب کې ورته ووايي چې هغه هم ډېره بده ورځ وه. زه حیران ورته وګورم او قاري صیب نه وپوښتم چې تا سعودي کې څه کول؟

قاري صیب یو سوړ اسویلی وباسي او راته شروع شي: (( یو وخت زه هم د جهاد او شهادت سخت شوقي وم. زه هم کمعقل وم او له ژونده مې توره تیښته وه. غوښتل مې ژر تر ژره شهید شم او خپلو حورو او جنت ته ورشم. خو ما اول غوښتل چې حفظ وکړم او تر څنګ یې د جنت ژبه (عربي) هم زده کړم. ځکه د شهادت په وجه به ۷۰ دوزخیان او د حفظ په وجه به ۱۰ نور دوزخیان جنت ته بوځم. کله مې چې حفظ وکړ نو غوښتل مې چې جهاد ته لاړ شم. پلار مې په کوچنیوالي کې د وریښې ناروغۍ له امله مړ شوی وو ځکه مې له موره اجازه وغوښته. خو مور مې راته وویل چې زمونږ خو نور څوک نشته. دا لس کسه هم ډېر دي چې جنت ته یې بوځې. زما زړه نه منله او غوښتل مې چې ۸۰ کسه باید جنت ته بوځم. مور مې هم نشوای خفه کولای او شهادت ته مې هم تلوار وو.

د خپل دې مشکل د حل لپاره یوه ورځ د مولوي یسیر حقاني دارالعلوم ته ورغلم. په دغه ورځ دی پخپله هم ناست وو او درس یې ورکاوه. وروسته له درسه مې ورته خپل مشکل وویلی. هغه رانه په ځواب کې پوښتنه وکړه چې مور دې درباندې ګرانه ده که زمونږ خوږ نبي حضرت محمد ص؟ ما پرته له فکر کولو ورته وویل چې خپل خوږ نبي حضرت محمد ص راته تر موره ډېر ګران دی. هغه راته بیا وویل چې داسې ده نو همدا اوس لاړ شه او جهاد ته نوم ولیکه ځکه زمونږ د خوږ پیغمبر هیواد له کفارو سره په جګړه بوخت دی. که کفار یې وګټي نو کیدای شي مکه معظمه او مدینه منوره هم ورانه کړي. بیا یې راته وویل چې مور دې د خدای په هیله پرېږده هغه به یې تر تا ښه وساتي. د ده خبرو په احساساتو کې راوستم او هماغه ساعت لاړم جهاد ته مې نوم ولیکه. د نوم لیکنې له مرکزه یې نیغ هوایي ډګر ته بوتلم. د شپې یې له نژدې سل کسه نورو پښتنو سره په الوتکه کې کښینولو او د سعودي په لور مو حرکت وکړ.

د الوتکې په مخکې برخه کې څوک مهم عرب ناست وو ځکه شاوخوا یې لس کسه مسلح کسان وو او مونږ ته اجازه نه وه چې هغې خواته نژدې ورشو. زه ورته تر ټولو نژدې ناست وم. تقریباً دوه ساعته وروسته اعلان وشو چې مونږ د سعودي سرحد ته نژدې یو. پدې وخت کې الوتکه یوه جټکه وخوري او یو دم یې برقونه ګل شي. مسلح کسان هم ژر ژر په چوکیو کښیني او مونږ ته ووايي چې څوک له خپله ځایه پانه څیږئ. الوتکه ورو ورو ټیټیږي. ځمکې ته چې نژدې کیږو نو سرعت یې هم ډېرېږي. زه مې کمربند کلک وتړم او سر مې د زنګنو مینځ کې لکه څنګه چې د سیټ په جیب کې په کاغذ کې ښودل شوي وو، ننباسم. الوتکه چې ځمکې ته نژدې کیږي نو یو دم خلک په زوره کلمې شروع کړي. وروسته په ځان پوه نشوم خو چې سترګې مې لوڅې کړې نو الوتکه نیمايي شوې وه او زما نه دوه سیټه شاته نیمه الوتکه نه وه. د الوتکې نیمايي مخکې برخه چې زه هم پکې وم یو څه په شګو کې ننوتلې وه. له سترګو خلاصولو سره مې په سر او چپه اوږه کې د سخت درد احساس وکړ. زه هم پوره په خود نه وم خو داسې ښکاریده چې پرته له ما نور ټول مړه شوي وي. ورو راپاڅیږم او غواړم له الوتکې ښکته شم. خو د ښکته کیدو په وخت کې د

چا آواز واورم. چې د الوتکې د مخې خواته لاړ شم نو هماغه عرب پروت وي او زګرويږي. له ځانه سره يې له الوتکې راښکته کړم.

په شګو کې يې لږ کش کړم خو له درده چيغې شروع کړي. بيا يې همالته پريږدم او نژدې په يوه غونډۍ وخيژم تر څو شاوخوا که کوم کور يا خلک پيدا کړم. دشته کې هيڅ د کور درک نه وي خو په يو څه فاصله کې يو سرک ووينم. بيرته راښکته شم. دا عرب په شا کړم او د سرک په لور روان شم. لرې نه يو موټر راښکاره شي. مونږ چې ويني نو ودريږي. دوه کسه له موټره راووځي او له مونږ سره مرسته وکړي. نور په ځان پوه نشوم خو چې سترګې مې خلاصې کړې نو په روغتون کې پروت وم او عجب ګل او توريالی مې څنګ ته ولاړ وو.

وروسته خبر شوم چې دا عرب د سعودي دولت د استخباراتو ډير لوی افسر، ابو احمد دی. همدا دليل وو چې کله مو دی روغتون ته راوست نو روغتون ته يو زيات شمير نظامي کسان راغلل او په هره دروازه کې يې امنيت ونيو. روغتون کې يو سعودي عسکر بل ته وويل چې ايرانيانو د الکترومقناطيسي سلاح پواسطه پدې الوتکه حمله وکړه او ټول کمپيوټري سيستمونه يې ورته له مينځه يوړل. همدا دليل وو چې له سعودي سره د دوی تماس قطع شو او د الوتکې کنټرول يې له لاسه ووت. هغه بل سعودي عسکر ورته وويل چې دا خراسانۍ او ابواحمد ريښتيا هم خوش قسمته دي چې ژوندي پاتې شول.

څو ورځې وروسته زه له روغتونه خارج شوم خو دغه عرب لابستر وو. له روغتونه يې په نظامي موټر کې يو ډير لوکس هوټل ته بوتلم. د سعوديانو عصري ژوند مې چې وليد نو حيران شوم چې دوی خو په دين تر مونږ هم ښه پوهيږي دوی نو بيا ولې جنت ته ژر نه ځي چې پدې فاني دنيا کې ځانته مانۍ جوړوي؟ ځان سره به مې ويل چې د قيامت په ورځ چې دوی کله د اوسپنې په سره تبۍ ولاړ وي او د خپل مال حساب خدای ته ورکوي نو څومره به په تکليف وي. تر دغه وخته ما هم له خدايه د غربت ژوند غوښته ځکه د اسلام پيغمبر او ډير اصحابان غريب وو او په دين کې د غربت ډير فضيلتونه بيان شوي. همدارنګه د قيامت په ورځ چې غريب کله خدای ته حساب ورکوي نو په سره تبۍ به ډير وخت نه دريږي او پښې به يې نه سوځي. بل دا چې غريب به تر مالداره ۵۰۰ کاله مخکې جنت ته ځي.

توريالی او عجب ګل به هم هره ورځ دې هوټل ته راتلل. ډيری وخت به مو د دين، جهاد او د الهاشمي د خلافت په اړه بحثونه کول. څو ورځې وروسته دغه عرب چې لا هم بستر وو روغتون ته ورغوښتم. روغتون کې يې راته وويل چې تا زما ژوند ژغورلی او په ما دې احسان کړی. بيا يې لاس راکړ او راته يې وويل چې نن نه پس مې لکه ورور داسې يې. د بستر بل څنګ ته يې يوه ښځه او يو سړی هم ناست وو. هغوی ته يې مخ وروااوړوه او ورته يې وويل چې دا دی هغه خراسانۍ ځوان چې ستاسې زوی يې له مرګه وژغوره. بيا يې ما ته وويل چې دا مې مور او پلار دي. هغوی ماته راغلل او په ژړا يې له ما نه مننه وکړه. د دوی له ژوند سره مينه مې چې وليده نو پخپل حال ډير افسوس راغی. يو دوی دي چې غواړي ښه ژوند وکړي او د ژوند ټول سهولتونه دې ولري او يو مونږ يو چې يا خو د غربت او په شلو غضبو ککړ ژوند غواړو او يا هم مرګ (شهادت).

زه بیا ابواحمد ته ووایم چې په هوټل کې مې زړه تنګیږي او غواړم له عجب ګل او توریالي سره یو څو وخته تیر کړم. دی راته ووایي هیڅ مشکل نه دی. کله چې وځم نو دوه کسه باډیګارډان راسره ولیږي. همدارنګه یو بل افسر ته پټ څه ووایي. هغه افسر له ماسره تر موټره لاړ شي. په موټر کې چې کښینم نو راته یو بنډل پیسې راکړي او راته ووایي چې دا دوه کسه او دا موټر به تر هغه تاسره وي تر څو چې ته زمونږ میلمه یې. له روغتونه په هماغه موټر کې له باډیګارډانو سره د عجب ګل ځای ته ورشم.

درې میاشتې له عجب ګل او توریالي سره همله پاتې شوم. په دا درې میاشتو کې مې ډیر څه زده کړل. د ژوند او انسانانو په اړه مې پکې فکر بدل شو او عقل مې سرته راغی. هلته پوه شوم چې مونږ د نړۍ تر ټولو جاهل، شاته پاتې، کمعقل، له دنیا ناخبره او په یوه خیالي دنیا کې اوسیدونکي خلک یو. خو تر ټولو ډیر دې ته ځوریدم چې ډیری خلک مو پخپل دغه جهالت ویاړي او همدغه د جهالت ژوند غواړي. ریښتیا هم د خلکو غلطول اسان دي خو د غلط شویو خلکو پدې پوهول چې دوی غلط شوي ډیر ګران کار دی. پښتانه ملایانو ډیر په اسانه غلط کړل خو اوس دا ډیر سخت کار دی چې دوی پدې پوهه کړې چې دوی غلط شوي ځکه اوس پښتانه هغو ځنځیرونو ته چې دوی پرې تړلي د تقدس په سترګه ګوري. د خپلو جنتو لپاره او د خپلو دوزخو له ډاره یې خپل جنت غوندې هیواد اول ټوټې ټوټې کړ او بیا یې ځانته ترینه دوزخ جوړ کړ. دنیا چیرته ورسیده خو مونږ نور هم شاته روان یو. لا هم لکه د اوومې پیړۍ په شان عقیده لرو چې دنیا د کفارو لپاره ده او مسلمان باید خپله ټوله توجه په هغې دنیا واچوي. وحشت راته عادي شوی. د ژوند هیڅ سهولت ته هم لاسرسی نلرو. علم مو په مکمل ډول پریښی. د ځوانانو او پیغلو لوی ارمان مو جهاد او شهادت دی. نه د هیواد غم ورسره شته نه د ملت او نه هم د خپلوانو. کورني ارزښتونه له مینځه تللي او د خپلې عقیدې لپاره پلار ان اولاد قربانوي او اولاد ان مور او پلار.))

قاري صیب بیا ووایي: ((بس ما خو له هماغه وخت نه فیصله وکړه چې د عربو جنت ته نه ځم. د یو ښه انسان په حیث به ښه ژوند کوم او کوښښ به کوم چې له نورو سره مرسته وکړم. که جنت وي نو د کایناتو خدای به یې راکړي که نه وي نو پښتنو به د هیڅ لپاره خپل ژوند ضایع کړی وي.

هغوی چې نن هر څه پرته له کوم عقلي او منطقي ثبوته خدای ته منصوبوي نو پدې دنیا به هم د نورو لاس لاندې په جهالت او غربت کې ژوند تیروي او که جنت او دوزخ وي نو په پټو سترګو د هرې بې علمه او بې منطقه خبرې منلو په تور به یې هلته هم دوزخ ځای وي.))

بیا ما او توریالي ته مخ راواړوي او راته ووایي: ((پوهیږم دې خبرو ته مې کوم علمي ثبوت نلرم. خو مذهبیان هم خپلو خبرو ته کوم علمي، عقلي او منطقي ثبوت نلري. د هغوی په نسبت زما دا خبرې خو لږ تر لږه په منطق برابرې دي. هغوی خو د خلکو خبرې خدای ته منصوبوي. خدای څه ضرورت لري چې یو کس سره په پټ ځای کې پټې خبرې وکړي؟ داسې خو هر څوک دعوه کولای شي چې ما سره خدای خبرې کړي او راته ویلي یې دي چې څه خلکو ته ووایه چې دا کارونه وکړي او دا نه. خدای ته خو هیڅ هم مشکل نه دي. که وغواړي چې انسانانو ته څه ووایي نو خپله یې هم ورته ویلای شي. چې په یو وخت د ملیونونو انسانانو دعا اوریدای شي نو خبرې هم ورسره کولای شي. خدای لایتناهي قدرت لري او دا ورته

هیڅ مشکل نه دي چې له هر انسان سره بېل بېل وغږېږي او خپله خبره ورته وکړي. داسې به د دینو په سر د کاروباریانو اصلي څېره هم خلکو ته معلومه شي.))

له لږ فکر نه وروسته قاري صیب ووايي: ((زه خو وایم چې خدای مونږ ته عقل راکړی تر څو خپله لاره پرې پیدا کړو. نور هغه زمونږ په ژوند کې مداخله نه کوي. ځکه نو نه مو ښیرا ځای نیسي نه دعا. یوازې د عقل استعمالول او کار باندې خپل مشکلات حلولای شو او په پښو درېدلای شو. خو زه له پښتنو دا طمع نه لرم ځکه پښتانه دیني نشې داسې بیخوده کړي چې د عقل استعمالول ورته ګناه ښکاري. همدا دلیل دی چې زه له پښتنو نااميده شوی یم. دوی اوس هغې مرحلې ته رسیدلي چې څوک یې هم نشي ژغورلای او له مینځه تګ یې حتمي دی. دوی خپلې تباهي ته منډې وروهي. خو دا ښه ده چې افغانستان تجزیه شو کنه اوس به نورو قومو هم زمونږ د جهالت قیمت پرې کاوه.))

قاري صیب بیا چپ شي او همداسې سوچ کې ډوب شي. په کوټه کې یو څو شیبې خاموشي خپره شي. له لږ ځنډ وروسته ترینه پوښتنه وکړم چې څه وخت بیرته کابل ته راغلې؟ هغه راته ووايي: ((درې میاشتې وروسته زه او توریالۍ بیرته له ابو احمد سره کابل ته راغلو. ما نه غوښتل چې الهاشمي ته کار وکړم خو د ابواحمد په ټینګار مې په کابل کې د جلب او جذب د یو مرکز مشرتوب ومنه او توریالۍ مې خپل معاون وټاکه.

ابواحمد په خراسان کې د سعودي تر ټولو لوړ رتبه افسر او د سعودي نماینده دی. الهاشمي د ابو احمد ځای ته هفته کې دوه ځله ورځي او خپل کاري راپور ورکوي. څو څل به چې مونږ له ابواحمد سره وو نو الهاشمي به راغی. د ابو احمد د شطرنج لوبه خوښیږي. چې ورشو نو له توریالي سره خامخا د شطرنج یوه لوبه کوي. کله کله خو توریالي او ما پسې اواحوال رالیږي چې ورشو. ځیني وخت چې مونږ هلته یو او الهاشمي راشي نو ابواحمد مونږ ته په ټوکو کې وایي چې خلیفه مو راغی. بیا الهاشمي تر هغه منتظر کښینوي چې تر څو یې د شطرنج لوبه نه وي خلاصه کړې.))

قاري صیب بیا د ابو احمد په اړه راته ووايي: ((ابو احمد په غرب کې زده کړه کړې او تر ډیره یو روشنفکره انسان دی خو د خپلو ملي ګټو په وجه مجبور دی چې د خراسان خلافت وساتي. یوه ورځ یې راته وویل چې زما نه خوښیږي چې میلونونه پښتانه دې زمونږ لپاره قرباني شي خو همدې کې زمونږ ملي ګټه ده او زه مجبور یم خپله خوښه پخپلې ملي ګټې باندې قربان کړم. بیا یې وویل چې پدې کې زمونږ هم دومره ګناه نشته. پښتانه خپله غواړي چې یو بادار دې ولري او د هغه لپاره دې خپل سر، اولاد، ناموس او مال قربان کړي. پنجابیان، بنګله دیشیان، ایرانیان او نور چې نه غواړي نو د نورو د ګټو لپاره نه قربانیږي. په اخر کې یې راته وویل چې د پښتنو تر الهاشمي او عربو لوی دښمن د دوی خپل جهالت دی ځکه همدا جهالت دوی مجبوروي چې هر څه په پټو سترګو پرته له پوښتنې کولو ومني.))

همدې خبرو کې ډوډۍ وخورو او دسترخان ټول کړو. له چایو څخه وروسته ویده شو. سهار چې راپاڅیږم نو قاري صیب نه وي. توریالۍ راته ووايي چې په قاري صیب پسې سهار وخته د ابواحمد کسان راغلي وو هغه سره یې څه ضروري کار دی.

توریالۍ راته ووایي راځه ما سره کار ته لاړ شه. قاري صیب هم بیا همالته راځي. له توریالي سره پیاده روان شم. په لاره کې راته توریالۍ وایي چې د پښتنو لپاره په ټول خراسان کې پنځه روغتونونه هم نشته. ډیری پښتانه ډاکټران کافران ګڼي او په ځای یې په دمو او تعویذو تکیه کوي. دوی مرضونه د خدای لخوا یو امتحان او یا هم د کومې ګناه سزا ګڼي. ځینې خلک خو ان وایي چې که څوک نه ناجوړه کیږي نو پخپل ایمان دې وډار شي. د ښې غذا، ډاکټر او دوا د نشتوالي په وجه د پښتنو اوسط عمر تر ۴۰ هم کم دی او د کمزوري وجود په وجه له عادي مرضو هم مړه کیږي. کله چې څوک له مرضه مړه شي نو خلک وایي چې ګناهونه یې وتړکیدل او خدای وبښلو. هر کال لکونه کسان د طبي مرستو له نشتوالي او خراب ژوند له امله مري. همدارنګه یو زیات شمیر میندې د ماشوم پیدا کیدو په وخت کې مري. که څه هم د پښتنو د ماشوم زیږولو کارخانې چالانده دي خو بیا هم د پښتنو نفوس د جهادو او مرضو په وجه په کمیدو دی.

تیر کال په څو جنوبي ولایاتو کې د انفلوینزا ناروغي راغلې وه. د الهاشمي بهرنیو عسکرو هغه سیمې کلابندې کړې او څوک یې نه پریښودل چې ترینه راووځي یا هلته لاړ شي. نتیجه کې یې تر پنځه لکه ډیر کسان په شمول د ماشومانو مړه شول او یا هم دوی ووژل. د مړو د بوی له وجهې د هغو سیمو څنګ ته هم څوک نشوای تیریدای. الهاشمي له پاکستاني اردو مرسته وغوښته. پاکستاني هوایي ځواک د نیپام بمونو (دا بمونه په سیمه کې اور تولیدوي او هر څه سوځوي) او یو ډول نورو کیمیاوي سلاو پواسطه د دغو سیمو مړي وسوځول. لدې کاره چې کله ملګري ملتونه خبر شول نو په خراسان یې سخت انتقادونه ونیول خو د پاکستان، سعودي او د دوی د ملاتړو د فشار په وجه یې څه ونشوای کړای. په څو هفتو کې دا موضوع خاموشه شوه.

الهاشمي خراسان داسې ساتي لکه دچرګانو فارم. ناجوړه له مینځه وړي او جوړ جهادو ته لیږي. نن د پښتنو د ژوند هدف همدا دی چې خپل سر د عربو د ګټو لپاره قربان کړي. او دا کار پښتون د جنت او حورو لپاره په خوشالۍ کوي.

د مرضو تر څنګ لوږه هم د الهاشمي د خلافت لویه ستونزه ده په ځانګړې توګه په لرې پرتو سیمو کې. دا څو کاله د وچکالۍ او مرضونو په وجه فصلونه ښه حاصل نه کوي ځکه نو په یو شمیر سیمو کې خلک له لوږې سره مخ دي. د دغو سیمو ملایان خلکو ته د اصحابانو د لوږو قیصې کوي او ورته وایي چې لکه اصحابانو مو په خیټو پوړې مو تیګې وتړئ. خو دا کار د ګټې په ځای تاوان لري ځکه د دوی لا ډیره انرژي مصرفوي او نور یې هم وږي کوي. په خلافت کې هفته کې دوه ځل د باران لپاره مونځونه کیږي خو باران نه کیږي. پښتانه بیا هم ځان ملامتوي چې حتماً یې اعمال خرابه دي چې خدای پرې خپل رحم نه اوروي. د پښتنو فکر داسې شوی چې که باران پرې ډیر شي او سیلاب شي هم ځان ملامتوي او خپل ګناهونه ددې سیلاب د راتلو سبب ګڼي. او که باران پرې کم شي او وچکالي شي بیا هم ځان ملامتوي او خپل ګناهونه د وچکالۍ دلیل ګڼي. نور خلک په کار خپل تقدیر جوړوي خو دوی له خدایه غواړي چې هر کال دومره باران ووري چې نه وچکالي شي او نه سیلاب. لنډه دا چې پښتانه هره طبعي پیښه او غیرنورمال حالت له خپلو اعمالو سره تړي. ددې په ځای چې له دغې طبعي پیښې یا غیر نورمال حالت سره مقابله کړي او خپل حالت بدل کړي، ځانونه ملامتوي او خدای ته ژړاګانې او عذرونه کوي تر څو

هغه یې حالت بدل کړي. خدای به هم پدې کمعقلو پوريې څنګه خاندي. په هر صورت که د لريو پرتو سيمو په اړه الهاشمي کوم اقدام ونکړي نو په راتلونکو دوه درې هفتو کې به لکونه خلک له لوږې مړه شي.

عام پښتانه نه برق لري، نه روغتون، نه سرک، نه ښوونځی او نه هم کوم بل عام المنفعه ځای. دوی دا شيان خپله هم نه غواړي ځکه وايي که دا شيان ولري نو له دنيا سره به يې مينه پيدا شي او د آخرت په اړه به بيا دومره فکر نه کوي. ځينو خلکو چې په کورو باندې يې له پخوا دوه يا درې منزله آبادي جوړه کړې وه، چې د اصحابانو د ساده ژوند قيصې واوريدې نو لکه د اصحابانو يې هغه دوهم او دريم پوړ ترينه ونړول. دوی وايي چې خدای به دوی په سره تبی دروي او د هرڅه پوښتنه به ترينه کوي. د چا چې مال ډير وي هغوی به په دغه تبی ډير درېږي او د هر څه ځواب به ورکوي.))

توريالی په غصه شي او ووايي: ((دا خلک دومره احمقان دي. له يوې خوا ورته د سليمان او سکندر ذولقرنين چې لويې لويې باچايانې يې درلودې صفتونه کوي او هم ورته وايي چې خيرات ورکوونکی تر خيرات اخيستونکي ښه دی خو له بلې خوا يې د غريبي ژوند ته هڅوي. ريښتيا هم چيرته چې له ډاره پوښتنې کول نه وي نو همداسې بې منطقه شيان به خلک په پټو سترګو مني او ښه ژوند کول به ورته ګناه ښکاري.))

بيا ووايي: ((ماشومان يې چې د ۵ يا ۶ کلو شي نو بيا يې مدرسې ته ليږي. دوی په مدرسو کې مياشتې مياشتې او يا هم کلونه کلونه پراته وي. د ملا او مولوي چې څه زړه وي هغه پرې کوي. نه څوک ترينه خبريږي او نه څوک دا جرئت لري چې له ملا پوښتنه وکړي چې له دغو ماشومانو څه ډول کټه اخلي. همدارنګه له ماشومتوبه د دوی ماغزه مينځل کيږي او سخت دريزه وهابي مسلمانان رالويږي. ددې ترڅنګ له ماشومتوبه نظامي زده کړې هم ورکول کيږي. چې لوی شي نو په پښتنو کې همدا ډله خلک د الهاشمي تر ټولو خطرناکه عسکر شي. دوی ته له ماشوموالي يوازې وژل ورزده کيږي.

په خراسان کې ټول خلک هم په بد حالت کې ژوند نه کوي. ديني عالمانو او ملايانو ته خلافت مياشتينۍ تنخوا، د قربانۍ پسونه او کارتن کارتن خرماوې ورکوي. د بهرنيو مجاهدينو بيا تر ټولو ښه ژوند دی. دوی ته د هوايي ميدانو تر څنګ بيل ښارګوټي جوړ شوي چې يوازې دوی پکې ژوند کوي. پدې ښارګوټو کې دوی پاخه کورونه، برق، سټلايټ ټيليفون، په کور کې انټرنيټ، روغتون، ښوونځي او نور سهولتونه لري. دغو ښارګوټو ته د پښتنو نارينه نشي تلای يوازې پښتنې وينځې او هغه پښتنې کارګرې چې په دغو کورو کې کار کوي، دغو ښارګوټو ته د تګ اجازه لري.))

د ګاونډيانو او نورې نړۍ په اړه راته توريالی ووايي: ((له څه وخت نه چې آريانا له افغانستانه جدا شوې نو د ژوند په هر ډګر کې يې پرمختګونه کړي. خلک يې ښوونځيو، روغتونو او پوهنتونو ته لاسرسی لري. ډيری هيواد يې ۲۴ ساعته برق لري. سرکونه يې پاخه دي. په نړۍ کې د يو مذهبي افراطي يا ترهګري هيواد په حيث نه بلکې د يو آزاد سيکولر هيواد په حيث پيژندل کيږي چيرته چې د مسلمان او نامسلمان حقوق يو شان دي. چيرته چې خلک ملي ګټې پخپله عقيده يا په عربو نه قربانوي. په آريانا کې

لمړیتوب د آریانا ملي ګټو ته ورکړل شوی. زه خوشاله یم چې دوی له مونږ نه بیل شول کنه نن به دوی هم مونږ له ځانه سره پدې وحشت کې ساتلي وو.

په څنګ کې مو پاکستان هم ډیر پرمختګ کړی. ترهګر او ترهګر پلوه پښتانه او نور د جهادو شوقیان یې خراسان ته ولیږل. د قبایلو ځیني سیمې یې هم خراسان ته ورکړې. د الهاشمي په فتوا او د سعودي په مرسته پاکستان کې دننه مذهبي ترهګري ناروا او کبیره ګناه اعلان شوه. پاکستان اوس په هند او کشمیر کې د ترهګریزو بریدو لپاره له خراسانه مفت ډلې ډلې مجاهدین بیایي. د پاکستان دولت همدارنګه د بلوچ آزادي غوښتونکو ملا ورماته کړه او د یو سلسله عملیاتو په ترڅ کې یې لکه د بنګله دیشیانو په شان لکونه بیګناه بلوچان ووژل. اوس د پاکستان اقتصاد د چین، امریکا، روس او سعودي په مرستو بیرته پخپلو پښو دریدلی. چین د کاشغر او ګوادر ترمینځ تجارتي لار جوړه کړې. پاکستان ورځ تر بلې پرمختګ کوي.

همدارنګه انسانان په لمړي ځل مریخ ته لاړل او په سپوږمۍ کې یې دایمي هستوګنځای جوړ کړی.
هایپرلووپ (نوی پرمختللی او ډیر لوړ سرعت لرونکی د ریل سیستم) ورو ورو د نړۍ هیوادونه او خلک سره نښلوي. ساینس دومره مخکې تللي چې اوس ماشومان د مور او پلار په خوښه ډیزانوي. که ته غواړې د ماشوم د ویښتانو، پوستکي او سترګو رنګ دې کوم خاص رنګ وي دوی یې ډې این اې درته اصلاح کوي.

نړیوالو دومره پرمختګ کړی چې زمونږ عقل ورته کار نه کوي خو زمونږ خلک لاهم په دیوانو، پیریانو، شیطانانو، ملایکو، ښامارانو او نورو خیالي کرکټرونو عقیده لري. پښتانه سره لدې چې د نړۍ شاته پاتې او په شلو غضبو ککړ خلک دي، بیا هم ځان په نورو بر او خپل ژوند په نورو بهتر ګڼي. دوی اوس په یوه خیالي دنیا کې اوسیږي او د یوې بلې خیالي دنیا انتظار باسي.))

په همدې قیصو کې د توریالي د کار ځای ته ورسیږو. هلته په قطارو کې یو شمیر نارینه جهاد ته د نوم لیکلو لپاره ولاړ وي. ډیری یې نوي ځوانان وي. توریالی راته ووایي چې یو ځل مرکز کې دننه حالات ګورم او بیرته راځم بیا به بازار ته لاړ شو. توریالی دننه لاړ شي او زه په قطارو کې ولاړو ځوانانو ته ګورم. په یو قطار کې ولاړ څو ځوانان چې عمرونه یې د ۱۴ او ۱۸ ترمینځ وي، پخپلو کې خبرې کوي او سره خاندي. ورنژدې شم او غوږ ورته ونیسم. په دوی کې یو ځوان هغه بل ته وایي: ((حنظله! که څه هم شرط حرام دی خو تاسره شرط تړم چې زه به تر تا خپلو حورو ته مخکې ځان رسوم.)). حنظله ورته وایي: ((معوذه! سمه ده خو داسې نه چې په جنت کې بیا مونږ سره هیڅ ونه وینې. لکه دلته چې سره ملګري یو په جنت کې هم باید همداسې ملګري واوسو او په هفته کې باید یوه ورځ د خپلو حورو په ځای پخپلو مینځو کې لوبې وکړو. پدې دنیا کې مو د ګناه له ډاره هیڅ لوبې نه دي کړي خو په هغې دنیا کې به یې سره کوو.)) بیا ټول پدې فیصله وکړي چې هره جمعه به په جنت کې ټول سره یو ځای کیږي.

زه حیران شم چې دوی څنګه دومره مطمین دي چې دوی به خامخا جنت ته ځي؟ یو چا ورته د حورو او جنت ته د تګ وعده ورکړې. دوی هم په پټو سترګو منلي او دا فکر یې نه دی کړی چې که دې کس ورته دروغ ویلي وي نو بیا خو یې خپل ټول ژوند ضایع کړ. د دوی دا اطمینان چې دوی په حقه دي ما ډیر

وځوروي او د پښتنو په حال ډېر افسوس راشي. ځان سره فکر کوم چې يو ۱۴ کلن هلک په حورو څه کوي؟ په همدې فکر کې يم چې توريالی راشي. هغه چې زما په مخ خفګان ويني نو راته وايي: ((دا چې جهادو ته په قطارو کې ولاړ دي دا بد انسانان نه دي. مشکل په دوی کې نه دی. مشکل د جنتو او حورو په وعدو کې دی. دوی داسې دی لکه وږي. يو وږي ته چې ته د يو کار په بدل کې د ډوډۍ وعده ورکړې نو هغه يې خامخا کوي. ګناه د انسان نه ده بلکې د هغې عقيدې او مفکورې ده چې مجبور انسان داسې کارو ته هڅوي او د دوی له مجبوريته ګټه اخلي. عقيده او مفکوره انسانانو ته رنګين خوبونه ورښيي او دوی هڅوي چې خپل او د نورو انسانانو ژوند واخلي. دا ځکه خو په هره عقيده او مفکوره کې تر ټولو ستره قرباني د خپلې عقيدې يا مفکورې لپاره سر ورکول دي. په اسلام کې هم د عقيدې لپاره د خپل ځان د قربانولو يا د شهادت مقام تر ټولو لوړ دی.))

بيا راته وايي: ((يو وخت زه هم لکه دوی غوندې وم. سترګې مې پټې وې. جهاد، شهادت، جنت او حورې ما هم منل او ځانته مې غوښتل. زه هم لکه دوی سل فيصده مطمين وم چې دا هر څه حقيقت دی او خدای به يې خامخا ماته راکوي. د عقيدې په وجه مې ان دا منل چې شهيدان نه خرابيږي. خو اوس پوهيږم چې حورې او شهادت د ځوانانو د غلطولو او د هغوی مرګ ته د هڅولو لپاره هسې چل دی. مړی، مړی دی که شهيد ورته وايې که مردار. ټول خرابيږي او بويونه ترينه ځي. زرګونه مړي يا د دوی په اصطلاح شهيدان مې وليدل چې ټول خراب شوي وو او بد بويونه ترينه تلل. دملايان يا ديني عالمان چې د شهيد د خوشبويي، خندا او خوراک قيصې کوي ټولې دروغ او د ځوانانو د غلطولو لپاره تشې افسانې دي. که شهادت او حورې ريښتيا وای نو دا ملايانو او ديني عالمانو به خپله پدې دونيا شپيته اويا يا اتيا کاله ژوند نه کاوه او نه به پخپل مرګ مړه کيدل بلکې په ځوانی کې به يې ځانونه شهيدانول.))

((که يې منې که نه خو همدا ژوند يو حقيقت دی او له بل ژوند نه مونږ نه يو خبر چې شته هم که نه)). دا خبره وکړي او بيا چپ شي.

له مرکز نه د بازار په لور روان شو. په لاره کې يو ښکلی جومات په مخه راشي. د جومات مخې ته ښځې، سپين ږيري، ماشومان او معيوبين خير غوښتلو ته ولاړ وي. له توريالي نه پوښتنه وکړم چې دا ښکلی جومات چا جوړ کړی. هغه راته وايي: ((د دې جومات په جوړولو کې د وينځو يو لوی تجار ډيری پيسې لګولي او پاتې پيسې يې د غريبو او وږو پښتنو له چندو پوره کړي. يوازې دا نه دی نژدې هره ولسوالۍ او کلي کې خلکو د چندو په زور لوی لوی پاخه جوماتونه جوړ کړي. پښتانه خو د ثواب ګټلو ليونيان دي. خپل کورونه يې په هر باران کې څاڅي او د کمزورې زلزلې زور هم نلري، خو د ثواب لپاره جوماتونه بيا کانکريټي جوړوي.

هر چيرته چې وګورې نو د خټو د زړو کورو په مينځ کې يې پاخه جوماتونه جوړ کړي. ځينې ځايو کې چې کله سيلابونه يا زلزلې د دوی خام کورونه وران کړي خو په پوخ کانکريټي جومات يې زور ونه رسيږي، نو د عقل ړانده دا کار بيا د جومات معجزه ګڼي. خو دا د جومات معجزه نه بلکې د کانکريټو زور وي. که دوی ريښتيا هم فکر کوي چې جومات يې معجزه لري نو لکه خپلو کورو دې يې خام جوړ کړي

بیا دې وګوري چې جوړ پاتې کیږي او که لکه د دوی کورو ورانیږي. خو بس چاته وایې. دا خلک کاشکې دومره فکر وکړي.

پښتانه که څه هم پخپل خدای ډیره کلکه عقیده لري او ان په نوم یې سر ورکوي خو بیا هم پخپل دې خدای دا اعتبار نلري چې هغه دې خپل کور (جومات) له سیلابو او زلزلو وساتلای شي. ځکه ورته دوی کانکریټي جوماتونه جوړوي.))

توریالی بیا جومات ته ګوري او پداسې حال کې چې سر ښوروي راته ووایي: ((پښتانه که دغه د چندو پیسې پخپلو کورو نه لګوي نو د هر جومات مخکې چې دا درجن درجن سوالګر ولاړ دي دوی ته دې یې ورکړي. په خلافت کې یو زیات شمیر خلک له لوږې سره مخ دي خو دوی بیا هم پاخه پاخه جوماتونه جوړوي.

یو شی چې په خراسان کې ډیر دی هغه جوماتونه دي. الهاشمي د همدې جوماتو پواسطه ځایي خلک کنټرولوي. د هر جومات امام د خپلې سیمې خلکو ته د الهاشمي فرمانونه او پیغامونه رسوي او ترڅنګ یې الهاشمي ته د خپلې سیمې جاسوسي کوي. الهاشمي هم د دې کار په بدل کې دوی په خیټه ښه ماړه ساتي.))

له جوماته وړاندې یو د کتابو دوکان په مخه راشي. زه حیران شم چې دا څنګه امکان لري چې په دې ماحول کې دې د کتابو دوکان وي. دوکان ته له توریالي سره ورننوځم. په دوکان کې فضایل اعمال، د نسیم حجازي ناولونه، د خوب تعبیر د قران او سنتو په رڼا کې، شروط الصلات، قدوري، کنز، فقه اکبر، پنج ګنج، له وینځو سره رویه، د شهوت کمولو اسلامي لارې، د مسواک فواید، استنجا په اوبو که په لوټه؟، د شهید فضایل، د جهاد فضایل، د اسلام د خلیفه الهاشمي ساده ژوند، مسنون دعاګاني... لنډه دا چې ټول پکې دیني کتابونه وي.

له دوکانداره چې له قوارې نه دیني عالم ښکاري، پوښتنه وکړم چې نور علمي کتابونه درسره شته. هغه راته ووایي: ((علمي کتابونه خو همدا دي. که مقصد دې له نورو علمي کتابو د شیطاني علومو یا د کوپارو پواسطه لیکل شوي سینسي کتابونه وي نو هغه شکر دی په خلافت کې بند دي ځکه دغه کتابونه له اسلام سره په تضاد کې دي او د مسلمانانو عقیده خرابوي. مونږ الحمد لله قوي عقیده لرو او د دښمن له پټو دسیسو ښه خبر یو. ددغو کتابو یوازینی هدف د دې مومن او مجاهد ملت له اسلامه اړول دي. ټوله دنیا راته یوې خوا ته شوې تر څو زمونږ عقیده راخرابه کړي خو په مونږ یې الحمدو لله بیا هم زور نه رسیږي ځکه له مونږ سره الهي مرسته ده.))

دوکاندار لا لګیا وي چې توریالی یې خبره قطع کړي او ورته ووایي: ((کینه مړه ډیر ټوپونه مه وهه. هغه د ځوانانو د شوق کتاب ورکه.)) دوکاندار په خندا شي او ما ته ووایي چې ښه نو داسې وایه کنه. د یو غټ تفسیر د یو جلد شا نه یو وړوکی کتاب راواخلي او ماته یې راکړي. زه چې کتاب ته وګورم نو پرې لیکلي وي د واده لمړی شپه. توریالي نه وپوښتم چې دا څه دي؟

هغه په خندا راته ووایي: ((دلته همدا د ځوانانو تفریح ده. لکه د نورې نړۍ نه تلویزون شته، نه انټرنیټ او نه هم فلم. هغه لږ شمیر ځوانان چې وس لري وینځې اخلي. کوم چې وس نلري خو لیک او لوست یې زده وي نو له دې ډول کتابو خوند اخلي. کوم چې نه وس لري او نه یې لیک او لوست زده وي له هغوی نه د کلیو حیوانات په تنګ دي.)) بیا راته ووایي: ((هر ځوان سالمې تفریح ته ضرورت لري خو الهاشمي د ځوانانو لپاره قصداً حالات همداسې خراب کړي. تر څو ځوانان چې د ځوانۍ په جوش کې وي ښه وږي کړي او بیا یې د حورو په قیصو غلط کړي او جهاد ته یې ولیږي.))

زه کتاب په میز کیږدم او دوکاندار ته برګ برګ وګورم. دوکاندار په سترګو کې وشرمیږي او سر ټیټ واچوي. له دې دوکانه راوځو. په لاره کې توریالی راته ووایي: ((هیڅکله هم د مذهبیانو په غټو غټو خبرو غلط نشې. د دوی دا خبرې لکه د دې دوکاندار په شان هسې هوایي دي. دوی تر مونږ زیات د خپلو خواهشاتو تابع دي. خو دوی د دین پوښ اغوستی ځکه نو خلکو ته په اسانه فریب ورکولای شي.))

لږ مخکې د وینځو یو لوی دکان وي. هلته له ماشومانو نه تر د پوخ عمر پورې ښځې نیمه لوڅې ولاړې وي. د دوی یوه پښه په زنجیر تړلې وي او نشي کولای له خپل ځایه یو متر هم لرې لاړه شي. د دوکان په یوه برخه کې په لویه تخته لیکل شوي وي: ((خرڅې شوې وینځې بیرته په هغې بیه نه اخیستل کیږي)). خلک راځي او له سر نه تر پښو پورې یې ګوري. که یې خوښې شي اخلي یې کنه ترینه ځي. زه حیران شم. توریالي ته ووایم چې دا ښځې خو بیخي لوڅې دي. خلک یې هر ځای ګوري او لاس پرې وهي. دا څنګه اسلامي خلافت دی چې داسې عیاشي پکې ازاده ده؟ دا کار خو د امریکا د لاس ویګس د ښار په بازار کې هم څوک نشي کولای.

مخکې لدې چې توریالی ځواب راکړي د دوکان مالک چې اوږده توره ږیره لري، سترګې یې تورې کړې وي، د مړو عطر یې وهلي وي او سپین پاچ یې په سر وي، راته ووایي: ((دا خو وینځې دي. شریعت اجازه راکړې چې لکه مال غوندې یې خلک ټولې وګوري. که خوښې یې شي اخلي یې که یې نشي خوښې نو نه یې اخلي. که دا څوک واخلي او ازادې یې کړي بیا نو باید لکه د نورو ښځو پټې جامې واغوندي. اوس خو وینځې دي ځکه ورته کتل او لاس پرې وهل روا دي.))

زه حیران شم او ورته ووایم. چې دا خو انسانانې دي. وینځه او ازاده یې چا راویستې. یو انسان هیڅکله هم د بل انسان ملکیت نشي کیدای. د دوکان مالک مې خبره په نیمه کې راقطع کړي او په غصه راته ووایي: ((دا څه ګډې وډې وایې؟ ته له قران کریمه ښه پوهیږې؟ خدای مونږ ته وینځې روا کړي ته څوک یې چې مونږ ته یې ناروا کوې او د یوې ازادې ښځې درجه ورکوې. ستا عقیده خرابه شوې که همداسې مړ شې نو دوزخ ته به لاړ شې. ځه ایمان دې تازه کړه)).

زه ورته بیا ووایم چې ته څنګه پښتون یې چې داسې خبرې کوې. پښتونولۍ کې خو وینځې نشته. یو پښتون هرې پردۍ تورسرې ته د عزت په سترګه ګوري.

دوکاندار راته ووايي: ((زه اول مسلمان يم بيا پښتون يم. ما ته تر پښتونولي اسلام مهم دی. د خلافت په شرعي قانون کې دا وينځې اوس زما مال دی. که دې خوښې وي وايي خله کنه ځه لار دې وهه. دلته پښتونولي نه چليږي دلته يوازې اسلام چليږي.))

ځان سره فکر وکړم چې که دا ښه سړی وي نو د هيرامنډۍ دلالان هم ښه خلک دي ځکه دواړه د ښځو کاروبار کوي. خو د هيرامنډۍ دلال پرې ډير شرف ځکه لري چې د هيرامنډۍ ښځې پخپله خوښه ده ته راغلي. د خپل ځان مالکې دي او دلالان يې په چا خرڅولای نشي. ولې دا کس له انسانانو د هغوی بنيادي حق (ازادي) اخلي او بيا يې بربنډې په بازار کې لکه مال خرڅوي. خو دين کې بيا هم د هيرا منډۍ دلال بد او د وينځو تجار ښه سړی دی او کاروبار يې ناروا نه دی.

که څه هم په اسلام کې وينځې ستا ملکيت دی او تا ته روا ده چې ورسره څملې خو په مهذبو انساني ټولنو کې دا کار غلط دی. اول خو بل انسان ستا ملکيت نشي کيدای بل دا چې ته نشې کولای په چا جنسي تيری وکړې. په همدې فکرو کې مې پدې خبره نوره هم عقيده کلکه شي چې تر هر دينه انسانيت لوړ دی. هر انسان بايد تر دينه هم مخکې اول انسانيت ومني او په ځان يې پلې کړي. همدارنګه هر انسان بايد هر هغه څه ونه مني چې د انسانيت په لحاظ غلط خو د دين په لحاظ سم وي لکه دغه د وينځو موضوع.

له ځان سره په همدې سوچو کې يم چې يوه ښځه چې تور نقاب يې اغوستی وي هم دوکان ته راننوځي. دوکاندار ته ووايي چې يوه ۱۴ کلنه يا لدې نه هم د کم عمر سپينه او ښايسته جينۍ چې قد يې هم ټيټ نه وي راوښايه چې ميړه ته مې يې تحفه کړم.

د دې نقابي ښځې اواز راته شناخته غوندې ښکاره شي. راياد شي چې دا مې لکه چې د نرانو د نوم ليکنې په مرکز کې ليدلې وه چې خپل ميړه ابو حمزه سره يې په مخه ښه کوله. ورنه پوښتنه وکړم چې آيا ته د ابوحمزه ښځه نه يې چې د جلب او جذب په مرکز کې دې ور سره مخه ښه کوله. راته يې وکتل او ويې ويل: ((هو زه هماغه د ابوحمزه ښځه يم. له ابو حمزه نه مې چې طلاق واخيست نو په هماغه ساعت د ښځو د نوم ليکلو مرکز ته لاړم. له هغه ځايه يې د عرب مجاهدينو خدمت ته وليږلم او يو عرب ته يې په نکاح کړم. خو هغه پرون سهار بيرته سعودي ته لاړ. ما ته يې طلاق راکړ او له خپل ملګري معاويه سره يې پريښودم. بيګاه مې له معاويه سره نکاح وکړه. معاويه هم ډير ښه سړی دي او زه غواړم چې دا څومره وخت چې ما سره تيروي راته پکې خوشاله وي تر څو الله ج راته راضي شي. د ميړه رضا د خدای رضا ده. د معاويه د کم عمر سپينې جينکۍ ډيرې خوښيږي ځکه ورته اوس يوه وينځه اخلم.)) زه ورته حيران وګورم او پوښتنه ترينه وکړم چې له ژوند نه دې خوشاله يې؟ هغه راته ووايي: ((شکر الحمدو لله ډيره خوشاله يم چې ژوند مې د خدای په لاره کې د مجاهدينو په خدمت تيروم. دا دوه ورځې دنيا خو هسې هم تيريده. اوس چې د مجاهدينو په خدمت کې تيريږي نو هم به مې خپل خدای ج راته خوشاله وي او هم به مې جنت ګرنټي وي.))

دوکاندار ورته يوه ښايسته لوړه جينۍ چې نيمه لوڅه وي راولي. بيا مسکۍ شي او دې ښځې ته وايي: ((دا مې درته له دننه نه راوسته. دننه مال مونږ خاص ميلمنو مجاهدينو ته ساتلی ځکه هغوی يې په ښه قيمت

اخلي. تا ته مې هم ځکه له دننه نه راوسته چې کوم عرب ته يې اخلي.)) ښځه دې جينۍ ته ښکته پورته وګوري او بيا دوکاندار ته ووايي چې هو همدا ښه ده. دوکاندار يې لاسو کې پړۍ او غاړه کې کړۍ ورواچوي او يو څادر ترينه تاو کړي. بيا يې پړۍ ښځې ته په لاس ورکړي. ښځه دوکاندار ته پيسې ورکړي او دا جينۍ له ځانه سره يې بوځي.

توريالی چې دا حالت ويني نو راته ووايي چې دين کې داسې مزې دي: ((څومره عياشي چې په دين کې ده په بې دينۍ کې نشته خو فقط دومره به کوې چې لاره به يې پيدا کوې. چې څوک يې يو ځل لار پيدا کړي هغه هم پدې دنيا عياشي کوي او هم په هغې دنيا کې د مزو وعدې ورکول شوي.)) بيا راته ووايي: ((که يوه جينۍ له کوم هلک سره پخپله خوښه وتښتي نو پدې خلافت کې پرې حد جاري کيږي خو دا ښځه په دا څو ورځو کې له درې مختلفو کسانو سره څملاسته ولې بيا هم خلافت څه ورته نه وايي ځکه دې ته يې لاره معلومه ده. دې پخپل کار د نکاح نوم ايښی. کار هماغه يو دی خو ددې ثواب او د تښتيدونکې جينۍ ګناه لري. چې دا معاويه به يې څومره عياش وي. بس دلته هره عياشي کوه خو فقط د دين پوښ ورواغونده. نه يوازې دا چې بد کار نه دی بلکې ثواب هم لري.))

بيا يو څو شيبې چپ شي. خو داسې ښکاري چې زړه يې طاقت ونکړي او راته ووايي: ((دا ښځې چې دلته په دوکان کې خرڅلانه ته نيمه لوڅې ولاړې دي، دا د اوس نړۍ په هر انساني قانون کې ازاد انسانان دي او بايد ازاد ژوند ولري. خو د انساني قوانينو برعکس اسلام له دوی نه د دوی ازادي اخيستې. دوی ځکه دلته نيمه لوڅې ولاړې دي چې اسلام د وينځو درلودلو او له هغوی سره د جنسي اړيکو ساتلو اجازه ورکړې. هغه ظالم چې دوی نيسي، يا يې خرڅوي او يا هم ترينه جنسي ګټه اخلي هم د اسلام په خوله دا کار کوي. که اسلام اجازه نه وای ورکړې نو دوی دا کار نه کاوه.

دوی په نوره نړۍ پسې خاندې چې هلته فحش ډير دی خو هلته خو لږ تر لږه د دواړو خواو خوښه وي. نه ښځه د چا ملکيت وي او نه څوک داسې جنسي تيري په ښځو شي کولای. که څوک يې کوي هم نو د انساني قانون په اساس سختې سزاوې ورکول کيږي. دلته تر هر ځايه فحش ډير دی خو د دين تر څادر لاندې دی ځکه خلکو ته نه ښکاري.))

بيا مسکی شي او ووايي چې ټولو ملګرو ته يې ويلي چې له وينځو ځان ساتي. ځکه د ده په وينا له وينځو سره هر ډول په مرضو اخته خلک څملي چې وينځې بيا دا مرضونه لسګونه نورو کسانو ته انتقالوي. دغه کسان يې بيا نورو وينځو ته او پدې ترتيب نورې وينځې يې نورو کسانو ته انتقالوي. اوس ترينه يوه ډيره لويه مسله جوړه شوې او د غريبو هيوادو ډيری بهرني مجاهدين د همدې وينځو له لاسه په مختلفو مرضو اخته شوي. خلافت هم پدې مشکل خبر دی خو له شرمه پدې اړه څه نه وايي. د دغو مرضو په وجه اوس مالداره عربان په خراسان کې يوازې باکره انجونې غواړي. که ورته پيدا نشي نو دوی عياشي ته غرب او يا هم دوبۍ ته ځي. ځکه هلته دغه ډول ښځې هره مياشت ټيسټ کيږي تر څو مرضونه انتقال نکړي.

توريالی بيا دوکاندار ته ووايي چې مونږ غواړو دننه وينځې هم وګورو. خو دوکاندار ورته ووايي چې هغه يوازې د بهرنيو مجاهدينو لپاره دي. توريالی له جيبه د ريالونو يو بنډل راوباسي او دوکاندار ته يې وښيي.

د دوکاندار چې په پیسو سترګې ولګیږي ورته مسکۍ شي او توریالي ته ووايي: ((راځه راځه. دننه تازه مال راغلی. خامخا به دې پکې څوک خوښ شي.)) دوکاندار د دوکان شاته کوټې ته ننوځي. ورپسې زه ورننوځم. دننه په کوټه کې نژدې یو درجن ښځې چې ډیری یې کم عمره انجونې وې ناستې وې. توریالۍ چې ننوځي نو په وینځو کې یوه ښځه ورته په ورو اواز ووايي توریالیه!

توریالۍ چې ورروګوري نو چیغه کړي. غوټۍ!

بیا ژر خپل څادر راواخلي او دا وینځه پکې پټه کړي. دوکاندار ورته وايي دا وینځه نه خرڅوم ځکه بل چا تیاره ددې بیانیه راکړې. خو مخکې لدې چې دوکاندار بله خبره وکړي نو توریالۍ یې په خوله کې په سوک ووهي. بیا ماته راوګوري او راته ووايي دا زما خور ده. تر څو دوکاندار بیرته په توریالي وار کوي زه په څټ کې یو زورور سوک ورکړم. دوکاندار راوغورځیږي او بیهوشه شي. زه وینځو ته ووایم که څوک مو کورو ته ځئ همدا مو وخت دی لاړې شئ.

په دوی کې یوه رامخکې شي او راته ووايي: ((زمونږ ټول نارینه یې راوژلي. مونږ اوس چا ته ورشو. که لدې ځایه وتښتو نو د خلافت کسان مو نیسي او بیرته مو دې دوکاندار ته ورکوي. مونږ اوس د خلافت په شرعي قانون کې د دې دوکاندار ملکیت یاستو.))

بیا توریالي ته ووایم چې مخکې لدې چې د الهاشمي کسان راشي څه چې لدې ځایه ځو. مونږ له دوکانه وځو چې مولانا صبور ګوډ ګوډ کیږي او دوکان ته راننوځي. په توریالي یې سترګې ولګیږي او ورته ووايي زه په تا ملحد وینځې نه خرڅوم. مخکې لدې چې غوټۍ ته لاس ور اوږد کړي چې له توریالي یې راوګرځوي، توریالۍ په غصه ورته ووايي: ((ګوډ ملا له مخې مې لرې شه.)) بیا یې ټیله کړي. مولانا صبور وغورځیږي. مونږ له دوکانه راوځو. خو له شا نه مولانا صبور چیغې شروع کړي: ((هلی خلکو غله دي. د خدای په لحاظ راویې نیسئ، زما وینځې یې غلا کړې. امربالمعروفه څه شوې؟ د دې ملحدانو باید لاسونه پرې شي.))

مونږ ژر په ټیکسي کې کښینو او روان شو. خو له شا نه مولانا صبور راچیغې کړي چې پیژنم مو له قاري سره اوسیږئ. په ټیکسي کې توریالۍ راته ووايي چې زه خبر نه وم چې مولانا صبور د وینځو دلال هم دی. لږ وروسته د قاري صیب کور ته ورسیږو. توریالۍ د ګاونډیانو له کوره غوټۍ ته یو جوړ جامې راوړي. غوټۍ هغه جامې واغوندي او د توریالي څادر په سر کړي. ما او توریالۍ په دهلیز کې ولاړ یو چې غوټۍ هم هلته راشي.

توریالۍ ترینه پوښتنه وکړي چې دغلته څنګه لاړې؟ او روښان چیرته دی؟

غوټۍ په ژړا شي او ووايي: ((روښان په خراسان کې د بهرنیو مجاهدینو د شتون مخالف وو او د خراسان په ځای د افغانستان بیرته جوړیدو غوښتونکی وو. که څه هم هغه دا خبره پرته له نژدې ملګرو چا ته نه کوله خو یوه ورځ یې د جومات له ملا سره په کوم بحث کې له خولې دا خبره وتلې وه. ملا ژر بهرنیو مجاهدینو ته راپور ورکړی وو. کله چې روښان کورته راغی نو له لږ ځنډ وروسته یوه ډله مسلح کسان

چې ډېرې یې پنجابیان وو له ملا سره کورته راننوتل. ملا ورته روښان وروښود. هغوی زما په مخ کې روښان په ګولیو سورې سورې کړ. د کلي خلک چې راټول شول نو ملا ورته وویل چې روښان مرتد شوی او د قران سپکاوی یې کړی. هغوی د روښان مړی په غټو غټو ډبرو وویشت او بیا یې اور ورواچاوه. پنجابي مجاهدینو زه له لاسه ونیولم او له ځان سره یې موټر ته کش کړم. له دوی سره یو مسلح پښتون ملا ته وویل چې کور او سامان یې ستا غنیمت شو او وینځه یې د مجاهدینو. دغو کسانو زه څو میاشتې له ځان سره وساتلم.))

بیا یې له شرمه سترګې ټیټې کړې او په زګیرویو کې یې وویل: ((هره شپه یې راباندې ظلم کاوه. څو ځل مې د ځان وژلو کوښښ وکړ خو ناکامه شوم. اخر دغه ډله بیرته خپل وطن ته تلله او زه یې څو ورځې مخکې پدې دوکاندار خرڅه کړم. پرون دوه کسه عرب راغلي وو. دوکاندار راته وویل چې زه یې په هغوی خرڅه کړم او هغوی به دوه ورځې پس ما لدې ځایه ځان سره بوځي. خو ښه ده ته راغلي.)) بیا له خپل ورور نه لاسونه تاو کړي او ورته وایي: ((وروره! ما دې ظالمانو ته بیرته مه ورکوه. مړه مې کړه خو بیرته مې مه ورکوه.))

زه چې غوټۍ ته وګورم او د ابو حمزه له ښځې سره یې مقایسه کړم نو ځان سره ووایم چې نه ولا ټول پښتانه مو هم دیني نشې ندي بیخوده کړي. لا هم یو څه غیرتي پښتانه او پښتنې لرو چې نه غواړي خپل عزت یې د نورو د عقیدې قرباني شي. پدې وخت کې دروازه خلاصه شي او قاري صیب راننوځي. قاري صیب چې غوټۍ ووینې نو پوښتنه وکړي چې دا جینۍ څوک ده. زه قاري صیب بلې کوټې ته بوځم او ټوله قیصه ورته وکړم. قاري صیب راته وایي هیڅ غم مه کوه زه به دا موضوع حل کړم. د ابواحمد کسانو چې زه راوستلم بهر ولاړ دي که څوک په غوټۍ پسې راغلل مونږ به ورسره وګورو. لږ وروسته دوه ډاټسنې مسلح کسان راشي او د قاري صیب د کور دروازه وټکوي.

زه، توریالی او قاري صیب بهر وروځو. غوټۍ هم د دروازې له چاکه غلې راګوري. له ډاټسنو نژدې یو درجن مسلح کسان راښکته شي او زمونږ خوا ته راشي. په دوی کې مولانا صبور هم ګوډ ګوډ زمونږ خواته را روان وي. کله یې چې سترګې په توریالي ولګیږي نو یو مسلح کس ته وایي: ((طلحه صیب! دا دی هغه مرتد چې زما نه یې غلا کړې.)) د طلحه په لاس کې مخابره وي او داسې ښکاري چې د دې مسلح کسانو مشر وي.

طلحه توریالي ته راشي او ورنه پوښتنه وکړي چې آیا تا ریښتیا هم له ده نه غلا کړې؟ توریالی ځواب ورکړي چې ما ددې کس هیڅ هم نه دي غلا کړي. د دوی په خبرو کې مولانا صبور راټوپ کړي او طلحه ته وایي: ((دروغ وایي دا محلد. لږ مخکې یې له ما نه یوه وینځه راوتښتوله.)) توریالی ځواب ورکړي: ((بیغیرته هغه ستا وینځه نه ده زما خور ده.)) طلحه توریالي ته بیا وایي: ((که ستا خور وه خو اوس د خلافت په شرعي قانون کې د دې کس ملکیت دی.))

توریالی طلحه ته وایي چې که دا وینځه ستا خور وای آیا تا بیرته ورکوله؟ طلحه ورته وایي چې هو! ما ځکه بیرته ورکوله چې مونږ باید شرعي قانون اول په ځان عملي کړو بیا په نورو. مولانا صبور بیا د

دوی په خبرو کې راټوپ کړي: ((ما خو درته هغه بله ورځ هم وویلې چې زه مې خپله ټوله کورنی هم له اسلامه قربانوم. که دا ښځه زما لور یا خور وای نو ما پخپله دوکاندار ته ورسپارله او دا مې هم ورته ویل چې دوکاندار ته باید د خپل مالک په حیث وګوري. همدا شریعت دي او په همدې الله سبحانه وتعالا خوشالیږي.)) توریالی چې د مولانا صبور خبره واوري نو په غصه اواز کې ورته وایي: ((پوهیږم. چې ستا ښځه هم څوک وینځه کړي نو ته به د نالیدلي دوزخ له ډاره هغه هم د دوکاندار ملکیت ګڼې.))
ملاصبور ورته وایي: ((خود نو. په شرعي نظام کې خو وینځه د خپل مالک ملکیت وي نه د هغې د پلار، ورور یا میړه.))

توریالی بیا طلحه ته مخ ورواوړي او ورته وایي: ((ما ته مې پښتونولي او غیرت اجازه نه راکوي چې زما خور د چا وینځه وي او ډلې ډلې خلک دې پرې جنسي تیری کوي. تاسې نه به مو عقیدې بیغیرته جوړ کړي وي او د شرعي قانون لپاره به ان د خپل کور ښځې قربانوئ خو زه لکه تاسې بیغیرته نه یم. زما خور د چا ملکیت نه دی. هغه یو ازاد انسان دی. که تاسې کې چا ګوتې هم وروړې نو ولاکه رانه ژوند وکړئ. دا د بیغیرتي کارونه مو لکه دا ګوډ ملا غوندې خلکو سره وکړئ چې خپله پښتونولي، غیرت او انسانیت یې د خپلې عقیدې نه قربان کړي.))

مولانا صبور بیا په خبرو کې راټوپ کړي: ((زه مسلمان یم. یوازې شریعت پیژنم. پښتو او پښتونولي نه پیژنم. یوازې اسلامي شریعت منم او په اسلامي شریعت کې وینځه د هغې د مالک ملکیت وي ځکه نو ستا خور زما وینځه او د خلافت د شرعي قانون په اساس زما ملکیت دی. په شرعي قانون کې پښتو نه چلیږي.)) داسې ښکاري چې مولانا صبور له توریالي ډاریږي چې وار پرې ونکړي ځکه نوطلحه ته ځان ورنژدې کړي او توریالي ته په غصه کې وایي: ((ته څوک یې چې زمونږ په شرعي نظام پسې بد وایې. خدای په مونږ دومره لوی فضل کړی او د اصحابانو غوندې یو نظام یې راته جوړ کړی او ته ترینه پښتو او پښتونولي بهتره ګڼې. دا څه کفر وایې؟ ستا له لاسه به خدای ج مونږ ته هم په قهر شي.))

د دوی چې خبرې تودې شي نو د ابو احمد کسان چې له لرې ننداره کوي هم ورو ورو د دوی خواته را روان شي. طلحه د توریالي په خبره سخت په غصه شي خو چې د ابوحمد کسان وګوري چې دې خواته راروان دي او د موټر پلیټ یې وګوري نو پوهه شي چې دغه کسان عادي بهرنیان نه دي. توریالي ته په نرمه وایي: ((ته به ددې سړي وینځه بیرته ورکړې. مونږ سره به لاړ شې او په تا به مونږ د غلا حد جاري کوو.))

توریالی ورته وایي: ((یعني ستاسې په دین کې چې څوک د خپلې خور ناموس بچ کوي هغه باندې حد جاري کوئ؟ ما خو مې خپله خور له وحشتو او تیریو وژغورله. تاسې د دې په ځای چې زما دا کار وستایئ، په ما باندې شرعي حد جاري کوئ؟ بیا دعوې هم کوئ چې دین مو د عدالت دین دی او ښځو ته یې حقوق ورکړي. آیا ښځو ته مو همدا حق ورکړی چې باید وینځې شي؟)) مولانا صبور ژر ځواب ورکړي: ((اسلام ښځې له ژوندی ښخیدو وساتلې)). توریالی یې خبره قطع کړي او ورته وایي: ((څومره یې چې له ژوندی ښخیدو ساتلي د هغې څو چنده یې وینځې او د جنسي لیونیانو د هوس ښکار کړي.))

پدې وخت کې قاري صيب هم رامخکې شي او طلحه ته ووايي: ((د توريالي خور غوټۍ نوميږي. د چا ملکيت نه دی بلکې يو آزاد انسان دی. زه دومره بې پښتو او بيغيرته نه يم چې تاسې به د خپلې عقيدې لپاره زما له کوره تورسرې بيايئ او زه به درته ګورم. همدې کې مو خير دی چې لدې ځايه پښې سپکې کړئ او بيا هيڅ رانشئ.)) د قاري صيب د خبرو په مينځ کې د ابواحمد کسان هم راورسيږي. قاري صيب چې خبرې خلاصې کړي نو بيا هغوی ته ټوله قيصه وکړي. هغوی طلحه او د هغه کسانو ته وايي چې لدې ځايه همدا شيبه ورک شي او بيا د قاري صيب د کور خواته رانشي. طلحه پوهه شي چې لدې خلکو سره نه کيږي نو مولانا صبور ته ووايي چې دا وينځه توريالي ته وروبښي.

مولانا صبور طلحه ته ووايي: ((څنګه يې وروبښم؟ پيسې مې پرې ورکړي. زه انصاف غواړم. ما سره به عمري انصاف کوئ.)) د طلحه هم نوره حوصله ختمه شي او ورته ووايي: ((ته ريښتيا هم ډير احمق يې. په يوه پښه خو ګوډ يې که غواړې دا بله دې ماته نشي نو وينځه دې وروبښه کنه مونږ درنه ځو. ته پوه شه او دوی)) مولانا صبور چې پوه شي چې نور څه لاسته نه ورځي نو توريالي ته ووايي: ((په اخرت کې به زما لاس وي او ستا ګريوان. دا وينځه نه دربښم. له خپل خدای نه به انصاف غواړم.)) توريالی ورته ووايي: ((دعا کوه چې شريعت دی. که اوس دلته د پښتو حکومت وای نو وخته به مې ته په دا تندي ويشتلای وای چې بيا دې د چا د کور ښځو ته د وينځو په سترګه نه وای کتلای. بس شرعي نظام رانه نن ته بيغيرته خلاص کړې.))

دوی چې لاړ شي نو توريالی ما ته ووايي: ((يو شمير دا وحشيان چې کښيني بيا راته دا شعر وايي چې:

د پښتو فطرت مې دومره اسلامي دی
که اسلام نه وای نو هم به مسلمان وم

کاشکې دا کمعقل مخلوق پوهيدای چې پښتو او اسلام د ځمکې او اسمان فرق لري. يو د پښتنو کلتور دی او بل د وحشي عربو. هغوی چې په داسې شعرو عقيده لري که يې د کور ښځې څوک وينځې کړي نو ورته به د پښتونولي او اسلام يو لوی فرق معلوم شي. بيا چې سړی دوی ته ووايي چې څنګه اوس اسلام غواړې که پښتونولي نو عقل به يې سرته راشي.)) بيا لږ فکر وکړي او راته ووايي: ((ياره! فکر نه کوم که بيا هم د دوی عقل سرته راشي. دا خلک دين داسې نشه کړي چې که هر څه پرې وشي نو په هوش به رانشي. پښتون ته فقط يو د خيالي جنت يو سرټيفيکيټ ورکړه نور چې څه غواړې درته کوي يې. دومره فکر نه کوي چې جنت به وي هم که نه؟ که وي نو آيا د دې کس دا سرټيفيکيټ به کار وکړي او که هسې ما غلطوي؟ او که نه وي نو ولې زه ددې کس غلطې خبرې ومنم؟))

لږ وروسته د ابو احمد کسان هم رخصت کړو او کورته دننه لاړ شو. قاري صيب ما او توريالي ته ووايي چې حالات ډير خراب دي. کيدای شي دا د خراسان د اسلامي خلافت اخري کال شي.

بيا ووايي: ((ابو احمد غوښتی وم چې د خراسان په اړه مې د سعودي له پلانه خبر کړي. هغه راته وويل چې سعودي غواړي د يوې ډيرې لويې حملې له لارې په يمن، عراق، سوريه او پاتې منځنې ختيځ کې د ايران نفوذ په مکمل ډول له مينځه يوسي او د سعودي په ملاتړ سني دولتونه رامينځته کړي. همدارنګه

پلان لري چې د ایران ملاتړکوونکو هیوادو په ځانګړي ډول روس ته پخپله روس کې ستونزې جوړې کړي تر څو له ایران سره ډیره مرسته ونکړای شي.

په همدې دلیل سعودي الهاشمي ته امر کړی چې دوه میلیونه پښتانه ځوانان باید جګړې ته تیار کړي. الهاشمي ورته ویلي چې مونږ په خراسان کې دغومره پښتانه ځوانان نلرو. یو زیات شمیر مو مخکې له مخکې جګړې ته لیږلي. یو شمیر د مرضو او لوږې په وجه تلف شوي. یو شمیر نور له لوږې سره مخ دي. داسې حالاتو کې ۲ میلیونه ځوانان پیدا کول ناممکن دی بالخصوص اوس چې د خلافت نفوس ډیر کم شوی او یو زیات شمیر ښځې د واده کولو او ماشومانو راوړلو په ځای جهاد ته ځې. خو د سعودي باچا په ځواب کې ورته ویلي چې نه غواړي د یو سعودي وینه دې هم بې ضرورته توی شي. د سعودي د باچا په وینا سعودیان باید ددې جګړو له ثمرې ګټه واخلي نه دا چې پکې قربان شي.))

قاري صیب بیا په غصه شي او ووایي: ((دا عیاش خلک ریښتیا هم اوس پدې عقیده دي چې پښتانه تر دوی ټیټ مخلوق دی، د عربو خدمت ته پیدا شوي او باید د عربو د ګټو لپاره ځانونه قربان کړي. دا خپلو پښتنو ته چې ګورم نو ریښتیا هم داسې فکر کوم چې دوی د عربو خدمت ته پیدا شوي.))

قاري صیب بیا ویل چې سعودي الهاشمي ته ویلي چې که دغومره ځوانان نه وي نو ماشومان او سپین ږیري دې هم مسلح کړي. د سعودي له نظره دا مهمه نه ده چې هر پښتون دې دښمن ووژني. خو دا مهمه ده چې هر پښتون باید د دښمن لږ تر لږه یوه ګولۍ ضایع کړي. د قاري صیب په وینا سعودي د دومره کسانو د جلبولو لپاره الهاشمي ته درې هفتې وخت ورکړي. په همدې دلیل الهاشمي نن یو زیات شمیر امامان او دیني عالمان ورغوښتي وو او ورته ویلي یې دي چې قیامت رانژدې شوی. نور دا نړۍ ختمیږي. پښتانه باید له یوه پلوه جهاد ته لاړ شي. بیا یې فرمان ورکړي چې هر پښتون نارینه چې
د ۱۲ او ۵۰ ترمینځ عمر ولري باید جهاد ته نوم ولیکي. الهاشمي همدارنګه د زیاتو خلکو جلبولو لپاره امامانو او دیني عالمانو ته ویلي: ((د اسلام دښمنان د مکې او مدینې دروازو ته نژدې شوي. که پښتانه جهاد ته ورنشي نو کیدای شي مکه او مدینه ورانه کړي. بیا چې د آخرت په ورځ خدای له پښتونه پوښتنه وکړي چې کله زما مکه معظمه او مدینه منوره ورانیدل نو تا څه کول؟ پښتون به بیا څه ځواب ورته لري؟))

قاري صیب بیا ووایي: ((د جوماتو امامان به له همدې نن ورځې نه د هر مونځ نه وروسته د حورو صفات او د شهادت فضایل بیانوي او خلک به جهاد ته هڅوي. همدارنګه سبا به د جمعې خطبې کې د الهاشمي فرمان خلکو ته وایي.))

قاري صیب بیا ووایي چې ده ته ابو احمد ویلي چې د جلال آباد د جلب او جذب مرکزو ته لاړ شي او وګوري چې آیا دغه مرکزونه به وکولای شي چې په راتلونکي درې هفتو کې یو زیات شمیر مجاهدین پروسس کړي. بیا مونږ ته ووایي: ((ځانونه تیار کړئ چې سبا ته جلال آباد ته ځو)).

قاري صيب، توريالۍ او زه جلال آباد ته روان شو. توريالۍ خپله خور د ګاونډيانو کره پرېږدي. د قاري صيب په ګاونډ کې يوه زړه ښځه له خپلو دوه کونډو لورګانو سره اوسېږي او دا ډېر وخت قاري صيب او توريالۍ له دوی سره مرسته کوي.

جلال اباد ته چې ورسېږو يوه لويه مظاهره روانه وي. له مظاهرې نه چې تيرېږو نو يو ځوان موټر ته لاس راکړي. موټر ورته ودروو. هغه راته ووايي: ((له سهار نه تر اوسه مظاهره کې وم. اوس ستړی شوی يم کورته ځم. که تر يو ځايه مې په موټر کې بوځئ نو الله به يې په هغې دنيا کې اجرونه درکړي.)) قاري صيب يې موټر ته راوخيژوي. زه ترينه پوښتنه وکړم چې دا مظاهره د څه شي په اړه وه. هغه راته ووايي: ((وی! ته خبر نه يې؟ د خلافت راډيو کې يې بيګا وويل چې په کوم کفري ملک کې کفارو زمونږ د خوږ نبي ص کارتون رسم کړی او قران کريم ته يې اور وراچولی. دا خبره مې چې واوريده نو زما خو ورته وينه په جوش راغله. که اوس دغه کفري هيواد ته تلای شواي نو ورتلم او استشهادي عمليات مې پرې کول.))

توريالۍ ورنه پوښتنه وکړي: ((د پيغمبر د کارټون يا د قران د سوځولو تا ته څه تاوان رسيدلی چې ته دلته مظاهرې کوې او خپلو خلکو ته ستونزې جوړوې؟)) ځوان ځواب ورکړي: ((زه به نو څنګه مسلمان يم چې په خپل پيغمبر ص او پخپل مقدس کتاب باندې غيرت ونکړای شم.)) توريالۍ بيا ورته ووايي: ((د خپلو خلکو ازارول له کومه غيرت شو؟ نه مو کارټون پيغمبر ته کوم تاوان رسوي او نه مو د قران سوځول دين ته کوم تاوان رسوي. دا د کوم ځای هوښياري ده چې لسګونه زره خلک د بل هيواد د يو احمق د يو داسې کار په ضد مظاهرې وکړي چې دوی ته يې هيڅ تاوان نه رسېږي. د دې کارټون او يا هم قران سوځولو تا ته يا خراسان ته يا هم د نړۍ مسلمانانو ته کوم مالي يا ځاني تاوان نه رسيږي خو ستاسې د دې مظاهرو ورته رسيږي.))

ځوان چې دا خبره واوري نو مسکی شي او توريالي ته ووايي: (( ولا نو د ايمان جذبه ده چې راباندې راشي بيا نو په ځان نه پوهيږو چې ښه کار کوو که بد.))

توريالۍ هم ورته مسکی شي. بيا دې ځوان ته ووايي: ((خدای خو په قران کې ويلي چې ما دا قران نازل کړی او زه به يې ساتم. چې خدای يې خپله د ساتلو وعده کړې بيا يې ولې له سوځوونکو څخه نه ساتي؟ که خپله خدای ته دا مهمه نه وي چې څوک يې قران سوځوي که نه، نو تاسې ته ولې مهمه ده او ولې د قران سوځولو په سر مظاهرې کوئ؟)) ځوان يو دم غصه غوندې شي. توريالي ته ووايي: ((پدې شيانو بايد هيڅ خبرې ونکړو ځکه ګناهګاريږو. تر دې خبرو ښه ده چې د خدای ذکر وکړو. ۱۰۰ ځله سبحان الله، ۱۰۰ ځله الحمد لله او ۱۰۰ ځله الله اکبر ويل ډېر زيات ثواب لري.)) ځوان دا خبره وکړي او له ځان سره د سبحان الله په ويلو شروع وکړي.

توريالۍ ما ته رانژدې شي او غلی غوندې راته ووايي: ((ويني! ډيری دينداران دغسې له بحث، پوښتنو او فکر کولو څخه ډاريږي. ځکه خو پرې الهاشمي باچاهي کوي.))

په مظاهره کې یو شمیر ځوانانو له سرو نه شنې ټوټې تاو کړې وي او په داسې لوړ آواز چیغې وهي چې ته به وایې اوس به یې ستوني وشکیږي. قاري صیب له دغه ځوان نه پوښتنه وکړي چې دا خلک څوک دي. ځوان ورته ووایي: ((همدوی خو ټوله مظاهره روانه کړې. دا د کلک ایمان او عقیدې خاوندان د ننګرهار د جهادي مدرسې طلبا کرام دي. ما اوریدلي چې دغه مدرسه یو وخت د کفري زده کړو پوهنتون وو. خو بیا همدې غیرتي ځوانانو د اسلامي زده کړو په جهادي مدرسه بدل کړ. کله هم چې چیرته د دین سپکاوی وشي نو دوی بیا مظاهره کوي او لارې بندوي. الله تعالی ډیره قوي ایماني جذبه ورکړې.))

لږ وړاندې دا ځوان بښکته کړو. ځوان چې ښکته شي نو توریالی ووایي: ((د یو پردي عرب کارټون په غرب کې رسم شي، لسګونه زره کسان دلته مظاهرو ته راووځي. ولې خپل سلګونه خلک یې په همدې خراسان کې ووژل شي خو د دوی ایماني جذبه نه راویښیږي. د ننګرهار جهادي مدرسې هلکان یو ځل هم د خپل پښتون د مرګ غندلو لپاره راونه وتل خو خپل سر، مال او کورنۍ بیا د یو پردي عرب لپاره قربانوي. هسې خو درته نه وایم چې دین لدې خلکو بیغیرتان او د عربو غلامان جوړ کړي.))

توریالی چې خبرې خلاصې کړي نو قاري صیب ماته وګوري او راته ووایي: ((تا چې په اوله ورځ په جلال آباد کې د کوم پروګرام پوښتنه کوله هغه نن دی. نن د جمعې له مونځ نه وروسته به سلګونه د خلافت په ضد پاڅونوالو او د هغوی د کورنۍ غړو ته د جلال آباد په لوبغاړي کې سزا ورکړل شي. غواړې ورشې؟)) زه ورته ووایم هو هسې هم راغلي یو ور به شو.

د جلال آباد د نوم لیکنې لمړي مرکز ته ورشو. هلته ډوډۍ وخورو او له لږ دمې وروسته د جلال آباد د لوبغاړي په لور روان شو. د جمعې د خطبو اوازونه اورو. لږ وړاندې د امربالمعروف مسلح کسان ولاړ وي. مونږ ته لاس راکړي. قاري صیب ورته موټر ودروي او شیشه ورته ټیټه کړي. یو مسلح کس راشي او له مونږ نه پوښتنه وکړي چې د جمعې مونځ مو کړی. قاري صیب ځواب ورکړي چې نه. توریالی بیا لدې مسلح کس نه پوښتنه وکړي چې تا کړی. مسلح کس ورته ووایي چې نه. توریالی ورته بیا ووایي: ((ژر کوه لاړ شه کنه درنه تیریږي. که همدا اوس ور روان شې نو دوه رکعته فرضو ته ځان رسولای شې.)) مخکې لدې چې مسلح کس ځواب ورکړي د دوی مشر چې د موټر لمبر پلیټ یې کتلی وي، ورته ورغږ کړي چې پرې یې ږده. مسلح کس راته ووایي ورځئ په مخه مو ښه.

کله چې د جلال آباد لوبغاړي ته ورسیږو نو ډیر کم خلک راغلي وي. مونږ هم په موټر کې دننه کښینو او د خلکو راتګ ته انتظار وباسو. لږ وروسته چې د جوماتو نه د جمعو اوازونه بند شي نو ډلې ډلې خلک وینو چې لوبغاړي ته رارون وي.

مونږ هم له موټر نه راووځو او د لوبغاړي خوا ته روان شو. له لرې نه د ډزو او چاودنو اوازونه راځي. قاري صیب ووایي لکه چې څه خبره ده. توریالی ورته ووایي راځئ لږ همدلته موټر سره ودریږو. هسې نه چې ډزو والا دلته راورسیږي بیا به په ټمبه ټیل کې له لوبغاړي نشو راوتلای. نژدې ۱۵ دقیقې له موټر

سره ودریږو. وروسته چې کله ډزې بندې شي نو د لوبغاړي په لور روان شو. کله چې لوبغاړي ته ورننوځو نو توریالی وایي چې له دروازې سره نژدې کښینو ځکه که مو خوښه نه وه نو بیرته به ووځو.

لوبغاړي ته لا خلک راروان وي او ورو ورو ډک شي. له پروګرام شروع کیدو نه لږ مخکې یو کس سټیج ته وخیژي او خلکو ته وایي: ((ای خلکو! د بیځایه خبرو په ځای ذکر وکړئ. الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله والله اکبر ولله الحمد تکرار کړئ.)) خلک چې دا واوري نو ټول یې په تکرارولو شروع وکړي. داسې ښکاري لکه دا خلک چې د اختر لمانځه ته راغلي وي.

د ذکر په مینځ کې زمونږ څنګ ته ناست یو کس خپل ملګري ته وایي: ((ښه شوه چې دا وحشي یاغیان یې ونیول. دغسې خلکو د پښتنو نوم بد کړی. مونږ خو فکر کاوه چې ټول پښتانه کلک مسلمانان دي او اسلامي خلافت غواړي. خبر نه وو چې په پښتنو کې هم ملحدین او د اسلامي خلافت مخالفین شته. ښه ده چې دا ټول ووژني تر څو یوازې مسلمانان پښتانه پاتې شي او بیا څوک ونه وایي چې پښتنو کې هم ملحدین شته.))

د لوبغاړي په بله غاړه کې سلګونه د ننګرهار د اسلامي مدرسې زده کوونکي هم ناست وي. داسې ښکاري چې دوی له مظاهرې نه همدلته راغلي وي. د لوبغاړي په مینځ کې نژدې یو درجن کندې کیندل شوي وي. د تسبیجاتو په جریان کې لمړۍ ډله پاڅوانوال چې لاسونه یې شاته تړل شوي وي، راولي. پدې ډله کې ډیری ماشومان وي چې عمرونه به یې د ۱۰ او ۱۵ تر مینځ وي. په دوی پسې دوهمه، دریمه، څلورمه... او لسمه ډله راولي. په هره ډله کې څه د پاسه پنځوس کسان وي. کله چې دوی میدان ته راننوځي نو د ننګرهار د اسلامي مدرسې یو زده کوونکی په ډیر لوړ آواز چیغه کړي. مرګ په کفارو او ملحدینو! ټول ورپسې چیغه کړي مرګ. بیا چیغه کړې مرګ د اسلامي خلافت په دښمنانو. بیا ټول ورپسې نعرې کړي، مرګ.

پاڅونوال ډلې ډلې د میدان په مینځ کې ولاړ وي او شاوخوا خلکو ته ګوري. شاوخوا ولاړ پښتانه هم څوک دې پاڅونوالو ته کنځا کوي. څوک یې په تیګو ولي او څوک پرې لعنتونه وایي او لاړې ورتف کوي. له لږ ځنډ وروسته یو کس چې سپینه لونګی او سپینه ږیره لري سټیج ته پورته شي او خبرې شروع کړي. قاري صیب راته غلی غوندې وایي چې دا شیخ یاسر دی. په پښتنو دیني عالمانو کې تر ټولو زیات تندلاری او وحشي همدا دی. ده د خپلې عقیدې لپاره زرګونه پښتانه وژلي.

شیخ یاسر خپلې خبرې شروع کړي. لمړۍ درود وایي. بیا یو څو آیتونه وایي. وروسته له یو څو نورو خبرو بیا مسکی شي او خلکو ته وایي: ((دا د ډزو اوازونه مو چې واوریدل دا همدا پاڅونوال وو. دوی لکه چې خبر وو چې قرباني ته یې بیایو. ځکه یې په مجاهدینو چې دلته یې راوستل حمله وکړه. خو الحمدالله زمونږ بهرني مجاهدین ډیر منظم او تکړه خلک دي. په ۱۵ دقیقو کې یې تر نیمایي زیات پاڅونوال د جهنم تورې کندې ته ولیږل. پاتې به یې انشا الله مونږ لدې ځایه ورولیږو.))

بیا د شرعي نظام او جهاد په ګټو وغږیږي. د خبرو په یوه برخه کې د بنو قریظه قیصه راواخلي او وایي: ((بنو قریظه د یهودو یوه قبیله وه. د خندق په جګړه کې مسلمانانو ته راپور راغی چې بنوقریظه غواړي له

دښمن سره يو ځای له شانه په مسلمانانو حمله وکړي. [که څه هم بنو قريظه داسې کوم کار نه وو کړی او ځيني تاريخپوهان وايي چې دا راپور غلط وو]. کله چې د خندق جګړه خلاصه شوه نو زمونږ ستر پيغمبر ص ته جبرايل راغی او ورته يې وويل چې په بنو قريظه حمله وکړي. زمونږ خوږ پيغمبر ص په بنو قريظه حمله وکړه او هغوی يې په شاتګ ته مجبور کړل. تر دې چې مسلمانانو دوی محاصره کړل. دا محاصره ۲۵ ورځې اوږده شوه.

په ۲۶مه ورځ د يهودو قبيلې له حضرت ابو لوبابه رض چې د بنو آوس د قبيلې غړی وو او يو وخت د دوی ملاتړی وو، څخه وپوښتل چې آيا دوی مسلمانانو ته تسليم شي. ابو لوبابه چې د ماشومانو او ښځو ژړاو ته وکتل نو په بنو قريظه يې زړه وسوځيد او ورته يې وويل چې هو. هماغه وو چې د بنو قريظه قبيله مسلمانانو ته بې قيد اوشرطه تسليمه شوه. د ابن اسحاق په حواله د دې قبيلې د نرانو شمير له ۴۰۰ څخه تر ۹۰۰ کسانو رسيده او د ښځو او ماشومانو شمير پکې شاوخوا ۱۰۰۰ کسه وو.

د بنو آوس قبيلې زمونږ له خوږ پيغمبره وغوښتل چې په بنو قريظه باندې رحم وکړي. زمونږ خوږ پيغمبر ورسره ومنله او د بنو آوس د قبيلې سعد ابن معاذ يې قاضي مقرر کړ تر څو د يهودو د دغې قبيلې په اړه فيصله وکړي. سعد ابن معاذ چې خپله هم زخمي او د مرګ په غاړه پروت وو، فيصله وکړه چې د بنو قريظه د قبيلې ټول نارينه دې ووژل شي، مال دې يې غنيمت او ښځې دې يې وينځې او په مجاهدينو تقسيم شي او ماشومان دې يې د دوی غلامان شي. زمونږ خوږ پيغمبر ص دا فيصله ومنله او ويې ويل چې همدا د خدای ج انصاف دی.

وروسته يې د مديني په ښار کې يو څو کندې وکيندلې. بيا يې د بنو قريظه د قبيلې ډلې ډلې خلک راوستل. دوی به يې د دې کندو څنګ ته درول او سرونه به يې ترينه پريکول. بيا به يې دې کندو ته غورځول. تر دې چې ټول نران يې ووژل. حضرت علي کرم الله وجه هم يو زيات شمير دغه يهودان پخپله توره مردار کړل.

علما وايي چې مسلمانانو ځکه دا کار وکړ تر څو نورو قبيلو ته يو سبق شي او بيا څوک د اسلام په ضد راپورته نشي. همدارنګه امام شافعي او يو زيات شمير نور علما زمونږ د خوږ نبي ص د دې واقعې په اساس د اسلامي خلافت ضد غدارانو ډليز وژلو ته جواز ورکوي.))

بيا غاړه تازه کړي او په زړيره لاس راکش کړي او وايي: ((نن مونږ هم د خپل خوږ نبي په قدم خپل قدم ږدو او يوه ډله د اسلامي خلافت دښمنانو ته هماغسې سزا ورکوو لکه ده مبارک چې ورکړې وه. دوی د خراسان د اسلامي خلافت په ضد پاڅون کړی وو او غوښتل يې چې خلافت له مينځه يوسي. نن به دوی ته هم د بنو قريظه د يهودانو په شان سزا ورکړل شي تر څو بيا بل څوک د اسلامي خلافت په ضد د راپورته کيدو جرئت ونکړي. د دوی مال مجاهدينو غنيمت کړی. ښځې او ماشوماني يې هم مجاهدينو ځانته وينځې کړي. يوازې نارينه سړي او ماشومان يې پاتې وو.

خو اسلام نه يوازې د عدل او انصاف دين دی بلکې د رحم دين هم دی. په همدې اساس الهاشمي تر لسو کلو کم عمر لرونکي نارينه ماشومان ټول وبښل او مدرسو ته يې وليږل.)) بيا شيخ ياسر مسکی شي او

ووايي: ((سبحان الله! څومره مهربانه خليفه خداى درکړى. څومره عادل او رحم کوونکى دى زمونږ خليفه الهاشمي حفظه الله. خو يو شمير بيا هم د ده مهرباني ته نه ګوري او د ده په ضد جګړه کوي. دوى د الهاشمي په ضد جګړه کوي خو الهاشمي يې ماشومان ورته بښي. سبحان الله! څومره ستر شخصيت دى زمونږ ګران خليفه الهاشمي حفظه الله. سبحان الله!))

بيا خپله لهجه تنده کړي. په ميدان کې ولاړو پاڅونوالو ته ګوته ونيسي او ووايي: ((دغو ملحدينو د اسلامي خلافت له مينځه وړلو ته ملاتړلې وه. خو خداى خلافت ته فتح او نصرت ورکړ او دوى يې ناکامه کړل. نن به مونږ ستاسې د ټولو په مخ کې دوى د خپلو ناوړه اعمالو په سزا ورسوو. زما په زړه که واى نو د دوى تې خواره ماشومان مې هم نه پريښودل، خو د خپل خليفه الهاشمي حفظه الله له فرمانه سرغړونه نشم کولاى.))

شيخ ياسر يو څو نورې خبرې هم وکړي او بيا له ستيج نه ښکته شي. لدې سره نژدې پنځوس کسه جلادان چې مخونه يې پټ وي او يوازې سترګې يې ښکاري له تورو سره لوبغاړي ته راننوځي او لمړۍ ډلې پاڅونوالو ته ورشي. لدې ډلې څخه اول ټول ماشومان چې تقريباً ۳۰ کسه کيږي راوباسي اوکندې ته يې نژدې په زنګنو داسې کښينوي چې سرونه يې د کندې خواته وي. بيا په يو اواز د الله اکبر چيغه پورته کړي او لدې ټولو ماشومانو نه سرونه پرې کړي. وروسته يې تنې هم په لغته ووهي او کندې ته يې وروغورځوي.

په ميدان کې ولاړ يو زيات شمير پاڅونوال په چيغو په ژړا شروع کړي. پدې وخت کې د ننګرهار د اسلامي مدرسې يو طالب بيا په لوړ اواز د نعره تکبير غږ وکړي. ټول خلک ورپسې په لوړ اواز د الله اکبر چيغه پورته کړي. بيا همدا طالب چيغه کړي چې زنده باد د خراسان اسلامي خلافت. ټول ورپسې چيغه کړي چې زنده باد.

زړه مې يو دم رابد شي. مخکې لدې چې زه څه ووايم قاري صيب راته ووايي: ((ځئ چې ځو. نور زه دا ظلم نشم کتلاى.)) د توريالي هم سترګې راډکې شي. درېواړه له ميدانه راوځو. موټر ته روان يو او له دننه څخه د الله اکبر آوازونه اورو. موټر ته وخيژو. د قاري صيب لاسونه لړزيږي. سترګې يې راډکې شي او مونږ ته ووايي: ((دا په پښتنو د ظلم انتها وه.)) بيا موټر چالانده کړي او روان شو. زه مخې ته کښينم او توريالى شاته کښيني. په لاره کې قاري صيب راته ووايي: ((هغوى چې سهار د يو پردي عرب د کارټون جوړولو په ضد مظاهرې کولې، اوس د خپلو تنکيو ماشومانو په مرګ خوشالي ښکاره کوي. تر دوى لوى فکري غلامان نشته. د دوى جذبه د نورو په بيعزتۍ راپاريږي خو د خپلو په مرګ نه راپاريږي.))

داسې ښکاري چې د قاري صيب فشار لوړ شوى وي. په لاره کې يو چې يو وخت د موټر ارنډ شي. توريالى له شا نه په زوره ووايي ((قاري صيب موټر دى)). د موټر د بريک نيولو اواز واورم او نور په ځان پوه نشم. يو وخت چې سترګې خلاصوم نو په روغتون کې پروت يم او توريالي او قاري صيب مې څنګ ته ولاړ وي.

چې په هوش راشم توريالی ژرډاکټر راولي. ډاکټر مې معاينه کړي او بيا توريالي او قاري صيب ته مسکی شي. قاري صيب ورنه مننه وکړي. ډاکټر بيرته لاړ شي. توريالی هم ورسره روان شي. قاري صيب رانه پوښتنه وکړي چې اوس څنګه يې. زه ورته ووايم چې ښه يم خو سر مې لږ لږ خوږيږي. قاري صيب بيا راته ووايي چې له ټکر نه پس ته کوما ته لاړې خو مونږ ژر د ابو احمد په مرسته د بهرنيانو لپاره دې روغتون ته راوستلې. پوښتنه ترينه وکړم چې څومره وخت کوما کې وم؟ راته مسکی شي او ووايي: ((نژدې ۹ هفتې. ما او توريالي چې کمربند تړلی وو نو سر سري ژوبل شولو خو تا چې کمربند نه وو تړلی نو په سر دې قوي ضربه وخوړه او بيهوشه شوې. تر څو مو چې کابل ته را انتقالولې کوما ته لاړې.))

پدې کې توريالی هم بيرته راشي او مونږ ته ووايي چې سبا ته کولای شو کورته لاړ شو. زه قاري صيب ته ووايم چې څنګه شول کارونه دې او د خلافت څه حال دی. هغه راته ووايي: ((قيصه خرابه ده. چې له روغتونه وځو بيا به پرې خبرې وکړو.)) لږ وروسته هغه د ابو احمد خواته لاړ شي او ما اوتوريالی پاتې شو. مازديګر ډاکټران يو څو نور ټيسټونه وکړي. هر څّه سم وي. سبا سهار مې ډاکټران يو ځل بيا وګوري او له روغتونه خارجيدو ته مې اماده کړي. له روغتونه چې خارج شم نو توريالی مې د قاري صيب کره بوځي. غوټی هم هملته وي.

نژدې ماښام قاري صيب له مخابرې او سټلايټ ټيليفون سره راشي. مونږ ته ووايي: ((حالات ډير زيات خراب دي خو ښه ده ابو احمد راسره خپله وروري پالي. راته ويلي يې دي چې مخابره او ټيليفون بايد ۲۴ ساعته چالانده پريږدم تر څو که څه خبره شي نو په وخت راته احوال راکړي.))

بيا قاري صيب راته ووايي: ((الهاشمي سعودي ته نژدې دوه ميليونه کسان تيار کړل. د سعودي ځواکونو دوی ته يوه هفته لمړنی جنګي زده کړې ورکړې. بيا يې دا کسان د پاکستان د بلوچستان له لارې د هند سمندر ته او له هغه ځايه بيا کشتيو کې يمن، عراق او سوريې ته وليږل. همدارنګه نژدې ديرش زره کسان يې چيچنيا ته وليږل تر څو روس هلته مصروف وساتي او ونه کولای شي چې له ايران يا اسد سره مرسته وکړي. خو په اخر کې پاکستان يو ځل بيا خپله دوه مخي وښودله او روس يې د سعودي په پلان خبر کړ.))

د قاري صيب د خبرو مينځ کې توريالی ووايي: ((پاکستان سم کار وکړ. پاکستان هوښيار دی او خپلې ملي ګټې ورته تر دين، سعودي او نورو ډيرې ګرانې دي. هغه مونږ يو چې ځان، هيواد او بل هر څه مو په عربو قربان کړل.)) قاري صيب توريالي ته ووايي: ((بالکل. ريښتيا هم چې د پاکستان له اسلام سره هم په دښمني کې ګټه وي نو ورسره کوي يې. هسې خو دوی نه وايي چې سب سې پهلې پاکستان.))

بيا ماته وګوري او ووايي: ((روس چې کله خبر شو نو سعودي ته يې اختار ورکړ چې که د روس د ملي ګټو په ضد کوم اقدام وکړي نو د ځمکې له نقشې به يې ورک کړي. امريکا هم دغه وخت سعودي ته وويلې چې بايد داسې کوم څه ونکړي ځکه امريکا نشي کولای د جنګ په صورت کې له سعودي سره مرسته وکړي. امريکا پخپله له چين سره په ختيځه آسيا کې په سياليو مصروفه ده او نه غواړي توجه يې بلې خوا ته واوړي. خو سعودي د امريکا خبرې ته هم غوږ ونه نيو. البته مخکې لدې چې پښتانه مجاهدين

د جنګ لپاره راوغواړي د اسرایلو په مرسته یې د آیرن ډوم یا د اوسپنې ګنبد په نوم د اسرایلي میزایلو دفاعي سیستم پخپل هیواد کې فعال کړ تر څو د سعودي خواته راتلونکي میزایل په هوا کې له مینځه یوسي.

کله چې د سعودي پښتنو مجاهدینو جنګ شروع کړ نو د زیات شمیر په زور یې نژدې ټول یمن او د سوریې او عراق ډیری برخې ونیولې. د روسانو، اسد او ایران پلوه رژیمو په بمباریو کې یې په اولو دوه هفتو کې نژدې نیمایي جنګیالي ووژل شول. خو د پاتې جنګیالیو شمیر هم دومره زیات وو چې دښمنانو یې ونشوای کړای د دوی پرمختګ ودروي. دې جنګیالیو د سیمو تر نیولو وروسته له ځایي خلکو سره ډیر ظلمونه وکړل د هغوی مالونه یې غنیمت کړل او ښځې یې ترینه وینځې کړې. ځایي خلک مجبوراً د دوی له دښمنانو سره ودریدل. دا کار د دې سبب شو چې د دوی پرمختګ په ټپه ودرید.

هغه پښتانه یې چې چیچنیا ته لیږلي وو په اوله هفته کې یې د زرګونو تلفاتو په ورکولو د چیچنیا یو شمیر سیمې ونیولې او روس یې د یو څو ورځو لپاره ریښتیا هم ښه مصروف کړ. وروسته یو شمیر عربي افراطي مجاهدینو دوی د ځانوژونکي بریدو لپاره دننه روسیې ته ولیږل. تر دې چې یوه ډله یې د ولګګراډ په ښار کې یو عصري هوټل ته ورننوتل او نژدې دوه سوه میلمانه یې ووژل. په وژل شویو میلمنو کې د روس د پارلمان د څو غړو کورنۍ هم وې چې دغه ښار ته کوم فیستوال ته تللې وې. پاتې ډلو هم د روس په نورو برخو کې څو سوه روسان ووژل. د دې تر څنګ د چیچنیا په جنګو کې یې هم د روس سلګونه عسکر له مینځه یوړل.

دې کار روس سخت غصه کړ. اضطراري حالت یې اعلان کړ او خپل پوځ ته یې د تیارسی امر ورکړ. د سعودي په خلاف یې د جنګ اعلان وکړ او هم مهال یې د هند په سمندراو مدیترانې په بحیره کې له خپلو اوبتلو او جنګي بیړیو په سعودي نژدې ۲۰۰ میزایل وروتوغول. خو د سعودي د اوسپنې ګنبد دفاعي سیستم ډیری دغه میزایل هدف ته له رسیدو مخکې په هوا کې له مینځه یوړل. کله چې روس د اوسپنې د ګنبد په سیستم خبر شو نو خپل نوي ماډل راډار ضد میزایل یې استعمال کړل او په شپږ دانو یې د سعودي پایتخت ریاض وویشت. د دغو میزایلو په حمله کې شاوخوا یو نیم زر سعودیان چې یو شمیر د سعودي د شاهي کورنۍ غړي هم پکې وو، ووژل شول. د میزایلو تر څنګ یې درې لکه پوځ هم په سعودي د ځمکنۍ حملې لپاره تیار کړ.

د روس دښمني او د ځمکنۍ حملې ډار او د غرب او نورو مالداره عربو نه ملاتړ سعودي ډیر زیات وارخطا کړ. سعودي پخپل غلط سیاست قطبي خرس را ویښ او غصه کړ خو اوس یې په مهارولو نه پوهیده. د سعودي بقا په خطر کې شوه ځکه د سعودي باچا ته دا معلومه وه چې خپل اتباع یې حتا د یو کمزوري هیواد په مقابل کې هم جنګ نشي کولای روس خو بیا یو نړیوال اتومي قدرت دی. داسې ښکاریده چې سعودي پخپل رنګ کې کوټ وخوړ.

د ځان او سلطنت د ژغورلو لپاره د سعودي باچا له روس سره پټې خبرې پیل کړې. روس ته یې د ۱۰۰ ملیارده ډالرو د جنګ تاوان ورکولو، له ټولو نیول شویو سیمو څخه د په شا کیدلو او له روس سره د ترهګرو پښتنو په ځپلو کې د مرستې وعده وکړه. په بدل کې یې له روس نه وغوښتل چې له سعودي سره

جګړه ونکړي. سعودي د دې تر څنګ یې له اروپا، امریکا، چین او یو شمیر نورو بانفوذه هیوادو څخه وغوښتل چې روس تشویق کړي تر څو له سعودي سره اوربند اعلان کړي. په بدل کې به یې سعودي د راتلونکو لسو کلو لپاره د نورو په نسبت په دغو هیوادو په نیمه بیه تیل خرڅوي.

له دوه ورځو بمبار څخه وروسته د روس ولسمشر له سعودي سره اوربند اعلان کړ. خو د روس د پارلمان یو شمیر غړو چې ځینو یې د پښتنو په ځانمرګو بریدو کې ښځې او اولادونه له لاسه ورکړي وو له خپل ولسمشره غوښتل چې لږ تر لږه دې په خراسان حمله وکړي تر څو د مار سر پرې کړي. د دوی په نظر که خراسان پدې حال پاتې شي نو په دوامداره ډول به چیچنیا ته جنګیالي رالیږي او روسان به وژني.

امریکا او ناټو که څه هم په اول کې بیطرفه ودریدل خو په پټه یې د مکې او مدینې ښارو شاوخوا خپل د میزایلو پرمختللی دفاعي سیستم نصب کړ. د ابو احمد په وینا د امریکا وزیر خارجه ویلي وو چې که روس په دغو دوه ځایو حمله وکړي نو سلګونه میلونه مسلمانان به لکه لیونیان په هر څه خولې لګول شروع کړي چې ددې کار تاوان به بیا ټولې نړۍ ته ورسیږي.

سعودي همدارنګه خپلو ټولو نظامي افسرانو ته امر وکړ چې د دوی لاس لاندې پښتنو ته قومنده وکړي چې دښمن ته تسلیم شي. شاوخوا ۶ لکه پښتانه مجاهدین په یمن، عراق او سوریه کې روس او ایران پلوه دولتو او ملیشو ته تسلیم شول. پاتې پښتنو او غیرپښتنو مجاهدینو د سعودي د دې کار مخالفت وکړ. خو دوی ټول د سعودي او د ایران پلوه دولتو او ملیشو لخوا په ډیره بیرحمۍ ووژل شول. ان تر دې چې کیمیاوي وسلې پرې استعمال شوې. د دې وژل شویو کسانو شمیر تر درې لکو ډیر وو. برعکس په چیچنیا کې هیڅ پښتون او غیرپښتون مجاهد خپلو مخالفینو ته تسلیم نشول. د دې کار یو دلیل دا هم وو چې هلته سعودي نظامي افسران نه وو او پښتنو عسکرو د نورو مجاهدینو تر لاس لاندې فعالیت کاوه.

په خراسان کې موجود غیرسعودي بهرني مجاهدین چې رښتیا یې هم اسلامي جهادي مفکوره درلوده او فکر یې کاوه چې د خراسان د جوړیدو هدف د یو اسلامي خلافت جوړول وو، د سعودي پدې کار سخت په قهر دي. دوی له الهاشمي خپل بیعت بیرته واخیست او د خراسان په ټولو جوماتو کې یې اعلانونه وکړل او د الهاشمي او سعودي پدې کار یې پښتانه عوام خبر کړل. پښتانه دیني عالمان او ملایان هم سعودي ته غصه شوي. د دوی په وینا سعودي د پښتنو جهاد خراب کړ.

غیرسعودي بهرنیانو او پښتنو دیني عالمانو درې ورځې مخکې د یوې غونډې په نتیجه کې د الهاشمي په ځای مولانا سمیع الحق ملتاني خپل امیر وټاکه. له ټاکل کیدو وروسته ملتاني د الهاشمي په ضد جهاد اعلان کړ. په هماغه ورځ جلال آباد او کندهار سقوط وکړ او د غیرسعودي بهرنیو مجاهدینو او د دوی پښتنو ملاتړو لاس ته ولویدل. د دغو ځایو پښتانه اوسیدونکي اوس له همدوی سره ولاړ دي. د جلال آباد او کندهار د سقوط خبر په اوریدو الهاشمي له خلافته سعودي ته تښتیدلی او په ځای یې ابواحمد د خلافت چارې مخکې بیایي.

د غیرسعودي مجاهدینو د پرمختګ درولو لپاره سعودي له پاکستانه وغوښتل چې د خراسان د خلافت د دفاع لپاره یو شمیر عسکر ورولیږي خو پاکستان انکار کړی او ویلي یې دي چې پاکستان نه غواړي د

خراسان په کورنیو چارو کې مداخله وکړي. خو په حقیقت کې پاکستان د الهاشمي د خلافت په ضد راپورته شوي بهرنیو غیرسعودي مجاهدینو سره مرسته کوي. ځکه پاکستان غواړي د خراسان کنټرول دې مکمل له پاکستان سره واوسي. ځینې راپورونه ان وایي چې ملتاني د اي ایس اي کس دی.

سعودي مجبوراً د پاتې ښارو د دفاع لپاره دوه ورځې مخکې خپل لس زره عسکر او یو درجن ایف شپاړس الوتکې خراسان ته راولیږلې تر څو له سعودي او یو شمیر بهرنیو او پښتنو مجاهدینو سره یو ځای د پاتې ولایاتو امنیت وساتي. همدارنګه له کابله یو شمیر غیرسعودي بهرنیان چې د سعودي مخالفت یې کاوه ویستل شوي او کنټرول یې د سعودي د مجاهدینو او عسکرو چې د ابو احمد تر قومندې لاندې دي، په لاس کې دی.))

قاري صیب همدا خبرې کوي چې په مخابرې ورته پیغام راشي. مخابره او سټلایټ ټیلیفون واخلي او حویلۍ ته ووځي. له لږ ځنډ وروسته بیرته راشي او مونږ ته ووایي: ((خوست، غزني، سروبي، ګردیز او میدانښار هم سقوط وکړ. ځایي خلک له غیرسعودي بهرنیو مجاهدینو سره دریدلي او یو عمومي قیام یې د الهاشمي د خلافت په ضد کړی. اوسمهال یوازې د کابل ښار او شاوخوا سیمې د سعودي د مجاهدینو او عسکرو په لاس کې دي. خو داسې ښکاري چې ډیر ژر به دا هم سقوط وکړي ځکه ځایي خلک د سعودي په کارو خبر شوي او داسې ګونګوسې دي چې په کابل کې هم د الهاشمي د خلافت په ضد خلک د قیام تیاری کوي. ابو احمد مونږ ته ویلي چې هوایي ډګر ته ورشو او له خراسانه د وتو لپاره ځانونه تیار کړو.))

غوټۍ، توریالی، قاري صیب او زه ځانونه تیار کړو او د میدان په لور حرکت وکړو. میدان ته چې ورسیږو نو د ابو احمد یو کس مو د ترمینل خوا ته بوځي. هلته یو زیات شمیر سعودیان او نور بهرنیان خپلو پروازو ته منتظر وي. داسې ښکاري چې ټول له خراسانه وځي. ابواحمد چې مونږ ویني نو قاري صیب ته ووایي چې ورشو. هغه مو خپل دفتر غوندې ځای ته بوځي. رادیو چالانده کړې او قاري صیب ته ووایي چې شیخ یاسر له جلال آباده خپریدونکې رادیو کې د مخالفینو په نمایندګي غږیږي. بیا قاري صیب ته ووایي چې وایې وره او بیا یې مونږ ته وروسته د خبرو خلاصه ووایه.

شیخ یاسر په رادیو کې په پښتو ژبه لګیا وي او وایي: ((الهاشمي ته مونږ د خپل خلیفه په سترګه کتل خو هغه هم لاړ او د ستر طاغوت په غیږ کې کښیناست. د الهاشمي هدف په نړۍ کې اسلامي خلافت نه بلکې د سعودي د عیاش حکمرانانو د ګټو لپاره جنګ وو. پدې کار یې زمونږ د میلیونونه پښتنو مجاهدینو شهادت خراب کړ. مونږ اوس پوهیږو چې د پردیو د ګټو په دغو جنګو کې زمونږ پښتانه شهیدان نه بلکې وژل شوي. ځکه نو اوس مونږ نورو اصلي شهیدانو ته ضرورت لرو تر څو دغه او نور وژل شوي پښتانه له ځانه سره جنت ته بوځي. دا ځل د خپل حقیقي مسلمان خلیفه مولانا سمیع الحق ملتاني تر فرمان لاندې جهاد وکړئ او د شهادت لوړ مقام ته ځان ورسوئ تر څو په هغې دنیا د ځان، کورنۍ او نورو مسلمانانو شفاعت وکړای شئ.))

شيخ یاسر خپلو خبرو ته ادامه ورکړي او ووایي: ((نن مونږ په ټولو مسلمانانو غږ کوو چې زمونږ نوي خلیفه جناب مولانا سمیع الحق ملتاني خادم دین رسول الله سره بیعت وکړي. په خراسان کې موجود پښتنو او غیرپښتنو ټولو له مولانا ملتاني سره بیعت اعلان کړی. د خلیفه ملتاني حفظه الله کورنیو او بهرنیو مجاهدینو له کابل پرته نور ټول خراسان نیولی او انشاالله ډیر ژر به کابل هم ونیسي.

خلیفه ملتاني حفظه الله ټولو پښتنو او غیرپښتنو مجاهدینو ته امر کړی چې تر مرګه پورې تسلیم نشي او خپل جهاد ته په یمن، سوریه، عراق او چیچنیا کې ادامه ورکړي. دوی دې د سعودي د پوځ هیڅ امر نه مني بلکې برعکس له سعودي عسکرو سره دې هم جهاد وکړي. خلیفه ملتاني حفظه الله همدارنګه په نورو مسلمانانو امر کوي چې په هر ځای کې په کفارو بالخصوص په روسي عسکرو او عوامو استشهادي بریدونه وکړي تر څو د چیچنیا او د خراسان د مسلمانانو بدل ترینه واخلي.))

بیا ووایي: ((زمونږ خلیفه ملتاني حفظه الله فرمایلي چې جهاد به تر قیامته دوام لري. مونږ به انشاالله ډیر ژر په کرملین او سپینه ماڼی اسلامي بیرغ ورپوو. کفار دې یا مسلمانان شي، یا دې د خراسان اسلامي خلافت ته جزیه ورکړي او یا دې هم جنګ ته ځان تیار کړي. اصحابو کرامو اسلام د توري په زور خپور کړی ځکه نو مونږ هم لکه د اصحابو کرامو کفن په تن د اسلام خپرولو ته ملاتړلې. له نن نه وروسته به په هر ځای کې د کفارو په ضد زمونږ استشهادي عملیات پیل شي.))

د شیخ یاسرپه وینا خلیفه ملتاني ویلي چې د کابل تر نیولو وروسته به یو زیات شمیر مجاهدین کشمیر ته ولیږي تر څو د کشمیر خلک د هندوانو له ظلمه خلاص کړي.

د شیخ یاسر خبرې چې خلاصې شي نو توریالی مونږ ته ووایي: ((پښتانه ریښتیا هم د نورو خدمت او عسکرۍ ته تکړه دي. تل یې غوښتي چې یو پردۍ مشر دې وي تر څو دوی ته ووایي چې څه وکړي او څه نه. دوی یوازې امر منلو ته تکړه دي. بلا وهلي چې خپله فکر وکړي او د مشرتوب چل زده کړي. همدا مو له قوي قومو سره یو توپیر دی چې هغوی د بل چا د امر او خواهش په اساس ژوند نه کوي خو پښتانه تل ضرورت لري چې بل پرې امر وکړي او یا فتوا ورته ورکړي. دوی تل یو بادار غواړي تر څو دوی یې وفاداره غلامان شي. دوی ته د نورو فکري غلامي او خدمت ښه کار او ثواب ښکاري.))

وروسته قاري صیب ابو احمد ته ورشي. په مونږ شپه دهوایي ډګر په ټرمینل کې سبا شي. سبا غرمه قاري صیب په منډه منډه راشي او مونږ ته ووایي ځانونه تیاروئ چې ځو. بیا ووایي: ((پښتنو مجاهدینو ته د خلیفه ملتاني پیغام رسیدلی. هغوی له بیګاه راهیسې په هر ځای کې وحشتونه پیل کړي. په روسیه کې یې بیا یو زیات شمیر ځانوژونکي بریدونه ترسره کړي چې د روسیې د ولسمشر د یوازینی لور تر څنګ زرګونه نور خلک پکې وژل شوي. د روس ولسمشر او ملت خراسان ته ډیر سخت په قهر دي. چیچنیا باندې یې ډیره لویه حمله کړې او هلته یې د ټولو پښتنو او غیرپښتنو مجاهدینو د وژنې امر کړی.

د روس ولسمشر چې د اولاد غم سم لیونی کړی غواړي خراسان د نړۍ د ترهګرو او ورسیې د مخالفینو لپاره یو درس کړي تر څو بیا ترهګر د روس په ضد په هیڅ ځای کې هم فعالیت ونکړای شي. سعودي،

پاکستان، امریکا، چین او یو زیات شمیر نورو هیوادو په خراسان د روس د هر ډول حملې ملاتړ اعلان کړی. د روسيي پارلمان ولسمشر ته په خراسان د هر ډول حملې پوره اختیار ورکړی.))

قاري صيب بیا ووايي: ((غیرسعودي مجاهدینو په تیرو څو ورځو جګړو کې زرګونه سعودي پلوه مجاهدین او یو شمیر سعودي عسکر نیولي وو. نن یې له هغوی نه د غداري په تور سرونه پرې کړل. دې کار د سعودي دولت سخت غصه کړی او له نړیوالو یې غوښتي چې د ترهګرو ځاله (خراسان) باید له مینځه یوسي. روس سره یې د خراسان په اړه ټول استخباراتي معلومات شریک کړي او روس یې دې ته هڅولی چې خراسان د نړۍ له نقشې ورک کړي کنه په راتلونکي کې به بیا ورته مشکلات جوړ کړي.

د روس ولسمشر سعودي ته یو ساعت مخکې ۶ ساعته وخت ورکړی چې خپل کسان له خراسانه وباسي. د سعودي، قطر او عربي اماراتو یو زیات شمیر الوتکې به اوس کابل ته په لاره وي. کیدای شي دوه ساعته وروسته لمړۍ الوتکه راورسیږي او د سعودیانو په ویستلو شروع وکړي. په لمړي سر کې به سعودیان ووځي، بیا به د سعودي بهرني ملګري او بیا کیدای شي یو شمیر سعودي ملاتړي پښتانه هم له ځانه سره وباسي. مونږ به له ابو احمد سره په طیاره کې ځو.))

قاري صيب همدا خبرې کوي چې د درندې وسلې ډزې مو تر غوږو شي. قاري صيب ژر بیرته ابو احمد ته ورشي. یو څو شیبې وروسته د سعودي جنګي الوتکې والوځي. نژدې دوه ساعته وروسته قاري صيب بیرته راشي او مونږ ته ووايي چې یو شمیر عرب او پښتانه مجاهدین د خلیفه ملتاني ځواکونو ته تسلیم شوي. پغمان د ملتاني کسانو نیولی او په کوټ سنګي یې لویه حمله وکړه. خو د سعودي جنګي الوتکو پرې بمبار وکړ او سخت تلفات یې وروړسول.

په ټرمینل کې ناست یو چې یو وخت د لویې الوتکې غږ شي. داسې ښکاري چې لمړۍ الوتکه راسیدلې وي. لومړۍ ته خلک خیژي چې دوهمه او دریمه هم راورسیږي. په نیم ساعت کې د کابل هوایي ډګر داسې مصروف شي چې ته به وایې د کوم پرمختللي هیواد هوایي ډګر دی. خالي الوتکې راځي او ډکیږي او بیرته ځي. په میدان کې شته سعودیان لاړ شي. د دوی نه پس نور بهرنیان هم لاړ شي. یوازې مونږ پاتې شو. په میدان کې څوارلس لویې الوتکې سورلی ته انتظار ولاړې وي. قاري صيب مونږ ته ووايي چې ابو احمد غواړي اول ټول د سعودي اتباع ولیږي او له اخره دی ورپسې ورشي.

بیا ووايي: ((د جګړې له لمړیو کرښو د سعودي ډیری مجاهدین او عسکر اوس راوتلي او هوایي ډګر ته د راتلو په حال کې دي. په لمړنیو کرښو کې اوس یوازې سعودي ته وفاداره پښتانه مجاهدین پاتې دي. له هغوی سره د مرستې لپاره سعودي جنګي الوتکې لګیا دي په لمړۍ کرښو کې د ملتاني په ځواکونو بمبار کوي. سعودي ځواکونو همدارنګه کابل ته د راتګ په ټولو لارو ماینونه فرش کړي. اوس که لمړۍ خط مات هم شي نو د ملتاني ځواکونه به ونشي کړای هوایي ډګر ته په وخت راورسیږي.))

د قاري صيب خبرې چې خلاصې شي نو توریالی ووايي: ((په مونږ بیا تاریخ تکراریږي. زمونږ په هیواد تل نورو حکومتونه کړي. کله به ترکان راغلل په مونږ به یې پاچاهي کوله او مونږ به د دوی جنګونه کول. کله به عرب، کله فارسیان، کله مغول او کله نور. دا ځل په یوویشتمه پیړۍ کې هماغه تاریخ بیا

تکراریږي. یوې خواته الهاشمي دی او بلې خوا ته ملتاني. په مینځ کې یې پښتانه تباه شول. که په حساب شي نو ټول بهرني ځواکونه به د پښتنو د نفوس یو سلنه هم نه وي. خو نن دوی په پښتنو حکومت کوي او پښتانه هم ښه په خوشالی د دوی فکري غلامي کوي. افسوس زمونږ په جهالت.)) د توریالي خبرې لا خلاصې نه وې چې میدان ته یو زیات شمیر موټر راننوځي. قاري صیب ووایې چې د سعودي عسکر له لمړیو خطو دا دی راورسیدل.

اول د جنوب او غرب د لمړیو کرښو سعودي عسکر او سعودي مجاهدین راورسیږي. هغوی شپږو الوتکو ته وخیژي او روان شي. نیم ساعت وروسته د خیتځو کرښو څخه هم سعودي عسکر او سعودي مجاهدین راورسیږي. دوی درې الوتکو ته وخیژي او پرواز وکړي. په یوه الوتکه کې د ابو احمد کسان کښیني او پاتې څلور الوتکې خالي ولاړې وي.

ابو احمد لا په ترمینل کې له مونږ سره ولاړ چې د سعودي د جنګي الوتکو قومندان ورته راشي او څه ورته ووایي. زه قاري صیب ته ووایم چې د دوی خبرې راته ترجمه کړي. قاري صیب ووایي: ((د جنګي الوتکو قومندان ابو احمد ته وویل چې له لسو زرو عسکرو څخه یوازې یو نیم زر ژوندي پاتې او د کور په لور روان شول.))

ابو احمد ډیر خفه شي او ژر پخپل سټلایټ ټیلیفون زنګ ووهي. قاري صیب لږ وروسته راته ووایي چې ابو احمد د سعودي له باچا سره مخامخ خبرې وکړې. هغه خراسانیانو ته سخت غصه دی. ابو احمد ته یې ویلي چې خراسانیانو په مونږ له شا نه وار کړی مونږ به هم ورسره پوهه شو. بیا یې ورته ویلي چې روس به د دوی کار وروکړي.))

دغه قومندان بیا ابو احمد ته څه ووایي. قاري صیب یې ترجمه کړي او راته ووایي: ((دغه قومندان ورته وویل چې مونږ نور نشو کولای د ملتاني ځواکونه ودروو. هغه پښتانه جنګیالي چې اوس لمړئ کرښې ساتي که راغواړې نو همدا یې ښه وخت دی. کنه وروسته بیا نشو کولای. ابو احمد په ځواب کې ورته وویل چې اوس وخت نشته. په نیم ساعت کې روسي الوتکې رارسیږي. دوی دې اوس خدای وژغوري. مونږ یې نشو ژغورلای. بیا مسکی شو او ورته یې وویل چې ځه دوی هسې هم د شهادت شوقیان دي. مه کوه چې دا ارمان یې پوره شي.))

بیا ابو احمد مونږ ته راشي او قاري صیب یوې خواته بوځي او پټ څه ورته ووایي. وروسته قاري صیب مونږ ته راشي او راته ووایي: ((ابو احمد راته وویل چې سعودیان خراسانیانو ته سخت په قهر دي. دوی پښتانه د سعودي د اته نیم زره عسکرو او یو زیات شمیر مجاهدینو قاتلین ګڼي. ځکه نو مونږ سعودي ته نشو تلای. ابو احمد به مونږ سره دوبۍ ته لاړ شي او له هغه ځایه به مو امریکا یا اروپا ته ولیږي. د ابو احمد په وینا په اسلامي بالخصوص عربي هیوادو کې خراسانیانو ته په ډیره ټیټه سترګه کتل کیږي او ژوند به مو هلته ناممکن وي. بهتره به دا وچې اروپا یا امریکا ته لاړ شو. هلته انسان ته د انسان په سترګه کتل کیږي که د هر ځای وي. بل هلته یو انسان د بل انسان په ژوند کې مداخله نه کوي او ژوند به مو آرام وي.))

د قاري صيب خبرې چې خلاصې شي نو توريالی په غصه ووايي: ((هيواد مو په اسلام قربان کړ، ميليونونه پښتنو د اسلام په نوم سرونه ورکړل خو بيا هم مسلمانان له مونږ نه نفرت کوي؟ مړه هم مونږ شو او ږې هم مونږ. که مو هيواد جوړ وای او د کفر نظام هم پکې وای نو دې مسلمانانو به مو نن عزت کاوه. ريښتيا هم څوک چې د هيواد په ځای په عقيده غيرت کوي همداسې به سپک، خوار او ذليليږي.)) زه او قاري صيب سرونه ټيټ واچوو او توريالي ته هيڅ ځواب ورنکړو. مونږ ولاړ يو چې د ابو احمد يو کس راشي او قاري صيب ته څه ووايي. قاري صيب بيا مونږ ته ووايي چې ځئ چې الوتکې ته خيژو د روسانو رارسيدو ته شل دقيقې پاتې دي.

ماښام ناوخته مونږ ټول هم الوتکې ته وخيژو. پاتې خالي الوتکې تر مونږ مخکې لاړې شي. زمونږ الوتکه چې پورته شي نو ټولې جيټې هم راپورته شي. لا د کابل په سر تيريږو چې لاندې په قطار روان برقونه ووينو. داسې ښکاري چې د ملتاني ځواکونو لمړی کرښې ماتې کړې وي، او د ميدان خواته په تيزي روان وي. چې څنګه د کابل ښار له فضا څخه تير شو نو الوتکه مو يوه زورورره ټيله يا جټکه وخوري او د يو څو ثانيو لپاره شاوخوا تياره داسې رڼا شي چې ته به وايې ورځ ده. وروسته رڼا ورو ورو بيرته تياره شي.

څو دقيقې په الوتکه کې خاموشه خاموشي شي. وروسته قاري صيب له مخې نه راشي او مونږ ته په ژړغوني اواز ووايي: ((روسي ځواکونو په کندهار، کابل، خوست او جلال آباد اتومي بمونه غورځولي. ميليونونه خلک مړه شوي او ميلونونه نور به په راتلونکو ورځو او هفتو کې د مضرو وړانګو په وجه مړه شي.

د اولاد مرګ د روس ولسمشر سم ليونی کړی وو. سعودي په هوښياري ځان خلاص کړ او مونږ يې د بلا په خولې کې ورکړو. روسانو هم په مونږ ښه زړه يخ کړ. پښتنو د عربي دين لپاره له ټولې دنيا سره دښمني شروع کړې وه ځکه نو نن د پښتنو د پوښتنې هم څوک نشته.

يو وخت به خلکو ويلې چې څو چې پاتې يو افغان وي تل به دا افغانستان وي. خو افغانستان خو پخوا لاړ دا دی اوس خراسان هم لاړ. په مونږ دا هر څه د خپل جهالت په وجه کيږي. د ناليدلي جنت لپاره مو دنيا په نورو دوزخ کړې وه. خو نن د دنياوالو حوصله خلاصه شوه او له مونږ نه يې ځان خلاص کړ. پښتون خپل جهالت ورک کړ.))

قاري صيب دا خبرې وکړې او يو څو ثانيې غلی شي. پدې وخت کې الوتکه يو ډول غږ شروع کړي. قاري صيب ووايي: ((د کابل بم زمونږ الوتکې ته هم تاوان ورساوه ځکه د چاودلو په وخت کې مونږ لا د خطر په سيمه کې وو. پيلوټان کوښښ کوي چې دغه ستونزه حل کړي.))

قاري صيب لا خبرې کوي چې غوتې مونږ ته ووايي چې د الوتکې وزر اور اخيستی. چې له کړکی وګورو نو ووينو چې ريښتيا هم د الوتکې چپ انجن اور اخيستی وي. څو ثانيې وروسته يو درز وشي. د الوتکې نيم وزر له مينځه لاړ شي. الوتکه له کنټروله ووځي او د ځمکې په مخ په تيزي غورځيږي. چې څنګه ځمکې سره ولګيږي نو زه هم له خوبه راويښ شم. شکر وباسم چې حقيقت نه وو.

Download from: aghalibrary.com

د هیواد حالاتو ته چې ګورم نو هغوی ته چې له هیواده عقیده ډیره ګرانه ده کیدای شي یوه ورځ مونږ له دغسي حالت سره مخ کړي. د پردیو د ګټو لپاره خو د جهاد په نوم لکه کرایي بدماشان هسي هم جنګیږو. که افغانستان دی، که کشمیر که عراق که سوریه که چیچنیا او که بل ځای زمونږ جاهل افغانان به ووینې چې پکې جهادونه کوي. د خیالي خلافت ارمان مو ډیر ځوانان د نظام او دولت دښمنان کړي. د حورو ارمان مو یو شمیر نور لدې دنیا زړه توري کړي. دا اوس هم پردی البغدادي، اردغان، مرسي، حسن البنا، عبدالله عزام، سید قطب او نور لکه الهاشمي او ملتاني خپل مشران ګڼي. پښتون تل یو پردی بادار غواړي تر څو دی یې وفاداره غلام شي. همدا ورته د ثواب کار ښکاري.

د یو شمیر پښتنو فکر ته چې ګورم نو کله کله ډاریږم چې دا خوب مې حقیقت نشي. ځکه چیرته چې عقیده د انسان تر ژونده زیات ارزښت ولري هلته د عقیدې لپاره په هر انساني ارزښت پښې کیښودل کیدای شي.

Download from: aghalibrary.com